# د پښتو په چوپړ کې

ليکونکی:  ډاکتر ماخان مېرزی شينواری

خپرونکی: انجنير شمشاد زهير شينواری

Ketabton.com

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د لوي ښتن په نامه

د کتاب نوم: د پښتو په چوپړ کې

لیکنوکی: ډاکتر ماخان میږی شینواری

جرمني د بون ښار

خپرونکی: انجنیر شمشاد زهیر شینواری

دKetabton.com له لارې.

د خورولو کال: ۱۴۰۰ ه ل کا یا ۲۰۲۱ ع ک

ای مېل: makhan1946@gmail.co

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سرليکونه يا نوملړ


سريزه ۴
په ليکنو ګوتنيونه ۵
پښتوته ناسم راننباسلشوي ويونه ۱۱
له څه سره چې مخامخ کيږو ۱۶
ګڼ شمېر ۲۲
په هکله يې د درانه ببرک ليکنه او ۲۴
زما( دما، يما) پوښتنه ۲۶
په هکله يې ليکنې او ځوابونه ۲۹
ګڼل او شمېرل ۳۴
Kasus کاسوس يا حالت: ۴۵
درېيو ؟ ۴۹
۱۵ بشپړاند ته ۵۱
پښتو غني کول ۵۳
د افغانستان د علومو اکادمي ا و ۵۹
په پښتو ژبلار کې نوې ميندنې او ۵۹
ګرانو ژبپوهانو ۶۷
کړنډولونه او بدلونونه يې ۶۸
يوه بله ستونځه: ۷۰
دما په ليکنو توند تنقيد ۷۲
د پښتو ځنګه والي، پېر يا حالت ته ۷۸
ژبه نه سوچه کيږي، ۸۲
د ډاکتر م م ش کتابونو ته کتنه 7۳
د ډاکتر ماخام مېږي ليکنې او ژباړې ۹۳
د ډاکتر م م ش ژوند ته لنډه کتنه ۹۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د سریزې په ځای

دا لیکنه د پښتو په هکله ده. ډېر څه به په کې تکرار هم ومیندل شي، خو دوه واره غوټه وراچول محکم وي.

کله کله سړی یوې لیکنې ته سټړی شي، نو زه هم د دې سریزې لپاره سټړی یم.

هیله ده، چې راته برګ به نه شي. یوه اوږده لیکنه مې برابره کړې وه، خو نور مې ونه غوښتل دلته یې راوړم. ستاسو له سړې سینې خوښنهاو راته ټول روغ او بریالي اوسئ.

اخرنۍ هیله مې دا ده، چې د کتاب لوستلو سره سټړي نه شي.

دما برېښناپته شته او تل مو هرډول ګوتنیونې خوښېږم.

د سمون شونتیا تل شته، خو دابه یواځې انجنیر صیب شمشاد زهیر ته داسې څه زحت ورکوو. کور یې ودان.

دما لیکنې هلته ډېرې ښې خوندي او همداسې پوره لوستل کیږي هم.

.

.

.

.

.

.

.

(c) ketabton.com: The Digital Library



.

# په لیکنو ګوتنیونې

لیکل- لو ستل او موخې یې

پوهېږو، چې څوک لیکنه کوي، که پوهنیزه، سیاسي او یا بله مسلکي یا نامسلکي لیکنه وي، نو موخه یې هرو مرو داده، چې اندونه سره ګډ او لیکنه یې ګټوره تمامه شي او بل څوک یو څه ترې زده کړي.لوستل هم همداسې، د دې لپاره، چې د بل له لیکنو ګټه پورته کړي او یوڅه ترې زده کړي.

---په پرمختتلو هیوادونو کې لیکل او لوستل په پوهنیز اړخ کې معیاري شوي، هر څه او هر مسلک هغه خپله لار لري، نو هره پوهنیزه لیکنه او لوستنه هغه خپله موخه پوره کوي.

که په لیکلو او یا لوستلو کې ستونځې ولري، نو هغه د بنسټیزو کتابونو او لکسیکاو له مخې ځان او بل ته دا ستونځوبې روښانه کولی شي، همداسې د نورو په لیکنو بیا هم خپل اند څرګندوي او که څه یې په اند او په پرېپوهېدنه ناسم وي، نو هغه بیا په خپلو لیکنو کې سموي، د پوهنیز دلیل په بنسټ. په دې ژبو کې ګوتنیونه په دې موخه نه ده، چې یو بل دې سره زړه بدی کړي، ځېل ځان پوه او هغه بل ناپوه وښايي او نه یې د لیکنو مخه ورنیسي، موخه جوړول دی او نه خرابول.

د پوهنیزو لیکنو سره مو ستونځې

--- موږ په افغانستان کې، د افغانستان لیکونکي او لوستونکي د پوهنیزو لیکنو سره د پوهنې له اړخه پوره ستونځې لرو او دا مو بیا په پوهنیزه لیکنو کې د لوستونکو د ستونځو له املـه راڅرګندیږي.

ولې او څنګه؟

زه به یې د درې پوهنیزو ریښو په اړه خپل اند له تاسو سره ګډ کړم.

ټولیز: دموږ پوهنیزې لیکنې پخپله د پښتو سره ستونځې لري او هغه په دې پرېپوهېدنه چې، هغه په عربي او لږ یې په فارسي دي پرته له ترنویونو او ژبلاریزو غونډالو څخه. په ډېره بخښنه به دا خبره کړم او یوڅو بېلګې به یې راوړم، چې څومره پښتو په کې لرو:

(c) ketabton.com: The Digital Library



بېلګې

۱ - دایره: منحني خط چې یوه سطحه محدودوي، له یوې نقطې، چې د ګردۍ مرکزي نقطه ده، د دایرې د محیط د تمام نقطو سره مساوی فاصله ولري، چې شعاع بللکیږي، دایره ده. خط، چې د دایرې له مرکز څخه عبور کوي د دایرې قطر، خط چې له دایرې قطعه بیلوی، وتر، منحني، چې د وتر دوه طرفه سره وصلوي، قوس، له قوس او وتر څخه محدوده سطحه د دایرې قطعه ده.

۲ - مثلث: له درې مستقیموخطونو محدوده سطحه مثلث دی، یعنې سطحه چې درې زاویې او درې ضلعې لري، مثلث دی.

باور لرم، چې تاسو ګرانلوستونکي به یې هېڅ نه یاستئ هکپک کړي، خو زه ورته ځکه هکپک یم، چې پښتو په کې نه ګورم، له هغه تېرنویونو .. نور څه داسې د ژبې بنسټیز ویونه په کې نه وینم. ښه پام ورته وکړئ.

په پورته بېلګو کې که د پښتو ونډه وګورو، ډېره کمه ده او دا هغه له پوهنې څخه لرې پښتانه هم کاروي، خو هغه د کار او پوهنیز څه چې نومونه او د یو څه روښانونه پرې کیږي، هغه مو پښتو نه دي، دا په دې پرېپوهېدنه، چې پوهنه مو په پښتو نه ده او سوچه بوچه په پښتو نه ده، که فکر ورته وکړو. دا مو هغه تر یوې پولې پورې، ماته داسې لږ روښانه پوهنیزو ریښو کې څرګند شوي.

په فزیک کې هم همدا حال دي. تاسو دفزیک کومه غونډاله پخپله کتلی شی، چې څومره پښتو په کې ده.

راځو پښتو ژبې ته:

دموږ ډېرى پښتانه په دې اند دي، چې پښتو باید سوچه شي، چې ما هم ځني کسان په دې ډله کې ورګډوي. زه په دې اند یم، چې هېڅ یوه ژبه نه شي سوچه کېدی، ځکه چې یوه ژبه هرڅه نه لري، نو له نورو ژبو به یې راپوروي، په ځانګړې توګه په پوهنیزو ریښو کې.

له ما تل کارول شوې بېلګې: دموږ ژبپوهانو د د عربي مایع لپاره اوبلن غوره کړی. موږ بهېدونکی لرو، نو دا اوبلن ناسم دی او دا یواځې او یواځې د واورو خوي دي او بس.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بله بېلګه: دمونږ ژبپوهان د ژبې د سوچه کېدو لپاره هغه په پښتو نه پرېپوهېدونکي یا نه پښتوکېدونکي ویونه هم په ناسمو ویونو سره غواړي سوچه کړي، د بېلګې په توګه، دمونږ زیات لیکونکي د ستاندار یا معیار، سویې، سطحې او نورم ټول لپاره کچه کاروي، چې پوره ناسمه ده.

پام: هره ژبه چې له پیدایښته څه لري، هغه پښتو هم هرومرو لري، چې ځانګړني به یې ډېرې کمې وي، نو کوم نوم یا کوم ویې، چې تراوسه پورې مونږ په پښتو کې په ګومان چې نه لرو، شته، خو دا باید ومیندل شي، چې دا ویيونه هغه مسلکي کسان میندلی شي، یا یې باید ومیندلی شي او بله ډېره اسانه لار یې دا ده، چې د یوې وتلې ژبې لېکسیکا کې یې وګوري..

د مونږ په ژبه کې ستونځې. ولې؟

ژبه مو نوې پوهنې ته وردانګلي او پوهنه مو نوې ژبې ته راننوتې یا دا سې لږ سر ورڅرګند کړی. که پورته بېلګه وګورو، نو همداسې به ترې وپوهېږو، چې داسې لږ یې سر ور ښکاره کړی. په پورته کې مو ولیدل، چې دمونږ ژبه په پوهنه نه ده اباده او یا دمونږ پوهنه د مونږ په ژبه نه ده اباده.

لنډ: پوهنه مو په پښتو نه ده.

څه کیږي؟

-- دا چې پوهنه مو په پښتو نه ده، نو د پوهنې په پښتو لیکل او د اموخت څخه تېرېدل دي او پوهېږو، چې دا کار دمونږ د لیکلوست و پښتنو ته پوره ستونځمن ځکه دی، چې هغه یې دا نابلده پښتو نه شي زغملی او دا ورته د ژبې بدایینه برېښي. دا به د ژبې بدایینه وي، خو په خته کې د بلې ژبې په ویيونو او د خپلې ژبې د ویيونو په ورکېدنه او په ګومان چې ګوندې ډېر وخت نیسي، نو د خلکو پرېپوهېدل لږ ستونځمن ورته برېښي، ځکه چې ده ته نابلد وي، نو په دې اند باید دی هم وي، چې ګوندې دا ټول ورسره ستونځې لري. دا سمه ده. ستونځې شته، خو د دې ستونځوبې ( دې ته به هم لږ برګ شی، خو دا مو تل ژبه کې شته) یې دومره ستونځمن نه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



-- ځنې بیا وایي، چې د پوهنیزو ویبونو په پښتو نه پوهېږي. زه په ې اند نه یم. څوک چې هرڅومره نابلده هم وي، نو پښتون پرې پوهېږي، هغه پښتون، چې د داسې ویلو توان لري چې وایي، نه پرېپوهېږم.

-- ځنې یا زیات یې په دې اند دي، چې ګوندې دا نومونه یاویبونه، چې تراوسه پورې ورسره بلدیو، له دې وروسته دې هم وي. زه په دې اند یم او دا راته اړیین برېښي، چې د پښتو ویبونه باید له منځه لاړ نه شي او خپله ژبه بېرته په ښکلې کړو.

موږ دوه لارې لرو:

١ – پښتو په همدې لار لکه څنګه چې روان یو، بیایو، داپه دې پرېپوهېدنه، چې پرته له ترنوبیونو، نومځاینیوو، اړیکویونو، نور بل څه په کې که د پښتو هم نه شته او وي دې او یا دا پیداښت راکړې ژبه بېرته رامیندو او له مرګه او بېوزلی یې ژغورو. ژبه مو بیوزلې نه ده، خو موږ یې په راژوندۍ کولو سره ځان ته ستونځې پیداکوو. موخه مې د رامیندو څخه داده، چې موږ دا د نورو ژبو پیداښتي ویبونو اندول په خپله ژبه کې هم لرو او دې ته مو دې پام وي، چې جوړوو یې نه. په ژبه کې د نومونو او ویونو جوړول یواځې او یواځې په هغه وخت کې کیږي، چې ته ورته تراوسه پورې څه نه لري او هغه باید هم د هغه څه د خویونو سره سم وي. دنومونو د جوړولو کار د پیداښت سره په تکر کې دی، مګر چې بله لار نه وي. دموږ پخوانیو، نه پخوانیو نه، دا دما د وخت یا له ما یو څو کاله د مخه مشرانو دا کار کړی او هغه ډېره برخه یې ډېره ښکلې او په زړه پورې ده، چې بېلګې یې درملتون، پوهنتون، ښونځی، ښونکی او نور دي، چې دا نومونه هغه څه ټیک په ګوته کوې، چې څه دي، خو بیا هم دا د اوبلن ویل وبهېدونکې ته، داپرې نه پوهېدل دي او د اوبلن خوي ورته نابلد دې. هغه څه چې بهیږي، بهېدونکي دي.

٢ – پښتو به پښتو کوو او د پښتو ویبونه به نه پرېږدو، چې له ژبې مو ورک شي، چې ژبه مو په پردیو ویبونو بډای او خپله بېوزلې کړو.

دا به نو څنګه کوو؟

دا به داسې مخ ته ځو، چې د ټولو پوهنیزو ریښو سره به ځانونه ښه بلدوو او ددې لپاره هرو مرو اړتیالرو، چې یوه وتلې دباندنۍ ژبه، لکه انګرېزي، روسي، فرانسوي او الماني به زده کوو، په مټ به یې له پوهنې سره ځانونه بلدوو، هغه ویبونه به یې د پوهنې او ورڅخه زدکړې په مټه ځان ته ښه روښانه کوو او بیا به یې په ځپله ژبه ورته اندول

(c) ketabton.com: The Digital Library



میندو، چې هرو مرو، له ډېرو لږو پرته، شته دی او داکار د هغې اړونده ریښې کسان میندلی شي.

په دې بیا، بیاتینګار کوم، چې پرته له پورته ژبو زده کړې او ښه زدکړې مو نه پوهنه مخ ته ځي او نه مو ژبه، ژبه کیږي، چې پورته بېلګو کې یې ګورو.

د ځان ستاینه دې نه وي، خو د الماني په مټه دا کار ما کړی.

ما ۵۲ کتابونو ، چې۴۰ یې شمېرپوهنه، درې فزیک او دا نور د ژبې په هکله دي، له ژبلار نیولې تر دنسمونونو په ګوته کونو او سمونونو پورې.

دا کار کېدونکی دی.

له الماني ژبې څخه پوه شوی یم، چې د عربې کړې ته د پښتو انډول غونډوسکه یا غونډاری دی. داکه څوک غواړي او که نه، دا داسې دی او عرب یې هم همداسې بولي، او ورته لیکي: کرةالقدم = پښوغونډوسکه=فوټبال. موږ ګوره پښوغونډوسکې ته کېدی شي خاندو، خو د خندا نه ده او دا خپله ژبه باید د خندا نه کړو، دا ډېر یو غوښتونی او اړین کار دی.

راځی، چې اوس هغه د مخه راوړل شوې بېلګې په پښتو ولیکو:

ګردۍ: ګردۍ په هواره کې هغه رابنده کړه (کرښه) ده، چې له یوه ټکي، داسې په نامه منځ ټکي څخه یې وهر ټکي ته برابر اټن ولري. دا د ګردۍ کرښه، چې منځټکی د ګردۍ چاپېریالټکي سره نښلوي، د ګردۍ وړانګه بلل کیږ، هغه کرښه، چې د ګردۍ د چاپېریال یو ټکي د ګردۍ د چاپېریال د بل ټکي سره داسې نښلوي، چې د ګردۍ له منځټکي څخه تېره شي، د ګردۍ نیمونې ( دا کرښه ګردۍ نیموي) بلل کیږي. هغه کرښه، چې د ګردۍ د چاپېریال یو ټکی د ګردۍ د چاپېریال د بل ټکي سره نښلوي د کردۍ ټوټوونې بلل کیږي. دا له ګردۍ یوه ټوټه بېلوي. د ګردۍ ستره ټوټوونې د ګردۍ نیموونې ده. هغه کړه چې د ګردۍ ټوټونې دواړه خواوې سره تړي، ګردۍ لینده بلل کیږي. د ګردۍ دا کړه کرښه، چې رابنده ده، د ګردۍ چاپېریالبلل کیږي او د ګردۍ دننه هواره د ګردي هواره بلل کیږي.

ګرانو لوستونکو. دا پورته لیکنه کې ما نه کوم جوړشوی ویي راوړی، نه ناپوهوړ وی شته، تول وییونه له پیداښته راسره دي، داپه دې تړپوهېدنه، چې ژبه مو پوهنیزه کېدی

(c) ketabton.com: The Digital Library



شي، خو که ملا پسې راوړوتړو، تر هغې پورې، چې يو ښه دولت منځ ته راخي او هرڅه په غاړه واخلي.

پوهېږم، چې له داسي ليکنو سره يواځې د ما د ليکنو له لارې بلد ياستئ او داراته پوره ستونځمنه برېښي، چې لولی او اورئ يې، خو ګورئ، چې دامه وايی، چې نه پرېږوهېږئ. ماهېځ نوم يا بل کوم ويي نه دئ جوړ کړی. دانومونه او وييونه ټول له پيداښته لرو، خو په پوهنه کې را ځخه پټ شوي.

يوه اړيينه يادونه: دموږ د پخوانيو يادا له ماځخه داسي مشرانو ګوره ټوله زدکړه په فارسي کړې وه، داځه يې چې کړي او داژبه يې د دې پرديو ويونو سره سره را ژوندئ کړې او ژوندئ ساتلي داډېر ستر کار دئ او موږ يې بايد منندوي وو.

د لوي ځښتن مرسته ده، چې اوس موږ داسې له نوروژبو او پوهنو سره بلدېږو او کړی شو، چې ژبه مو ژبه کړو. يو بل به سره نه ډاروو او د توهينېدو خو بايد ډډه وکړو. که ناسمونونه وو، هغه بايد يو بل ته په پوهنيزه دلايلو په ګوته کړو يو بل ته د درناوي په ځلورديوالي کې ګوتنيونې.

يوه بله هيله: دموږ زيات کسان کله، کله داسې کوي، چې يو ځه وګوري، نو سملاسي وايي، چې داخو له دې او هغې ژبې داسې ټکي په ټکي را ژباړل شوی. دا سمه خبره نه ده، چې دې ته د ناسمون په سترګه وګورو. که ژبنيز ناسمون په کې نه وي، خو د يوې ژبې د بلې ژبې وييونه سره همداسې په انډول کې بايد وي. د يوې ژبې غونډاله به په کټمټ انډول وييونو په يوه غونډاله ژباړي او هېڅ ګډوډې به په کې نه راولې، د پښتو ژبلارې په لارو. خو که يو ځه دنورو ژبو په مرسته ليکي، نو هرو مرو به هلته د هغې بلې ژبې ليکنې د پرېږوهېدنې ګټه اخلي او اړ نه يې، چې هغه دې وژباړې. ژباړل او له يوې پوهنيزې خونديونې په ليکنه کې ګټه اخستل، دا يو له بل بېل ځه دي.

هسې مې ورته پام شو. يو ليکونکی ليکي: د کم خونی لپاره هم ګټور دي

نه پوهېږم، چې ولې به دموږ د ليکونکو له پښتو ځخه دومره زړه تور شوی وي، چې د کم خونۍ لپاره هم پښتو انډول نه ليکي؟

## لنډ: پښتوته ناسم راننباسلشوي ويونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



او له ژبپوهانو څخه هیله

پیل یادونه: په لیکنه کې نوي د بام وړ څه هم شته، چې پام مو ورته رااوړل غواړم.

دا لیکنه داسې لنډه، بې له اوږدې شننې راوړم .دا ټولې لیکنې د تاند او دعوت په منلو خپرونو کې خورې شوي او هلته کتل کېدی شي او په ketabton. com زما په همدې نامه کتاب کې راټولې شوې دي.

څنگه پوهېږو، چې دا یا هغه ویې یا غونډاله ولې ناسم دي؟

لومړی :یو نوم، یو وی یا کومه غونډاله، چې د هغه ورکړ شوي نوم یا بل څه اړونده خوي ونه لري، ناسم دی.

بېلگه: اوبلن د بهېدونکو په ځای.واورې اوبلنې کېږې، خو اوبه، شړومبې، شیدې نه اوبلنې کیږي، دا بهیږي او له دې امله بهېدونکې دي. دا مو تل په ورځنې ژبه کې لروده، خو بیایې هم اوبلنوو.

دویم :یو نوم یا بل کوم وی او یا د کومې غونډالې لیکل، چې ټولیز نه وي او ټولیز کېدی نه شي، ناسم دی.

بېلگه: ی او ئ دا د یوه غږ لپاره، چې په دوه بېلابېلو بېگانو لیکل کیږي، نورو بېگانو ته نه ټولیز کیږي یا نه دی ټولیز شوی. نو دا ،، ی،، بسیا کوي یا همدا شته او دا بله ،، ئ ،، په پښتو کې نه شته.

دریم : هغه نومونه یا ویونه، چې د ژبلارې سره په مخامخوالي کې راځي. همدا د یوه غږ له پاره دوه بېگانې او یا د سلم لپاره سلن راوړل، هغه د پیداښت بدلولول دي او ناسم.

څلورم :د هر څه د سم او ناسم له پاره، چې ښوونیز دلایل راوړل کیږي، باید له مخامخوالي خپلواک یا ازاد وي

پنځم: بیا د پورته لنډ :پوهنیز دلیل کوم دي؟ هغه دلیل، چې له مخامخوالي خپلواک یا ازاد وي.

بیا داسې پیل کوو:

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو : سلن نه شته :د سلم له پاره سلن راوړل ناسم دئ .دا د ژبې او شمېرپوهنې له لاري او ټولیز هم نه دئ او دا دې هم په یاد وي، چې دا سلنه شلکلن له ۲۰۰۱ څخه ناسمون دئ، له دې د مخه دا ناسمون نه وو.

دوه :اوبلن : دا هم ناسم د بهیدونکو له پاره کارول کیږي .اوبلن یواځې او یواځې د واورو خوي دئ او بس.

درې : تر : په ټولو هغو ځایونو کې تر ناسم دئ، چې داسې نه وي:

دې لاندې دوه غونډالو ته پسې یادونه وګورئ. په اند مې دلته دما پرېکړه یا قضاوت هم باید بدل شي.

لومړی اړیکوی : له جلالکوټ څخه ترکابل پورې.

دویم ترنوی :په کوټه کې ۲۰ تر ۳۰ کسانو پورې ځایږي.

دریم د مهال یا یو څه پای : تر نهه بجو پورې درځم

بیا : پرته له داسې غونډالو، په بل هر ځای کې ،، تر ،، ناسم دئ.

یادونه : د ما په نوې څېړنه کې د ،، تر ،، مختړی د نومځاینیوي سره د حالت یا څنګه والي په څېر د نوم اوشینوم سره مل راځي، دا په دې پرېپوهېدنه چې د یوه حالت په بڼه راځي او ،، تر ،، کومه خپلواکه پرېپوهېدنه نه لري. یوه بېلګه راوړو:

له ما څخه تر تا پورې. په پورته ،،له ما،، او ،،ترتا،، حالتونه دي، ،، څخه،، او ،، پورې،، اړیکویونه داسې په نامه پسې ځاینیوي دي، چې له امله یې ،، له،، او ،، تر،، خپلواکه پرېپوهېدنه نه لري. بیا هم دا ،، تر،، یواځې او یواځې د همدې اړیکوي ،، پورې،، سره راځي او نورو ځایونو کې ناسم دئ.

څلور : له،، تر ،، سره پرتله کونه : دا هم سوچبوچ نه شي کېدی، زما کتاب کې روښانه شوي او دریم هم وګورئ. له بلې خوا ،، تر ،، خپلواکه پرېپوهېدنه نه لري، نو ورسره پرتله کونه ناسمه ده.

بېلګه: سپین له زرغون څخه ښکلی دئ، خو سپین تر زرغون پورې ښکلی دئ، ناسم دي.

سپین و زرغون ته ښکلی دی. سم او سپین تر زرغون..... هم سوچ بوچ ناسم ئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا: ،، تر،، بې له همدې حالت یاځنګه والي بله پرېپوهېدنه نه لري.

پنځه :ئ : زموږ په پښتو کې داسې ،، ئ، ځای نه لري .دا ژبلار نه ده، چې غږ دې یو او ،، ئ،، دې دوه - یا ان و۱۶ ته هم ر سېدلی شي – وي. ټولیز شوی هم نه دی، چې هغه به یې هم ناسم وی.

شپږ : غونډاله -،،سږکال تر ټولو ډېر انګور شوي،، ، ناسمه ده .. دا هېڅ نه روښانه کوي او همداسې کومه پرېپوهېدنه نه لري.

که ووایو په ټوله کې، دا یو تکیه کلام دی پروا نه لري. په ټوله کې سږ کال ډېر انګور شوي دي یا سږکال خورا ډېر انګور شوي دي یا سږ کال د تېرو کلونو سره په پرتله ډېر انګور شوي دي یا سږکال وتېرو کلونو ته ډېر انګور شوي دي.

اوه :،،تر ډېره بریده یا ... پولې،، او هم یا ،،تر ډېرې کچې،، ناسم دي. ډېر برید یا پوله نه شته، خو له برېده یا پولې ډېر شته.

اته : کچه موږ زیات وخت ناسمه کاروو. د ستاندارد یا معیار، سطحې او سويې له پاره یې کارونه ناسمه ده.

لاندې به یو څو ویونه راوړو، چې نوم او اړیکویونه دي او تل باید په لیکلو کې پام ورته وشي.

.نوره کارونه یې د اړیکوي ده.

نهه :منځ یا منځټکی :یواځې د یوه شي یا یوه څه هندسې منځ باید وي.

نور منځ اړیکوی دی.

لس: مخ .په مخ یې دانه ده .چې پرته له داسې کارونو، چې فزیکي مخ دی، نور کارول یې اړیکویونه دي .مخ - یا مخې ته ، دمخه، مخ – یا مخه کې، خو ترمخه سوچبوچ نه شته او همداسې تر مخکې.( که په مخ کې یا ښه یې وي، هغه بیا سږی پرې پوهیږي، خو ،، تر،، ورسره بیا هم ناسم دی) دا تر خو ناسم او دا مخکې هم کلیوالي ویینه ده.

یولسم: همداسې څنګ او شا .په دې پوهیږو، چې کله فزیکي او کله دا فزیکي څنګ او شا موخه ورځخه نه ده. دا نور نه غزوم.

دا هم ناسم دي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



دولسم: روغتون، چې موږ د ناروغانو ځای ته وایو ناسم ډی .سم یې ناروغتون، رغنتون یا رغنځی دي. رغنځی بلل یې ماته ډېر ښه برېښي. که وخت یې وي یا راغی، نو دا باید بدل شي.

دیارلسم: د کورنیو چارو وزارت ناموخور دی، موخوریې د دننیو چارو وزارت. د کورنیو چارو وزارت هم باید وي.

څوارلسم: بهاند. دا د بهېدونکي یا بهونکي په ځای راغلی. ښه برېښي، خو ناسم به یې ځکه وبولم، چې دا ترې پوهېدنې یې باید دوه وي. که دچا د کورنی نوم وي، خو هغه یې خپله خوښه، خو په لیکنه او ادبیاتو کې د کاروني لپاره ناسم دی. ژبلار ته دې پوره پاملرنه وي، چې دا تولیز کېدی شي یا تولیز دی او که څنګه؟.

پنځلسم: همداسې بشپړاند، چې نه پوهېږې، دا بشپړونکی دي او که بشپړېدونکی.

شپاړسم: له دباندې ناسم رانیولي وییونه:

واحد څه ته وایي؟

موږ واحد پوره ناسم کاروو. سمه نه ده. پیداښت موږ ته هم په خپله ژبه کې پیداښتي څه راکړي.

لنډ:

یو متر = one metre = (واحد متر). کېدی شي دا المترالواحد ولیکلی شي( نه پرې پوهېږم، کړی شي راته سم یې کړی)= ۱ م =1m

یو یا واحد یا انګرېزي one یو ګڼ دی لکه ۲ ، ۷ ، ۱۲۰ او بس یو ګڼ. کومه اله نه ده.

متر د اودوالي لپاره unit دی، پښتو یې یوون او عربي یې وحدة دي. دا د یوه ټاکلي اوږدوالي لپاره اله ده او دا ټاکلی اوږدوالی هم متر دی، چې د اوږدوالو څومره والی په کچوي نه ګڼ او نه یو او نه واحد او نه one او په هرځای کې همهغه اله ده یا انډول. دا بیا لوي او وړې برخې لري، چې د بېلابېلو شیانو لپاره له دوی څخه انډول یووالی ټاکلشوی دی.

که ولرو: پنځه افغانی، نو پنځه ګڼ دی او د دې لپاره افغانۍ یو یوالی یا وحدة دی او نه ګڼ دا په دې پرېپوهېدنه چې نه یو او نه واحد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلته مي يو څو بېلګې راوړې، نور په Ketabton. Com کې، كه ګران لوستونكي، د دې اونورو سمونونو سره مينه لري.

يوه يادونه :

دا ما ته يوه بابيزه او بې ارزښته ليكنه اوګوتنيونه نه برېښي، دا مو ژبه ده، څوک هم چې دا ژبه ناسمه كاروي، بايد سمون ته راوبلل شي

موږ پوهنيز مركزونه لرو .له هغو څخه غواړم، چې دا په غور وګوري او هر يو چې ناسم وو، دا په دې مانا چې كه يو هم، نو دوي حق لري، چې ما ته مناسبه جزا وټاكي او سمه ستره جزا به داوي، چې دوی راڅخه د ډاكترۍ شهادتنامه واخلي او كه نه، نو بيا دې راته د ژبپوهنې ډاكتري راكړي، دا پرې ارزي.

او له ټولو ليكلوست خاوندانو هيله كوم، چې د دې پرېكړې ملاتړ وكړي، دا د هر يوه كار دئ او ټول د دې ناسمونو سره ګير دي، د علومو اكادمي د پښتو څانګې او پوهنتونونو پوهنيز كادرونه دې دې كار ته راوبولئ .

په پای كې دې د يوې يادونې اجازه وي او هغه دا چې :دا پوهنيزه ځانونه نه ده، چې په يوه پوهنيزه ليكنه، د سمې او ناسمې پرېكړه وغواړو او موږ ورته چپه خوله پاتې شو، كه په هر لامل هم وي .

تاسو ژبپوهان دې پرېكړې ته په مينه رابولم.

باور وكړئ، چې زما ملګري او پېژندكلوي، چې ښه عالمان او په ژبه كې وتلي كسان دي او سلنه يا بهېدونكو ته اوبلن ووايي او دا ،، تر ،، ناسم وكاروي، ډېر زورېږم .او رښتيا ډېر زورېږم .كه دوي ته دا سم برېښي، نو زه به د دوي له پاره هم ارام شم، هغه دې موږ ته دا راوښايي، چې كوم پخواني او كوم جوړشوي دي، كوم سم او كوم ناسم دئ.

موږ كره پښتوپوهان او ليكوالان لرو، چې هغوي هرومرو مرسته كولی شي، چې لږ ترلږه ماته زما د ليكنو ناسمون را په ګوته كړي او دا مرسته راسره وكړ، چې تل به مو مننداوی يم.

دتاسو د ټولو له سرې سينې ډېره مننه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## له څه سره چې مخامخ کیږو، باید چې په نوم یې په پښتو هم وپوهیږو

د نوو یا لږ نوو شیانو سره چې مخامخ کیږو، نو دا اړیینه ده، وپوهیږو، چې دا په پښتو څه بلل کیږي.

په ژبه یا ژبو کې ویونه څنګه منځ ته راغلي ؟ او یا موږ د څو ډوله ویونو سره مخامخ یو؟

ایا د یوې ژبې ویونه په بله ژبه انډول ژباړلکېدی یا انډول یې لیکلی شو او که څنګه او یا یې همداسې پریږدو، لکه تراوسه مو په ټولو پوهنو کې همغه دباندني نومونه پرېښولي، له ښونځي نیول تر پوهنتون پورې، چې ګوندې ژبه مو نوره ستونځمنه نه شي؟

موږ په ژبه کې منځ ته راغلي ویونه په لاندې درې ډوله وېشو:

لومړی: هغه ویونه چې د پیداښته را سره د اړتیاو له امله منځ ته راغلی یا راپیدا دي. دا ډول ویونه په هره ژبه کې انډول لري. داسې ویونه یاویی، چې په یوه ژبه کې وي او انډول یې په بله ژبه کې نه وي، ډېر کم دي. دا سې کېدی شي، چې د یوې ژبې یوه وي ته په بله ژبه کې څو انډول وییونه شتون ولري.

دا ځکه داسې ده، چې د هرې ژبې ویونکي دا له سره مل ستونځې همغه ستونځې دي.

موږ چې په پوهنه کې نومونه کاروو، نږدې ټول یې عربي دي او موږ یا زموږ پوهانو دا جرآت نه دی کړی، چې د دې عربي وي لپاره پښتو انډول ولیکي او یا شاید په هغو وختونو کې به داکار ستونځمن وو، ځکه پوهنه مو باید د لومړي ځل لپاره له عربي یا فارسي رانیولې وی، چې له هغه وخته یې دا پښتو راته اړیین یا د پښتو انډول راته- لکه اوس هم - نابلد برېښېده.

بېلګه: پښتو غونډوسکه یا پنډوسکه او که غواړی توپ، الماني او انګرېزي یې بال، چې د عربي د کرې سره انډول دي. باور وکړی، چې ما افغانستان د علومو اکادمي، نصاب او د پوهنتون له استادانو پوښتلي، چا یې راته سم ځواب نه دی راکړی پرته له یوه ملا صیب څخه چې هغه په عربي پوهېده.

موږ ته دا خپله غونډوسکه داسې لږ همداسې بې ځایه یا کم ارزښته برېښي یا همداسې د لوبو یو شی، چې ګوندې دا په پوهنه کې غواړي، چې په ځمککچپوهنه کې د کارولو ښه نه راته برېښي، ځکه ورسره بلد نه یو، خو کره یا بال همدا شی دی، که غواړو او که.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دویم : د هغو شیانو نومونه، چې د تخنیکي ودې سره جوړشوو شیانو نومونه دي. دا زیات یې هغه نومونه دې، چې د دې جوړ شوي، جوړوونکو کسانو ژبو څخه منځ ته راغلي، چې زیات یې د همغو ژبو د پیداېښتي ګډوله نومونو څخه موخه ور جوړ دي.

په پوهنیزو نومونو کې هم داسې ده، چې هر نوم د خپل ځان لپاره یو کره پېژند لري، چې د همغه پېژند له مخې دا بیا د یوې ژبې وی یا نوم د بلې ژبې د نوم سره د اړوند له مخې پرتله کیږي. راځې چې وګورو، چې په پښتو کې دا نومونه څنګه برېښي؟

زه دا د نومونو اړوند د شمېرپوهنې څخه ستاسو مخ ته ږدم. دلته تاسو یواځې یو څه ته وګورئ، چې دا سم دئ او که؟

دا چې دا په پښتو کې سختیږي او که اسانیږي، ورځنی دې شي او که؟

په دې سملاسي پرېکړه مه کوي، دا د روښانونې په څېړ ولولئ او فکر یې په سمون او ناسمون وکړئ.

موږ به دا په لاندې ډول روښانه کړو، چې یو ویي څنګه ویيکتاب یا ډکشنري کې روښانه او شنل کېدی شي:

له پیله یوه یادونه: دا چې په مسلکي اړخ کې دا اړیین دي او که،نه؟ دا بله خبره ده، خو دا له دې امله غوره دي، چې په پښتو ژبه کې یې اړوند څه شی دئ او دا لړ ترلړه د ژبپوهانو د مینې سره سمه وي.

بېلګه : function (لاتین ویي دئ خو دې نورو ژبو هم دا نیولی او د خپلې ژبې اړولی یې هم ورته لیکلی او په ورځني ژوند کې پرې پوهېدنه یې دنده ده): په شمېرپوهنه کې موږ د انګرېزي د function او الماني die Funktion دا وییونه په خټه کې لاتین دي اوعربي تابع څخه چې دا څه شی دې او د پښتو اړوند به یې څه وي؟

د فنکشن مانا په ورځني خبرو کې دنده ده، خو شمېرپوهنه کې فنکشن ته په انګرېزي mapping وایې او الماني کې فونکڅیون ته die Abbildung ( دې ته دې پام وي، چې ځنې شرطونه په کې شته، چې هغو ته موږ دلته ګوته نه نیسو) وایې. د دې اړوند په پښتو کې څېرونه ده. په عربي چې موږ یې کاروو تابع ورته وایې، چې په پښتو د څېرونې اړوند ترې پوهېدنه نه ده، چې روښانه به یې کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پېژند يې: فنکشن د يوې ډېرۍ هرتوکي د يوې بلې يا همغځ ډېرۍ په ټيک يوه توکي ځبره کوي، يعنې په الماني اببيلدن کوي او انګريزي يې مېپينګ کوي او موږ ورته اړين بايد ووايو چې ځبره کوي. نورې پېچلتيا پسې نه ځو، خو دلته پوهېږو، چې په پښتو به دې ته ځبرونه يا ځبره کونه ووايو.

f : x -> y

په خواشينۍ بايد ووايم، چې زه دا ايکس توکی دی، له لوي ايکس او داسې نور نه شم ليکلی، خو موخه مې ترې شمېرپوهنيز څه هم نه دي، روښانه کوو.

په پورته کارونه کې د ايف دنده ده، چې ايکس په اپسېلون ځبره يا مېپينګ يا اببيلدن کړي، نو له دې امله دې کارونې ته په انګرېزي مېپينګ، الماني ابېلدونګ، چې پښتو اندول يې ځبرونه يا ځبره کونه ده او نه بل څه.

په پورته کارونه ايف کې ايکس او اېپسيلون دواړه واريابلې، عربې يې متحولې، چې پښتو اندول يې اووښتونې يا بدلېدونې دی. اېکس خپلواک او ايپسېلون بلواک دی، ځکه چې د اېپسيلون ارزښت د ايکس په واک کې دی.

دا چې په عربې کې ورته تابع، وايې موخه به يې ترې اېپسېلون وي، چې هلته ځبره کيږي او هغه د ايکس تابع دی، نور – لکه د انګرېزي او الماني په ځبر- نه پرې پوهېږم.

اوس به نو دا په پښتو داسې ووايو: کارونه ( زما په اند چې اړيينه به نه وي، چې عمليه ورسره وليکم) ايف ايکس په اېپسېلون ځبره کوي يا د ايف کارونې سره ايکس په اېپسيلون ځبره کيږي. چې لومړۍ يې خپلواکه او دويمه يې بلواکه اووښتونې ده ( اوړېدونې نه ليکم، ځکه چې اوړېدونې يو بل څه ته وايي که يوه کړه ولرو او هلته يو موټر ځي او داسې يوځای يا ښه يې ټکی راشي، چې دا موټر په دې ټکي د لور څخه واوړي يعنې لور داسې بدله کړي، چې په کړه پاتې شي، نودې ته اوړېدنه او دې ټکي ته اووړونټکی ( په الماني کې ورته Wendepunkt ونديې پونکت وايی او عربي کې نقطه انعطاف وايي( په ورځنۍ خبرو کې وايو، چې هغه انعطافمنونکی نه دې په دې ترې پوهېدنه يا مانا، چې له خپلې خبرې نه اوړي)) وايو). دا اووښتونې او اوړېدونې به سره په همغه پرې پوهېدنه وي، خو که په شمېرپوهنه کې يې غواړو وکاروو، نو بايد د کارونې موخې يې سره توپير کړای شو، ځکه يو نوم په پوهنه يا شمېرپوهنه کې د دوه شيانو لپاره نه کارول کيږي.

يا د فنکشن دا پېژند لنډ بې له بېلابېل دولونو: په شمېرپوهنه کې فنکشن يا ځبرونه د دوه ډېريو منځ کې اړيکي دي، چې د يوې ډېرۍ ( د خپلواکو اووښتونو ډېرۍ، د خپلواکو ارزښتونو - ) هر توکی د بلې ډېرۍ (ځبره ارزښت ډېرۍ، بلواک - ، اووښتونې -، بلواک

(c) ketabton.com: The Digital Library



ارزښت -) په ټیک یوه توکي څېره یا تنظیم شي. دا د فنشکن کلیمه په ادبیاتو کې په بېلابېل ډول پېژندل کیږي یا بېلا بېل پېزندونه ورکول کیږي. موږ یې نور نه څېړو.

راځئ چې اوس لنډ یو بل شمېرپوهنیز نوم هم وڅېړو:

دفرنشلشمېرنه: دا د لاتین څخه دی، پښتوانډول یې کمښتشمېرنه راځي او په شمېرپوهنه یې کارونه په نږدې همداسې موخې ده. دا په هره ژبه کې د همغې اړوند موخې له پاره کارول کیږي، چې په ګوته کوو یې.

انډول یې یا ښه بلل یې عربي مشتق، الماني die Ableitung او انګرېزي یې derivative دي، دا څه کارونه ده؟

لنډ: په دې کارونه کې د څېرونې- ارزښت یا فنکشن - توان په یو کمیږي. دا په دې ترې پوهېدنه، چې د ارزښتډېرۍ توکی په یوه توان راکمیږي، له دې امله یې د پښتو انډول هم رابېلېدنه ده. په دې نورو دوه ژبو خو پوهېږم، چې انډول یې رابېلیدنه ده، خو ګومان مې دی، عربي کې به مشتق هم - چې اشتقاق به په کې راځي- د رابېلېدنې په پرېپوهېدنه وي.

دا بېلګې لږ ستونځمنې دي. راځئ چې یوه ساده بېلګه یې هم راوړو.

موږ په ښونځې کې مثلث لوستلی او باور وکړئ، چې په هغه پښتو انډول پرېپوهېدنه یې دا اوس هم نه پوهېږم، خو د الماني او انګرېزي نومونو په پرېپوهېدنه یې پوهېږم، تاسو سره یې ګډوم.

انګرېزي یې triangle، الماني یېdreieck

دلته له همدې سره له دې ستونځې مخ شو، چې د انګرېزي انګل خو په الماني کې وینکل Winkel ده، نو دا څه خبره شوه.

په المان کې له کرښو رابند جوړښتونه لکه پښتو کونجونه او ګوډونه ( Ecke) لری، چې د کونج انډولی وینکل او ګوډ انډول یې اېکې Ecke دي او په انګرېزي کې لکه فارسي کې هم یواځې انګل یا زاویه لرې. دا په دې ترپوهېدنه چې په پښتو کې هم دننۍ کونج او دباندنی ګوډ دی( موږ ورته د کندهار شاوخوا ځایونو دي ته ګوټ هم لرو، خو نه پوهېږم، چې هغه هم همدا ګوډ دی او که څنګه؟ دا به ژبپوهانو ته پرېږدو).

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما له دې امله دامثلث د الماني ژبې په څېر درېکونجی نه دی لیکلی او انډول يې درېګوډی دی. يو چا راته وويل، چې ګوډ خو ګوډ ته وايي ، دا په دې پرېپږو هېډنه، چې يو څوک ګوډ ځي. زماځواب وو چې څوک پښه سمه نه شي غزولی ګوډ دی او دلته هم چې دا کرښه سمه نه ځي، نو ګوډ جوړوي.

اوس به راشو يو څو نورو تخنيکي نومونو ته:

يو – په فابريکو کې پټۍ دي، چې کار ګر مالونه پرې باندې ږدي، هغه ځغلي او دا مالونه يا شيان له يوه ځايه بل ځای ته وړي.

دوه– چې په مغازو يا سترو پلورنځيو او يا نورو دګڼوګوڼې ځايونو خلک ښکته-پورته کيږي د هغو لپاره هم دا پوړۍ جوړي دي، چې څرخي او همداسې په هوايي ډګرونو کې داسې پټۍ دې، چې هغه تل په خوزښت کې او مسافر يا په دريږي او يا پرې ځي.

درې – دا څېره شوې اله:



په فيسبوک يا مخکتاب کې مې هغه تېره ورځ د لاندې خونديونې سره يوه ليکنه خوره کړې وه. داسې څوک ورسره ډېر خوښ نه وو، چې ګوني زه داژبه سختوم او نوي ويونه پيدا کوم. زه په ژبه کې د نوي ويونو پيداکولو سره سم مخامخوالی لرم او چا چې پيدا کړي هغه هم ټول يا زيات يې ناسم دي، نو له دې امله دا ليکنه( په دې هکله مې کتاب په کتابتون کې کتلی شی او يا په همدې خپرونه کې هم).

پرون مې د بوټ سره ستونځې پيدا کړي. د درځتړونی، راکښنپټری لوېدلی وو. که د تړونې تړنپټری؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



موخه: الماني - Zip verschluss oder Zipp یا Reissverschluss انګرېزي zip fastener یا لنډ zipper ستاسو خوښه، چې په څه ترې پوهېدنه یې په پښتو خانونه وپوهو او که نه او یا به زما ناسمونو چېرته وي؟ زه یې د پښتو د نوم سره نه یم مخامخ شوی.

بیا یادونه: د بلې ژبې هر وي لپاره که د پښتو ویی وي، نو هرومرو دې وکارول شي، دا ساده او د راتلونکو لپاره زر پوهوړ دي.

دریم : هغه نومونه دي، چې د اړتیاوو سره سم منځ ته راغلي، خو دا د هغه چا یا هیواد د ژبې نومونه دي، چې دا نوم په کې د لومړي ځل لپاره کارول شوی او په بله ژبه یې موخه وره ژباړه نه کیږي، چې دا بیا همهغسې نیسو، لکه د عربي معیار ، چې د لاتین د ستاندار( ایستاندارد ناسم دئ) سره انډول دئ.

زموږ پښتانه لیکوالان غواړي، چې دا معیار یا ستاندار هم په پښتو کړي، خو دا په پښتو کې انډول نه لري، لکه په دې نورو ژبو کې برته له عربي، چې زما په ګومان ستاندارد او معیار سره انډول دي.

خبره اوس دا ده، چې موږ پښتانه د هغو ویونو لپاره، چې انډول یې هرو مرو شته وي، په پښتو انډول ولیکو او که نه کار ورسره ونه لرو، لکه تراوسه مو، چې ورسره نه دي لرودي او که لږترلږه په هغه انډول یې باید وپوهېږو.

یادونه: نومجوړوني هرومرو ناسمې دي. په دې هکله مې د ټولو جوړشوو ویونو یو کتاب لیکلی.

په خواشیی باید ووایم، چې نه یې څوک ردوي او نه یې هغه زیاتو یې په خپلو لیکنو سم کړي، بیا یې هم وګوری.


زما کتابونه هم وګوری او که څه درته ناسم برېښېده، نو اندونه به سره ګډ کړو، ژبه د ټولو ده او دیوه یاځو کسانو ملکیتنهدی، راځې، چې پهګډه یې ستونځوبي ولټوو، له دې امله مې برېښناپته.

زما برېښنا پته: smakhan1946@gmail.com

(c) ketabton.com: The Digital Library







زماليکنې او ژباړې که د هغه مسلک له مخې درته مناسب او ښې نه برېښي، هغه مو خوښه، خودا چې په دې شمېرپوهنيز او فزيکي نومونو د پښتو په انډول پوه شو، خو داهم اړيين دئ، چې ويې ګورئ او ډېر يې وګورئ، دا ژبمينوال او ژبپوهان هم . سم او ناسم انډول دې يې راته په ګوته کړئ، که مينده مو.

يوه پای يادونه : که چېرې  د ژبې ويونه ډ ډېر وخت لپاره او بيا په پوهنو کې ونه کارول شي، نو دا په ژبه کې له منځه ځي او همداسې به ورورو دا نور هم له کاره وځي، چې بيا د ولس لپاره د ژبې، د خپلې ژبې اړتيا له منځه ځي او دا ژبه پخپله ورورو له منځه ځي. دا اوس هم که تاسو زموږ د پښتتو ليکنې وګورئ، هغه دباندني ويونه هم ډېر کارول کيږي، چې خپله پښتو انډول يې روښانه شته وي. ليکنو ته پام وکړئ، خو ځان ته به هم ګوته ونيسم، چې زه نه پوهېږم، زما ليکنې به څومره له دې املهٔ هم چې دباندني يا د بلې ژبې ويونه نه کاروم، نيمګړې وي او د کوم د خپلې ژبې لپاره مې بايد کوم د بلې ژبې وی کارولی وی. مرستې ته مو هرکلی کوم.

# ګڼ شمېر

( دا څه دي او ياڅه پرې پوهېدنه لري؟)

زه له ډېر وخت څخه را په دېخوا ګورم، چې زموږ ډېر ليکوالان او ژبپوهان دا ،، .... ګڼ شمېر انسانان. ....،، يا يو بل څه خو ګڼ شمېر ليکي.

زه يواځې دومره پرې پوهېږم، چې د ليکونکي موخه به څه وي، خو زما موخه په موخه کې نه ده، موخه د دې دوه ويونو ګډه کارونه کې ده، چې څه ترې پوهېږو.

ما ته خو دا ،، ګڼ شمېر،، څه نه وايي او يو بېځايه او بېموخې د ،، ګڼ،، او ،، شمېر،، سره يوځايکېدو کارونه ده.

زه خو په دې نه پوهېږم، چې ،، ګڼ شمېر،، به څه وي. زه په دې اند يم، چې دا ليکونکي يې هم په ترېپوهېدنه نه پوهېږي، چې څه به وي، خوخوند يې ورکړی او ليکي يې. په

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېره بخښنه، چې دا فکر هم راته راځي، چې دا ازار یا زورېدل لوي ښتن دماپه برخه کړی، چې دما ورته پام را اوړي او دبل چا ان تر ژبپوهانو پورې یې ورته پام نه وي.
داسې به نه وایم، چې موږ تراوسه نه پرې پوهېږو- ډېره بخښنه راته وکړی، خو دا داسې لږ سکونډل دي، چې یا مې باوري کړی او یایې راسره ومنۍ). دا ازار لکه چې یوائځي ما ته شوی چې ،، په پښتو کې ناسم ورځني شوي ویونه،، عنوان لاندې مې یو کتاب هم په ،، کتابتون.کوم،، کې شته.

موږ پوهېږو، چې د لیکونکو موخه به څه وي، خو داسې څه، چې ترې نه شو پوهېدلی، چې موخه به یې دایا داوي، راوړنه ناسمه ده. د لیکونکي موخه ده، چې ،، ډېر کسان. دا ګڼ شمېر خو د ډېر په ترېپوهېدنه نه دي.

ګڼ کسان، چې سره تنګ نښتي ولاړ وي. دلته ګڼ د متعدد په پرېپوهېدنه دی.ډېر ګڼ کسان هم ناسم دی، که موخه ترې د ګڼ کسانو ډېروالی وي، خو که موخه ترې نور هم سره ونښلي، داسې ،،ډېر ګڼ،، او نه ډېر کسان، چې ګڼ وي.

همداسې ډېرشمېر هم نه شته، خو په شمېر ډېر ( یو څه چې وشمېرل شي او د هغې ګڼون یاتعداد جګ وي، نو کېده شي، چې دا تر اوسه ورسره بلد شمېره ولیکو، خو دا هم باید په جګه ګڼه( ځنې لیکونکي به ورته جګه شماره ووایي ( په دې هکله مې هم لیکنې شته او یوه بله لیکنه هم پرې لرم)).

خو په هره موخه چې وي، کارونه یې ناسمه او د هغې غوښتونې موخې لپاره بېموخې کارونه ده.

په ډېره خواشینۍ باید ووایم، چې په پښتو کې د سمون له امله دما اند دتاسو د ټولو اندونو او لیکنو سره په مخامخوالي کې دی، چې زه بایدملامت وم. که ما تاسو ملامت کړی او ما ته زما د بې مسؤلیت کار ناسمونونه وښایی، نوماته بیا مناسبه جزاوټاکی په دواړو سترګو به یې منم.

وړاندیز: د ناسمون له امله شهادتنامه راځخه واخلی.

## په هکله یې د درانه ببرک لیکنه او دما ځواب

د موزیګي شکیدلیه کټه
زه چې دې لنګه ټینګووم بازو دې ځینه
ګرانه شینواریه!
زه غواړم چې ستا په لیکنه لږ انتفادی نظر ولرم:

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱)-دا څه دي او یاڅه ترې پوهېدنه لري؟) ، دا جمله داسې بهتره ده: دا څه دې اویا څه ترې پوهیږی!
۲ -زه یواځې دومره پرې پوهېږم، چې د لیکونکي موخه به څه وي، خو زما موخه په موخه.............
پورتنی جملوکې دوه کامې بې ځایه دي او د چې حرف یې سره یو ځای کوي
۳ -ګڼون – دا کلمه مصنوعی جوړه شوې کلمه ده او د هیڅ سیمې په خبرو کې مې نه ده اوریدلې خو که یې ګڼنه ولیکی نو سمه به وي لکه شمیر- شمیرنه
ګڼل- ګڼنه
وتل- وتنه
۴-د ګڼ کسانو ډېروالی وي، خو که موخه ترې نور.....———— په دغه ځای کې کامه نه شته ځکه چې د ربط کلمه لري-چې
۵-هغې ګڼون یاتعداد جګ وي، نو کېده شي، چې- تعداد جګ وي؟ یعنې ډیر وي؟ هو! دوه کامې دواړه نه شته.
۶ -خو په هره موخه چې وي، کارونه یې ناسمه او د هغې غوښتونې موخې لپاره بېموخې کارونه ده. کارونه= کارها
کاروونه= بکار بردن
۷ -ووایي؟ نه! و وایي ـ ځکه چې دوه جلا کلمې دي
۸-په ډېره خواشینۍ باید ووایم، چې په پښتو کې——— سم یې: په دیره خواشینی باید و وایم چې...
۹-د سمون له امله دما اند دتاسو د ټولو اندونو او لیکنو سره په مخامخوالي کې دی، چې زه—- سم یې: د سمون له امله زما اند د ستاسو اندونو .... کې دی چې.....
۱۰ -نوماته بیا مناسبه جزاوټاکی———سم یې: نو ما ته بیا مناسبه جزا و ټاکۍ

## پورته لیکنې ته دماځواب

ګران ببرک صیب! ډېره مننه، چې دا دما یا زما د لیکنې په هکله مو ستونځې ګاللې.
هیله ده، د ما د اند سره، چې له ،،ګڼ شمېر،، څخه څه نه پوهیږو او دامې د لیکنې بنسټیزه موخه وه، هم اند وي.
په ،، پښتو کې ناسم ورځنې شوي ویونه،، د نامه لاندې مې کتاب شته، چې د ویونو سمونونو لپاره یې جوګه یم.
د ما په اند خو موږ لاتر اوسه په هیڅ یوه پوهنیز څه کې دا کټ لا جوړ کړی نه دی، نو لنګه خو یې لا څه کوې، چې وروستی خبره ده ( د ولس پرمختګ د ژبې د پرمختګ سره مخامخ او په ځټ اړیکې لري).
یوه پیلیادونه: کله کله – چې باید مخه یې ونیول شي- دما څخه –شاید له نورو څخه هم- دا د بېلېدنې تکمه ونه وهل شي، نو هغه اړیېنه بېلونه پاتې شي، د دې بخښنې غوښتنې ته هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



باید اړتیا پیدا نه شي او هرڅه په یوه پوهنیزه لیکنه کې سم ولیکل شي. دا چې دا ناسمونونه منځ ته راغلي، بخښنه دې وي.
ستاسو لیکنې ته:
۱ ـ ته: په دې کې چې کومه غونداله به ښه وي، څه نه وایم، خو دومره وایم، خو د دې لپاره چې ،،معني،، ولیکم، ماته دا د پښتو ،،ترپپوهېدنه،، موخوره برېښي. ستاسو له اند سره هم هم اند یم.
یادونه: په پورته کې د یوې ،، چې ،، څخه د مخه او وروسته بېلېدنخښه یا دمکۍ او که غواړۍ کوما نه شته.
۲ – ته: په دې بېلېدنخښو، دمکیو(دمه کیو؟) یا کوماوو کې، چې ځنګیزې غونډآلې یا نوره ښه یې: ځنګغونډالې بېلوي، زه په خپل اند یم. دلته باید بیا د ځنګغونډالو پېژند راواخلو او د هغې له مخې به بیا خبرې په وکړو. دا به هم په یوه لیکنه کې بیا وګورو او خوښ به شم، چې اند دې د ځان سره ولرم.
۳ – ته: خبره دې سمه ده او د ،،ګڼل او شمېرل،، باندې یوه لیکنه لرم، که هغې کې دې هم راسره مرسته وکړه، خوښ به شم.
داسې لړ یادونه: ګڼل، ګڼنه، ګڼ، ګڼون... مورږ دلته ګڼل او ګڼې سره بلد یو، دا نور به سره بیا ګډ وڅېړو.
۴ – ته: دلته هم لکه د مخه زه په خپل اند یم. که د ربط کلیمی څخه مو موخه Konjunktionوي، نو د دې انډول ما ته په پښتو کې تړنویونه برېښي او هغه تړنویونه ،، یا،، او ،، او ،، او نور دي. ګومان مې دۍ چې ،، چې،، به تړنوی نه وي(؟؟؟).

.

۵ – ته: دابه هم په اړونده لیکنه کې روښانه کړم. دا هم د تېر په څېر.
۶ –ته: په دې پوښتنه کې به هم داسې هم اندوالی سره ونه لرو. دا ستا به سمه وګڼو، خو بیا نو باید ولیکو: کاره ونه. داسې لیکنو کې د سېلبو بیلولو او یا مورفېم بېلولو په هکله باید بیا خبرې وشي.
دا سمه ده، چې د یو بل ترپپوهېدنې سره توپیر لري، خو دا یو د کار زیات دۍ او دا بل خو همغه ستاسو په موخه دۍ، خو دا هم بیا د اوږدو خبرو لپاره یو څه دي، چې په لیکدود کې بیا داسې ټولو ویونو ته یو پام وشي، خو داسې ویونه په ټولو ژبو کې شته او سړی ترپپوهېدلی شي
ځغلونه(ځغله وونه یا ځغلوونه): داسې ستونځې په ټولو ژبو کې شته، ډېره به یې پېچلې کوو نه.

یادونه ( ستاسو په اند، نو دلته بیا دا یادونه هم یادوونه ولیکو): همدا اوس مې یوه لیکنه له الماني ویکي څخه کاپي کړه، چې همداسې د نورو لیکنو په مټه به دا ځنګیزې غونډالي یا ځنګجملې سره یوځای وڅېړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۷ – ته: ووايې، ووايه!، وکړي، وکړه!، وځغلي، وځغله! او نور. په دې ويونو کې ،، و ،، له نور بېل څه ترېپوهېدنه ( په بخښنه، چې زه لا په دې خپل نا ښکلي ليکندول پاتې کيږم. په دې کې مې يوه موخه شته) نه لري. دا يو فونيم دی،خو د اړونده وي پرته ترېپوهېدنه نه لري يا څه ترې نه شي پوهېدل کېدی. په ،، د هغه کتاب،، غونداله کې د ،، د ،، يوه ترېپيرهېدنه لري، ځکه چې د خاوندوالي مورفيم دی.
د ،، دما، زما، يما،، په هکله يوه ليکنه دما په ياد کتاب شته او بله ليکنه هم پرې لرم، هيله ده – که زړه دې غوښتل – چې ويې ګورې. ( په ،،هيله ده چې ويې ګورې،، کې بيا بېلېدنخښه نه شته).
ګومان مې دی، چې له دې سره به مې دا نورې پاتې ګوتنيونې هم په ګوته کړې وي.
هيله ده چې ډېر مو ستړي کړي نه ياستی

## زما( دما، يما) پوښتنه

دا پوښتنه مې د م ک ملګرو څخه کړې وه.

لرو: يما، يمور، يتا، يتاسو، زما، زمور، ستا، ستاسو، دما، دمور، د تا، دتاسو.

دژبلار له لارې کوم سم دي او ولې؟

په هکله يا ځواب کې د ګرانو م ک ملګرو اندونو داسې لنډيز:

يو ا: ځنې په دې اند دي،چې ګوندې ليکنې ستونځمنوم او داسې دي د .... دي

يو: ځنو ته د داسې پوښتنو او ليکنو منځ ته رااچول نا اړين او ناسم برېښېده، ځکه چې دا لهجې يا ځای اړونده وييڼدولونه دي او درېواړه سم دي.

دوه: نورو هم دا ويل، چې دا لهجې دي او په ټولو ژبو کې شته.

درې: داسې اند هم شته وو، چې په دې پرېکړه شوې، چې زما، ستا، زمور، ستاسو غوره شوي او بس.

يوه يادونه: زه له خپله ځان څخه څه نه جوړوم او نه ليکم، چې نورو ژبو يا لږترلږه الماني کې يې اندول نه وي. پيداښتي ژبې پوره دي او په ژبلار سنبال. پيداښتي ځانګړنې يې هم ځانګړې لارې لري.

دما د م ک ملګرو! دما هغې پوښتنې ته او د تاسو اندونو ته په درناوي داسې ليکم:

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ډېره خواشینۍ باید دا هم ووایم، چې زه یو لور او تاسو ټول بل لور یاستئ او دا هم د ما د ملامتۍ لامل باید وي، خو زه چې هر څه راوړم، پوهنیز لامل به ورسره وي، دا سرسختي نه ده او که وي وبه ګورو، چې زما لیکنه بیا څنګه ناسمه په پوهنیزو ویناو یا لیکنو اباده ښولکیږي.

یادونه: زه پوهېږم، چې کوم منل شوی دی، خو په هغه پوهنیز او منلو لامل یې نه پوهېږم، چې کوم دی او ولې؟

ایا په دې ګوته پورته کیږي او که پوهنیز دلایل راوړل کیږي؟

که چا داراته ولیکل چې دما اند ناسم دی او که نه نو څنګه؟

د پوهني وزارت نصاب غونډه کې بله د منلشوي وي بېلګه، چې د عربي مایع لپاره یې انډول پیدا کاوه: زه په دې غونډه کې پخپله ناست وم او په دې پرېکړه کیده، چې د عربي مایع انډول پښتو باید ،،اوبلن،، ولیکو، چې دا ډېر ناسم دی او دا یواځې او یواځې د واورو - چې اوبه شوې نه وي- خوي دی او نه د نورو مایعاتو. که ما هرڅومره هڅې وکړې او دلایل مې راوړه، نه منل کېده، چې ګوندې زما یې له ژبې سره څه.

له دې داسې برېښي، چې ګوندې ژبه دمصلحت خبره ده او دا سمه خبره نه ده. ژبه له پیدابښته شته او پیدابښت مصلحت نه مني. په دې هکله مې لیکنه شته.

دمور ژبې ته ډېر څه ناسم راننوتلي، چې یواځې دما ورته فکر شوی او په هکله مې یو کتاب لیکلی، چې د کتابتون.کوم درنې خپرونې کې خور دی.

دژبې په هکله هلته زما د پښتو په هکله دا لاندې دوه کتابونه دکتلو دي او که څه په دلایلو ناسم وو، نو ماته چې هره جریمه ټاکی منم یې، چې وړاندیز مې دی د ناسمون په حالت کې ډاکتري راڅخه واخلی، د ناسمو کړنو له امله او که نه، نو بیایې راسره ومنۍ او د ستونځو ګاللو لپاره راته د پښتو ډاکتري راکړی. د ما دا ټول کار لږ ترلږه د پنځلسو کالو کار دی.

په هکله یې کتابونه:

لومړی: د پښتو ژبلار (ګرامر)

دویم: په پښتو کې ناسم ورځني شوي ویونه.

تاسوچې همدا شمېروني ته ورکړی، داکتابونه درته درکوي او یایې کتابتون.کوم کې کتلی شی.

اوس دا لاندې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱ – زه به هيڅکله هم داسې څه ونه ليکم، چې يوه پوهنيزه موخه مې په کې نه وي او دما په اند يو سم ځواب ورته ونه لرو، ستاسو وخت بېځايه نه نيسم.

داسې نه وايم، چې ۹۵٪ کې، ځکه چې پوهنيزو خبرو کې يواځې سم او ناسم شته.

هغه بله غوره خبره چې په ياد يې راړم داده، چې ماهيڅکله داسې وی نه دی کارولی، چې ما جوړ کړی وي او موږ ورسره بلد نه يو، خو زما د ليکنو سره دا نابلدتيا شته، چې دباندني ويونه په کې يانه شته او يا ډېر کم دي، خو ناپوهوړ څه مې نه دي ليکلي.

۲ – ايا دا لهجه يا بلډول ويېنه ده؟

نه! دا لهجه نه ده، چې په ۳ –م کې ګوته ورته نيولشوې.

لهجه يا بلډول ويل نو څنګه وي؟

لهجه د يوه وي ځای اړوند بېلابېلو ويلو ته وايي، لکه: يما، يمو، يتا، يتو، يموږ، يمېږ. دلته دا ،، ږ ،، هم په درې ډوله ويل کيږي، چې دا هم بيا درې لهجې يا بېلابېلې ويېنې دي او يا دا: موږ کور ته ځو. يو ډول ويېنه او بله ډول ويېنه يا لهجه ېې: مېږ کېر ته ځي ( که دا مې سمه نه وي ليکلي، راته سمه يې کړئ او ماته به بخښنه کوئ).

۳ - دا ما چې يې په هکله پوښتلي، دا د يوه څه لپاره درې بېلابېل ژبتوکي دي او دا د ملکيت يا خاوندوالي لپاره نومځاينيوي دي.

د خاوندوالي لپاره په الماني کې د لومړي کس لپاره mein د خاوندوالي پرونوم يانومځاينيوی دئ او انګرېزي کې يې my دئ.

د دي لپاره موږ په پښتو کې درې بېلابېل اندول کاروو، چې زما له انده يو يې بايد سم وي، که څه هم پيدابښت ناسم څه موږ ته نه راکوي، خو دا د وخت په تېرېدو سره بدلېدلی شي يا بدليږي.

موږ وايو: لومړی کس: يما،زما،دما،

دويم کس: يتا، ستا، دتا

دريم کس:د هغه ( دهغې)

دا درې ډوله نومځای نيوي دلومړي او دويم کس لپاره دي او د دريم کس لپاره ځانله ،، د هغه( دهغې)،، دئ. زموږ د پښتو د پوهنتون استادانو هم په دې هکله ليکنې کړي، چې ما يې ليکنو ته په خپل ګرامر او بل کتاب کې د سمون په هکله ليکنې خورې کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په پورته کې د دريم کس لپاره ،، د هغه (د هغې)،، کې ،، د،، د ،، هغه(هغې)،، سره د یوه وی په څېر نه او بېل ليکلکېدی شي يا کيږي، نو دلته به ووايو، چې دا ،، د ،، د خاوندوالي مورفيم دئ او هغه پرونوم سره مل راځي.

د ،، د ،، ټوليز کېدنه: که داسې ترې پوه شو، خو په دې لومړي او دويم کې به هم دا ،، د ،، د خاوندوالي مورفېم وي او له دې امله به دا ،، د ،، له ،، ما او تا،، سره دما، دتا د ژبلار له لارې سم وي.

نو: له دې دريو څخه د ژبلار له لارې دما، دموږ، دتا د تاسو، د هغه(هغې)، هغوي سم دي او بس.

يادونه يا زماټينګار: تر هغې، چې تاسو ګرانو لوستونکو دانه وي رد کړی يا د دې بل سموالی راته په دلايلو نه وي راښولی، نو دا به سم وي.

ماته به بخښنه کوئ، که ستړي کوم مو.

# په هکله يې ليکنې او ځوابونه

**غلام حضرت**جنوري 3, 2021
سلامونه
د ګران او ښاغلی او مَيَن او خوارکی کښ " میړی صاحب " توپیر له میړی سره دا دی
چې
میړی د خپل ځان او خپلی ګېډی د تأمين پخاطر زحمت ګالی او وچ مړ مَلَخ ئې تر اُربوز
نیولی او خپلی هستوګنځۍ ته ئې وړی
خو
"ګران میړی صاحب " خپلو ګرانو وطنوالو ته د ژبنی خدمت په انګېزه خپلی ګوتی او
قلم د خوَلو له لاسه لانده خيشته کړی دی ، خواری او خوَلې او زحمت او لېونۍ مینه ئې د
ستائنی وړ ده
خو
کوم دئ هغه نر چې " میړی صاحب " ته ور ږغ کی:
ورور جانه! موږ په ژبنی هستوګنځۍ کی غزېدلی پښتانه اوسمهال ډېره اشتها نلرو او نه
هم د لوږی احساس کوو ، د وړمی ورځی او پرون ورځی او نن ورځی جوړه سوې پالوده
مو دا ګړی بس ده ( هسی د ګېډی ډکېده مو موخه ده پدې ناډاډمنو حالاتو کی.(
ښاغلی میړی صاحب د المانی ژبی د اسمونو د ارټیکل په اندول غواړی دا نسخه د پښتو
سترخوان ته هم ډالئ کړی، حال دا چې د المانی ژبی نسب او ژِن له پښتو سره ډېر توپیر
لری

(c) ketabton.com: The Digital Library



په الماني ژبه کې اسمونه د ارټيکل تابع دی یعنی دا د die او der او das دیکتاتورانه حاکمیت دی چی زه باید ووایم meine یاmein
امّا
په پښتو ژبه کې هیڅ بندیز او محدودیت او الزام او قاعده شتون نلری او په خپلواکه توګه ویلای سم مثلاً
زما سدرئ
زما لستوڼئ
زما کَرَک
زما شلومبې
زما بوټونه
بله خبره دا ده:
د ډول ډول لهجو شتون یو طبیعی څیز دی
خو
لیک او لیک دود د یو لړ قواعدو تابع دی چی یو لدې قواعدو څخه د " یووالی یا یو رنګی " مسئله ده
بناً
که
احمد ولیکی مثلاً: دِما یا دَما قلم
محمود ولیکی زما قلم
حامد ولیکی ایما قلم
نو
دا به یو ډول ښورښ او انارشی را منځته کړی.
بل عرض می دا دی:
دا به ومنل سی چی د بشری ټولنی په لمنه کی ځینی ژور بدلونونه د یو کس پلاس په یوازی سر را منځته سوی دی خو هغه بدلونونه په نورو ډګرونو کی را منځته سوی دی نه د ژبی په لمنه کی.
د ژبی په لمنه کی انقلابونه او بدلونونه کوم مشخص او ځانګړی لاربنود او رهبر نه لری بلکه دا یوه دسته جمعی او د ګډ کار پروسه او پروژه ده.
سره لدې
د بخیل او حسود کس دی کور وران سی
که ښاغلی میړی صاحب د خپل نه ستړی کیدونکی تلاښ په ښو پایلو ډاډمن وی نو ور ته همیشه د بریالیتوب هیله لرو.
وګورو چی مثلاً ۴۹ یا ۵۰ کلونه وروسته به " **دِمونګه** " پښتو کومه بڼه ولری؟
په هره توګه
که مو " پښتو " د سمون په غبرګه کی خاندی یا نه خاندی او وخاندی یا نه وخاندی

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو
کلکه هیله لرو چی " پښتونولی " مو د سمون د غیرۍ سره پُخلا سی

## دما ماخان یادونه:

ګرانه غلام حضرته ډېره مننه چې ليکنې مې ګورې، د ګوتڅنډنې سره او په دې خوښېږم.
دما ليکنې راڅخه ډېرې غزيږي، زه خو کم وخت لرم، خو وخت لرم، ځکه بل کار مې نه شته پرته له ليکنو او په دې ليکنو ځان هم روغ ساتم.
ستاسو د مينې ډکې ليکنې څخه په ډېره مينه مننه.
ستا ليکنوته يو څو يادونې:
لومړی: پورته مې وليکل، چې ليکنې د خپلې روغتيا لپاره کوم او د بل چا لپاره يې نه کوم، خو که د چا په کار راتلې او ګټه يې ترې اخستلی شوه، ورته خوښېږم او که د چا په زيان وې، نو ډېر به خوابدی شم او بخښنه به وغواړم، خو چې دا بدې يې راته څوک په ګوته کړي.
زه د خپلې ژبې لپاره د الماني ژبلار څخه ګټه اخلم، موږ خو يې داسې ليکو، چې کله ناکله يې زه هم په هکله دې ليکنو ته اړ کېږم.
تاسو چې کومې اندېښنې لرۍ، دلته خبرې نه په کوم، هغه دماپه ګومان دما په ليکنه کې ټولې ځواب دي. تاسو ليکۍ:
۱ - ،، د ژبی په لمنه کی انقلابونه.... ،،
زه ګوره نور انقلابي نه يم، هغه څه چې په ژبه کې دپيداښتې لارو سم، زموږ ژبې ته څوک ناسم راننباسي، د هغې په هکله ليکنې کوم او دلايل مې تل راوړي، چې هر څوک يې ردکولی شي. داکار نه کيږي، چې ګوندې زه به ليونی يم يا زوروږ. زورور خو نه يم او په دې بل يې نه پوهيږم.
تاسو ليکۍ:
۲ - ،، کوم دئ هغه نر چی " میړی صاحب " ته ور ږغ کی: ،،.
دا کار خو هرڅوک کولی شي، ته خو لا د هر بل څخه ښه، چې ما ته دما ناسمونونه په ګوته کړي، په پوهنيزه دلايلو ودان، نوبيا خو دومره بدخويه يا زورور هم نه يم، چې دوام به ورکړم.
تاسو ليکۍ:
۳ - ،، په پښتو ژبه کی هیڅ بندیز او محدودیت او الزام او قاعده شتون نلری او په خپلواکه توګه ويلای سم مثلاً ،،.
ټولې ژبې پيداښتې دي او پيداښت د پيداښت د لارې سره سم ژبلارې هم پيداکيږي، چې دا هم د انارشي مخه نيسي، د په دې ترپپوهېدنه چې څوک هر څه هرڅنګه بايد ونه ليکي.
تاسو ليکۍ:

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴ ـ ،، که ښاغلی میږی صاحب د خپل نه ستړی کیدونکی تلاش په ښو پایلو ډاډمن وی نو
ور ته همیشه د بریالیتوب هیله لرو ،،.
که څوک ډاډمن نه وي، نوبیا دې ما ډاډمن کړي،
۵ ـ د ګډ کار پروژه: داخو ښه خبره ده، خو که د ګډکار کېدا شوني نه وي، نو بیاورته
لاس د ځني لاندې هم نه شو کښېناستلی.
هیله ده، چې ستړی دې نه کوم. زه خو ورته خوښېږم، چې په پیدا خبرو سره خبرې
وکړو.
ستا ماخان
یوه اخرنۍ خبره دې دا وي، چې له پښتونولۍ خو راتښتېدلی یم. د دومره تکړه فکر مه
راته کوه.

1. babrak [جنوري 5, 2021 At 10:31 am]

محترم میږی صاحب! زه اخر هم پوه نه شوم چې (وی) او ( ویونه) څه معنی
لري؟ که وی لغت ته وايي نو د کومې سیمې پښتانه ورته وی وايي؟ او که دا
مصنوعي لغت وي نو دا صنعت ښه صنعت نه دی!

ډاکتر ماخان میږی

محترم ببرک صیب ډېره مننه، چې دا ادیبانو او ژبپوهانو خبرې مو ماته
راواچولې او زه ورته خوښېږم.
زما دا لاندې یادونې:
زه نه غواړم، چې په لیکنو کې څوک راڅخه زړه بدی شي، خو که څه داسې نا
انډوله خبرې په کې راتللې ډېره بخښنه دې وي.
لومړی: زه هیڅ وخت ویونه( لغات؟) نه جوړوم. ما دا ،، وی،، هم د پښتو لیکنو
څخه رانیولې، چې دا سې ترې پوهېږم، ګوندې د ویل یا وینا څخه به دا وی
رانیول شوی وي. لږ تر لږه دومره پرې پوهېږم، نو له دې امله یې زه هم لیکم.
چا چې ویونه جوړ کړي یا تخریب کړي، ډېر یې ناسم دي، چې په هکله یې ما
کتاب،، په پښتو کې ناسم ورځني شوي ویونه،، هم لیکلی. بېلګه یې اوبلن دی، چې
د بهېدونکي په ځای یې کاروي او همداسې سلم ته ناسم سلن وايي یا تر ډېره
برېده، چې هېڅ تربیوهېدنه نه لري او همداسې نور.
دویم: رښتیا به درته ووایم، چې زه په لغات دومره پوهېږم، چې،، سپین، ختل،
ونه، خوږ دا موږ لغاتونو ته وایو، خو چې ترې پوهېدنه یې څه ده، هیڅ نه پرې
پوهېږم.
دا به په الماني د ویونو کتاب کې وګورم. په عربي نه پوهېږم، له دې امله په لغات

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم نه پوهېږم، چې څه ترېپوهېدنه به لري.
دا باید ووایم، چې موږ ډېر عربي ویونه ناسم کاروو دا ځکه چې نه پرېپوهېږو.
بېلګه يې واحد دی، چې پښتو انډول يې يو دی، خو چې موږ باید ترې پوهېږو،
هغه په پښتو انډول يې يووالی دی.
پوښتنه دلته ده چې : له پورته دوه ... څخه نو کوم وټاکم، چې داسې لږ پرېپوهېږم
او که دا چې نه پرېپوهېږم.
دریم: په ژبه کې ښه یا بد صنعت یا جوړښت نه شته یو څه – وی یا لغات – سم
دی او یا ناسم.
څلورم: زه پوهېږم، چې د الماني die Wort څه ته وايي او د دې به داسې لنډ
پېژند په ګډه سره پیداکړو. له الماني څخه:
د وی، لغات یا das Wort پېژند: یو وی یو خپلواک ژبنیز یووالی دی. په
پیداېښتي ژبه کې – د یوه غږ یا یوې سیلبي(سیلاب) په مخامخ- یوه خپلواکه
ترېپوهېدنه ( دلته به هم ورته په فکر کې شي، چې دا نو څه؟) لري. وی زیات
وخت له فونیم، مورفیم، سینتګما همداسې له یوې غونډالي رابند دی، دا په دې
پرېپوهېدنه، چې د دوي سره پولې لري، سره له دې وی یوه یووالیزه ( موږ
ورسره د ،، واحد،، د نامه لاندې بلی یو، خو ،، واحد،، یوه ته وايي او لهدې امله
ناسم دی) ترېپوهېدنه نه لري.
د الماني das Wort لپاره په عربي ډېرې پرېپوهېدنې شته، خو یوه يې هم د
،،لغة،، په پرې پوهېدنه نه لري.
یادونه: که ،،لغة،، په الملني وژباړل شي، نو د پښتو انډول يې له الماني ،،ژبه،، په
پرېپوهېدنه دی.
که ژوند وو، نو یوه خپلواکه لیکنه به په وکړم.
یوه یادونه: زه ګوره ژبپوه نه یم، خو ګومان مې دي په ژبه پوه یم. دا څه چې زه
لیکم، هغه دالماني ژبې کتابونو کې ګورم. په پوهنه او ژبپوهنه کې ابتکار نه کوم.
ډېره مننه، چې هڅاند ساتلو کې راسره مرسته کوی.
وخت مې کم دی، خو وخت لرم. زاړه همداسې وي.

پېژند: ویې د غږونو او منځپانګې همداسې پرېپوهېدنو کوچنۍ خپلواکه ژبنیز
یووالی.

په ډېره بخښنه یو همخامخ پوښتنه:

د افغانستان په کوم ځای کې ورته لغات وایي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ګڼل او شمېرل

دا لیکنه ځانله د یوه مسلکي چا لپاره نه ده، دا لیکنه د هرچا لپاره ده، چې په یوه شو، چې په ګڼلو او شمېرلو کې د څه سره کار لرو او دا څنګه کاروو. له دې د مخه چې زموږ د موخې لیکنې سره پیل کوو، د ډېرۍ( set,die Menge) پېژند به ورکړو، چې دلته هم هر څوک په پوه شي، چې ډېرۍ څه شی دی.

ډېرۍ پوهنه د شمېرپوهنې یوه برخه ده او ډېرۍ داسې پېژند لري:

## ډېرۍ:

زموږ د فکر او خیال د ټولو یو له بل کره بېلا بېلوشیانو( دا په دې مانا، چې یو شی دوه واره نه راځي) ټولوالی دئ ( ما په خپلو تېرو لیکنو کې د ټولوالي لپاره ټولګه لیکلې وه خو ټولوالی موخه- ور او ښه دئ).

هغه شیان چې ډېرۍ ترې جوړه ده، د ډېرۍ توکي بلل کیږي.

په ډېرۍ پوهنه کې یوه پایډېرۍ هغه ده، چې پای ډېر توکي ولري. د بېلګې په توګه ډېرۍ

M={1 ;2; 3; 4; 5; 6; 8)

یا

M={a,b,c,d, ….h}

یا

M={a,3,spin, spogmai, c,d,8, ….h}

دا دټاکلو شیانو، چې فکر اوخیال کې مو دې، ټولوالی دئ اوپایډېرۍ دي.

# ګڼل او شمېرل

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا  په پښتو څنګه بولو اوڅنګه لولو او  هم څنګه ليکو؟

دابخښنه دې وي، چې په ،،پښتو،، يې ليکل او لوستل ليکم. دا ځکه چې موږ تر اوسه پرته له ما د شمېرپوهنې کتابونو له ليکنو، بل چا تراوسه دا په پښتو نه اړوند بللي او نه ليکلي.
داپه دې ترې پوهېدنه، چې زه په دې لار او کار کې لومړی او لومړنی کس يم، چې دا کار مې د سره کړی يا تر يوې کچې سرته رسولی.

په دې هکله نورې خبرې نه کوم، راځم خپلې موخې ته.

موږ په شمېرپوهنه کې د دوه نومونو سره ډېر سر او کارلرو، چې هغه ګڼل او شمېرل دي، چې تراوسه مو دا سره  نه دي توپير کړي او داکار به اوس وکړو، خو په خبرو اوليکلو کې مو ګڼل د شمېرلو لپاره پرېښودي يا ښه يې: د ګڼلو ځای مو  هم شمېرلو ته ورکړی.

ګڼل څه شی دی؟

ګڼل، چې انګرېزي يې Counting او الماني يې zählen دی، عربي يې نه پوهېږم او په درې کې ورته شمردن وايي. په دې برخه کې نورې روښانه ونې هم شته، خو له هغې دلته تېرېږو.

پيژند: ګڼل د يوې همغه ډول مګر بېلابېلو شيانو پای ډېری توکو  د څومروالي يا ګڼون(تعداد) يا کوانتيتي پيداکول  دي. ګڼل د ګڼونو پلونو زيات وخت د يوه پل سره، دکوم سره چې اړونده ګڼونو پرلپسې يا د ګڼونو ويونو پرلپسې  په څېر کيږي، د بېلګې په توګه، يو، دوه، درې  يا دوه، څلور، شپږ، اته سره ځغلي. د جګېدونکې پرلپسې د ،، مخ ته تلنګڼل،، په نخښه کيږي او په لوېدونکې پرلپسې ،، پسې يا شاته يا په څټ (تلن)ګڼل،، په نخښه کيږي.  د بېلابېلو شيانو( دا هم همغه ډول شيان دي، خو همغه شي نه دی) ورزياتول يا ورجمعه کول، چې يوه جګېدونکې ګڼونپرلپسې يې بنسټ دی، ګڼل بلل کيږي.

ګڼنه: د اړونده نوم ګڼنه د ګڼلتلنه يا د هغه لاس ته راوړنه( د بېلګې په توګه د نفوسو ګڼل) په نخښه کوي يا (را) ښايي يا راپوهوي.  د پيژندل شويو يا د ورکړل شويو پيژند يووالو(موږ ورته ناسم واحد وايو)، شيانو يا پېښو د يوې کچونې ښه، د څومروالي پيداکونه ده يا د ګڼلو نوم.

له څه وخته ګڼل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ارښیولوګي شواهدو له مخې روښانه شوې، چې انسان لږ ترلږه له ۵۰۰۰۰ کلونو راپه دېخوا ګڼلتوان لري. ګڼل په زړو کلتورونو کې کارول کېدل، چې د ټولنیزو او اقتصادي ګڼلشیانو لکه د یوې ډلې غړي، ښکارشوي ژوي، خاوندتوب یا پورونو ګڼون راټول کړي یا راونیسي. د ګڼونلیکنې، ګڼونسیستم او لیکنو ته مو ګڼل هم ( هم په دې ترې پوهېدنه، چې د نورو څنګ کې ( نږدې وه، لیکلې مې وی ،،د نورو تر څنګ،،، خو داناسم دی)) لاربښود کړو.

د ګوتو سره ګڼل، دلته ګڼ ۵ Zählen mit Fingern, hier die Zahl 5.

ګڼل انساني ژبنیز توان دی، چې په راتنګه موخه ګومان کیږي چې انسان ته د خپل biosozialen(۲)Phylogenese (۳) Stammesentwicklung (بنستوده)) په ترڅ کې له پخوانیو راپاتې شوی. ژوي لکه مرغان هم – که هګۍ یې ورکه شي- پوهیږي، خو ګڼلی یې نه شي. دګڼلو لپاره تیزذهني توان ته اړتیا شته.(Biosoziologie بیوسوځیولوګي دې وکتل شي)

## ګڼون یا څومره والی، که غواړی تعداد:

یادونه: دا ګڼون مو پهژبه کې ورځنی نه دی، نونهپوهیږم، چې دا بهزماپرېکړهوي او یا بهد تاریخ پهاوړدو کېهیرشوی وي، خو راته منسب برېښي، ستاسي مرسته تۀ ته اړتیاشته.

په ټوله کې د ګڼلو سره د یوې پایدېری د توکو ګڼون(څومره والی یا تعداد) کره کیږي، داسې چې د ۱ سره پیل ( اوس دا له صفر(۰) سره پیل دی) یو بل پسې هر شی پسې پیداېښتي ګڼ باندې ترتیب کوي، تر هغې چې کوم شي توکی نور پاتې نه شي( د یوائځني څیرونې له لارې(شمېرپوهنیزه وی دی، چې نور یې نږدې نه څېړم، خو په دې هکله مې یوه لیکنه په تاند او همداسې دعوت څیرونو کې په ۹ د دسمبر خوره شوې)). دا وروستي ترتیب شوی ګڼ هغه غوښتونی ګڼون یا تعاد راکوي.

## څومره- یا څووالی او څوموالی:

موږ نو د ګڼلو سره څه غواړو ځان ته روښانه یا څرګند کړو؟

څومروالی: موږ د ګڼلو سره د څو کره ټاکلو همهغو (لږ تر لږه په دې لیکنه کې) شیانو څومروالی او په همهغو شیانو کې د یوه شي څوموالی ځان ته روښانه یا جوتوو. که په یوه ځاي کې د څه موخې لپاره څوکسان راټولوي او غواړو ویوهیږو، چې دا څو کسان دي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو گڼو یې او دا راته د دې کسانو څووالی یا ګڼون راکوي. که په څوکسانو، که د کسانو په ځایترتیب کې د یوه کس ځای غواړو جوت کړو، نو ګڼو یې چې دا څوم کس دی.

ګڼه یا څوموالی په څه ترې پوهېدنه دی؟

ګڼه: که څوک په یوه لیکه ولاړ وي، یا د شتون په کتاب کې د زدکونکو نومونه د ، څوک په څومه ګڼه نمره دي، نو په همهغه ځای کې لیکل کیږي.

د ښوونځې شتونکتاب یا د حاضری کتاب کې موږ د شمارې په ځای ګڼه لیکله، چې موخه ترې همغه څوموالی په ګوته کوي. دا شپېتهکاله دمخه، دا په دې ترې پوهېدنه چې:

ویل یا په تورو لیکل یې: لومړی، دویم(دوهم؟) دریم اتم، نویم، سلم، یوسلودېرشم او نور.

په ګڼنخښو لیکل یې

۱ ــم، ۲ ــم، ......۶۷ــم، ۱۰۰ــم، ۱۲۰ــم ...

ځنې لیکونکي دا بې له ــم لیکي، چې ناسم دي.

یادونه: په دا پورته کې موږ سلن یا ۱۰۰ ــن نه دي لیکلي چې ناسم دی.

د شتونکتاب ګڼه به د ښوونځې د نمرو په ترتیب لیکل کېده، نو د دې سره به څه کوو؟

دا هم د ګڼلو له لار سره سم داسې لیکو:

اولنمره = لومړی ګڼی(ې) ، دویم نمره = دویمګڼی(ې)، لسم نمره = لسم ګڼی(ې) او داسې نور لیکو. دا که څو واره بیابیا وویل شي، نو ورسره بلدېږو، ستونځې په کې نه شته او د ژبلار سره سم دی.

یادونه: د دې ګڼونو او یا اړونده لیکنډول لپاره زموږ لیکوالان لیکي، چې شمېرنیز لیکل او لیکنیز لیکل. شمېرنیز او لیکنیز دواړه لیکنیز دي، دا په دې ترېپوهېدنه چې دواړه لیکل کیږي.

سم یې دی: په تورو لیکل او په ګڼنخښو لیکل.

## ګڼ (ډ. ګڼونه) څه شی دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



الماني او انګرېزي یې number zahl

یادونه: دا مو هم په ژبه کې ورځنی نه دی، مرسته به سره کوو.

ګڼونه ( یو یې ګڼ): هغه څه چې موږ ګڼل پرې کوو، نو هغه به هرو مرو ګڼونه وي. یو یې ګڼ.

هغه ګڼونه چې موږ ګڼل پرې کوو، دا په دې مانا چې د ځوموالي او ځومره والي پرې لاس ته راوړو، پیداېښتي(طبیعي) ګڼونه دي او دا پیداېښتي ګڼونه داسې لیکو.

بیا

**ګڼنخښې:** هغه نخښې دي، چې ګڼونه انځوروي، ګڼنخښې بلل کیږي.

د پیداېښتي ګڼونو ګڼنخښې دا لاندې دي:

(0); 1 ; 2; 3; 4;5; 6; 7; 8; 9

دا ټکی یا صفر مې ځکه نوکانو کې نیولی، چې د څه وخت د مخه پورې دا په پیداېښتي ګڼونو کې نه ګڼل کېده، خو اوس صفر هم یو پیداېښتي ګڼ ګڼل کیږي.

## دا نو څنګه وایو؟

صفر ، یو، دوه (دوې)، درې، څلور، پنځه، شپږ، اووه، اته ، نهه.

په پورته کې ګورو، چې بنسټیز ګڼونه دا لس دي، له صفر تر نهه پورې.

ګڼونه ذهني شمېرپوهنیز شیان یا همداسې د فکر شیان دي، چې زموږ د خیال د لویو او ګڼون (ځومره والي) څخه وده کوي.

شمېرپوهنیز شیان: ګڼونه، ډېرۍ، ځمککچیز تنونه، ګرافونه، اېتنیګرال او نور.

ومووېل، چې

ګڼونه یو یې ګڼ هغه څه دي، چې موږ ګڼل او شمېرل پرې کوو. دا په دې ترې پوهېدنه، چې ګڼل به له شمېرلو بېل کړو. داکار د هغه چا لپاره ستونځمن دی، چې ریښه یې شمېرپوهنه نه وي، خو ځانونه به پرې پوهو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګڼونه ځو ډولونه لري، چې موږ د اوس لپاره دا ځو یادوو:

ګڼونه په ګڼنځښو سره پېژنو، چې په ترتیب به په خپل ځای راوړل شي.

پيدايښتي ګڼونه: لکه د مخه مو چې وويل، موږ دې ساده ګڼلو لپاره چې ګڼل پرې کوو، د پيدايښتي ګڼونو څخه کار اخلو. دا ګڼونه بنسټيز لس دی. دا دې په ياد وي، چې د دې لړ لنډ وخت پورې صفر په پيدايښتي ګڼونو کې نه ګڼلکېده.

ګڼونه ارزښت لري، چې په پسې ګڼ يو ورزياېږي، نوی ګڼ ترې لاس ته راځي يعنې لکه ورسره بلد له کيڼ ښي لور ته. بنسټيز ګڼونه دا لاندې ګڼنځښې لري؛

۰ ، ۱ ، ۲ ، ۳، ۴ ، ۵ ، ۶ ، ۷، ۸ ، ۹ او يا

0,1,2,3,4,5,6,7,8,9 يا 1,2,3,4,5,6,7,8,9,10

کېدی شي د ګڼونود دې ډول ليکنو سره ځنې شمېرپوهان هم انده نه وي، ګوندې داصفر يا همداسې دا لس څنګه ورزيات شوي، خو دا مو د خبرو موخه نه ده.

زموږ په ادبياتو کې رقم او ارقام ګورم، خو زهيرې نهپوهېږم، چې داڅنګه او ولې. نهپوهېږم چې رقم څه ترېپوهېدنه لري، خو سم يې دا د ګڼونو نځښې دي.

ګڼونه همداسې د ځای ارزښت له لارې خپل ارزښت ښايي، دا په دې مانا چې ګڼونه ځای لري او د هغې ځای سره ځرګنديږي، چې دا په کوم ځای پروت ياليکل شوی يا ځاينيولی ګڼ څه ارزښت لري. دا د ګڼونو يو سيستم جوړوي داسې په نامه لسيز سيستم يادېږي.

ګڼونسيستم د ګڼونو د انځورولو له پاره يو سيستم دی.

د ګڼونو ځو سيستمونه شته، خو د هغو نورو سره موږ سر او کار نه لرو.

## لسيز سيستم کوم دی؟

د دې لپاره دا لاندې لښتکی باسو او ګڼونه يې بيا روښانه کوو، چې دا کورونه يا ځايونه کوم ګڼ ارزښت لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



| يويز | لسيز | سليز | زريز | لسزريز | سلزريز | ميليونيز | لسميليونيز | سلميونيز |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۶ | | | | | | | | |
| ۸ | ۳ | | | | | | | |
| ۰ | ۱ | ۲ | ۰ | ۵ | ۸ | ۰ | ۰ | ۲ |

ګڼونه له کيڼ ښي لور ته – لکه د تل په څېر- ليکو او د ګڼونو ځايونه يا کورونه له ښي کيڼ لور ته:

هر ځای له ۰ تر ۹ پورې ګڼونه خوندي کولی شي او بيا يې ارزښت له ځايه څرګنديږي.

يادونه: که صفر د يوه ګڼ کيڼ لور ته وي، چې بل ګڼ پسې نه راځي،نو هغه نه ليکو.

پورته د هر کور لاندې تاسو هغه ګڼ لوستلی شئ، لکه د دريم لښتکي کې سلزريز کور کې ۸ دي، نو د دې ګڼ ارزښت اته سوه زره دی. په دويم لښتکي کې په لسيز کور يا ځای کې ۳ دي، نو دا د دې ګڼ ارزښت ديرش دی او داسې نور.

ګڼون: د ګڼلو له لارې چې د يوې ډېرۍ توکو څومروالی راکوي، دا د دې ډېرۍ دتوکو له ګڼون جوړه ده، چې موږ ورته تراوسه تعداد – چې د پښتو ترپوهېدنه يې څومره والی دی- وايه، وايو

ځنې کسان په ځانګړې توګه کوچنيان د ګڼلمرستې لپاره د لاسشمېرونې ( د ګوتو شمېرلو په مرسته) څخه کار اخلي.

د دې موضوع د لا ډېرو روښانولو څخه تېرېږو او په دې بسيا کوو.

ګڼ: په يوه ځای کې چې يو څه شيان ډېر سره يوځای شوې وي، نو وايو، چې ګڼ کسان راټول وو، نو بايد فکر ورته وکړو، چې دا به همغه د عربي متعدد نه وي؟

ګڼ (زيات يې ګڼونه) هغه څهدي- لکه پورته مو چې ګوته ورته ونيوله – چې ګڼل پرې کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګڼون: نن غونډې ته ګڼ کسان راټول شوي وو، چې ومو ګڼل، ګڼون یې تر ۱۲۰ پورې رسېده.

مور په ورځني ژوند کې وایو یا زمور ځني کسان یا لیکونکي، چې په ګڼ شمېر خلک راغلي وو. دلته موخه هم د شمېر څخه زماپه اند دا ګڼ دی. که ووایو، چې نن ... ګڼ کسان یا ډېر ګڼ کسا ...، نو هم موخه پوره کوي.

## شمېرل: الماني یې rechnen اګرېزي یې

To comute;to reckon;chage; estimate; to sum up, to value نور هم وو

.....د ګڼونو سره شمېرل کیږي. داپه دې مانا، چې دا ګڼونه د اړونده کارونو یا ښنلونو له لارې سره شمېرو. داپه دې ترې پوهېدنه چې دا کمښت، وېش، زیاتون، ځل، ریښه نیول، اېنتیګرال او داسې نور چې مور سرته رسوو، نو ګڼونه سره ښنلوو او دا شمېرل دي.

د ګڼونو سره شمېرل:

دا ګڼونه چې یو په بل زیاتوو، یا یو له بل کموو، یا وېش، ترې رابېلېدنې( مشتق) او نور، نو دا کارونې په شمېرپوهنه کې څه بولو؟

دا په دې ترېپوهېدنه، چې د ګڼونو سره یو کار یا شمېرپوهنیز کارونه سرته رسوو، چې همدا د ګڼونو سره شمېرل بولو.

د ګڼونو نور ډولونه:

که مور څلور افغانۍ ولرو او پنځه افغانۍ راباندې پور وي او داڅلور افانۍ پهپور ې ورکړو، نو له څلورو پنځه کموو – نورو شمېرنیزو کارونو څخه یې تېرېږو- او داسې یې لیکو:

$$4 – 5 = - 1$$

دا -۱ خو پیداېښتي ګڼ نه دی، نو له دې امله دا ګڼونو چې پیداېښتي ګڼونه ورسره شي ټولګڼو ته غزیږي او ټولګڼونه داسې لیکو.

ټولګڼونه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



{… 4,- 3,- 2,- 1,0,1,2,3,4,5 …} دا د ټولګڼونو ډېرۍ ده .

rationale Zahlen: راشنل ګڼونه: هغه ګڼونه، چې د ټولګڼونو د ماتو په څېر لیکل کیږي یا لیکلکېدی شي.

ما دا هوښیار ګڼونه بللي. دا ناخیالي هم بللی شو، چې اېراشتل یې بیا خیالي ګڼونه وبولو( پسې راځي)

Das rationale Denken رښتیا اند یا رېښتونی اند.

Der Mensch als rationales wesen انسان د یوه رېښتینې شته په څېر.

هوښیار په فکر سم او یا موخور.

Ration هره ورځ د خوراکي موادو وېشل شوې ډېرۍ.

دا ګڼونه داسې لیکو:

$\frac{a}{b}$ یا $\frac{۵}{۷}$

په پورته کې دا مات دي، چې دا پرته کرښه یې نځښنه ده، پنځه ماتباندې او دا اوه یې ماتلاندې بلل کیږي. موږ ورته صورت او مخرج وایو، خو زه نه پوهېږم، چې له دې څه پوه شو یایې تربېپوهېدنه څه ده.

له دې نو څه پوهېږو؟

دلته د بېلګې په توګه یو یووالی ( موږ به ورته وایو واحد، خو ناسم دی، ځکه دا یو نه دی) په اوه برابرو برخو یا ټوټو وېشل کیږي او پنځه ترې اخستل کیږي. لکه که یو درمند ولرو او دا درمند د بزګر او خاوند منځ کې داسې ووېشل شي، چې د درمند د اوه برخو څخه پنځهبرخې دې بزګر ته ورکړي، نو داسې یې لیکو.

لوستل یې: پنځه پر اوه یا پنځه له اوه او یا پنځه اومه، همداسې که ولرو:

$\frac{۳۵}{۱۰۰}$ نو دا هم داسې لول: پنځه دېرش په سلو یا پنځه دېرش له سلو او یا پنځه دېرش سلمه ( له شل کاله را په دې خوا زموږ ډېر ژبپ،هان او نور لیکوالان دې ته ډېر ناسم پنځه دېرش سلنه وایې، چې د ژبې او شمېرپوهنې له لارې سره ډېره بېلاري ده. زه تل دا هیله کوم، چې داسلنه نه شته).

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګوری چې پیداېښتي – اوټولګټونه هم د دې ګڼونو برخه یاښـهیې برخدېږی ده، چې هر یو یې یو ماتلاندې لري.

یو بل ډول مات هم لرو، چې هغه لسمیز مات بلل کیږي او داسې یې لیکو: لکه څنګه چې ورسره بلد یو، له کیڼ ښـي لور ته:

0,378 دلته په دې ګڼ کې په یوېز کور یا ځای کې صفر دی، پسې لسمیزه نخښه ده پسې داسې لوستل کیږي: درې، اوه، اته او ...

څه ترې پوهېږو؟

په لسمیزو ځایونو کې له کیڼ ښـې لور ته لومړی ځای لسمیز ، دویم ځای سلمیز او دریم ځای زرمیز او دا سې نوردې. دا په دې ترېپوهېدنه چې درېلسمیز اوه سلمیز او اته زرمیز دي. له دې داسې پوهېږو، چې درې له لسو، اوه له سلو او اته له زرو. داسې هم په ناورځني ډول ویل شو، چې درېسوه اته له زرو څو که دا په دې بل مات غواړی واړوی دا بیا داسې لیکو:

$$0,378 = \frac{378}{1000}$$

او دا مات یې داسې یې لولو: درېسوه اته اویا پر زرو یا درېسوه اته اویا زرمه

Irationale Zahlen( شمېرپوهنیز)اېراشنل ګڼونه ، ګڼونه چې یوائې د ناپای لسمیز مات په څېر لیکلکېدی شي $\pi$ ; $e$ ; $\sqrt{2}$ ، او نور. اې د اویلر ګڼ او پي د ګردی ګڼ بلل کیږي. چې دا په لسمیز مات ناپای لیکنه لري او نه پرې کیږي.

دا ګڼونه یاخیالي او یا ناهوښیار ګڼونه بللی شو.

د دې دواړو ګڼونو ډېریو ټولنې ته ریل یارېښتوني ګڼونه وایو.

او دا نو دا موږ چې ورسره شمېرل کوو، د دې ټولو ګڼونو ډېریو ټولنډېری ده.

یادونه: زموږ د درې ژبې شمېرپوهنیزو لیکنو کې یې، چې په پښتو مو هم همداسې ترې رانیولي دا ناطق او غیرناطق اعداد بولې. نه پوهیږم، چې په کوم دلیل او یا به په عربي کې همداسې بلل کیږي. وړاندیز: که هوښیار او ناهوښیار ګڼونه یې وبولو، هم موخه ور او هوښیار به وي.

دا وی ګڼل او اړونده ویونه یې باید له لاسه ورنه کړو: موږ په شمېرپوهنه کې دا ګڼل نږدې د شېرلو له پاره له لاسه ورکړي یا د دې وې له منځه تلل مو لا د پخوا پیل کړي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو دا باید بېرته راوګرځوو په هغه خپله اړونده کړلو سره. هغه چې په درې کې ورته شمردن د شیانو د ځومره والي لپاره کاروي، موږ هم په پښتو دې ګڼلو ته شمارل یا شمېرل وایو، داپه دې ترې پوهېدنه، چې هغه خپل ګڼل مو دې شمېرلو لپاره له لاسه ورکړي.

یادونه: که یو وی ډېر وخت ونه کارول شي او په ځای یې بل وی وکارول شي، نو دا وی بیا له ژبې ورکیږي، نو راځئ وهڅېږو، چې دا ګڼل راڅخه ورک نه شي.

لنډ بیا:

ګڼل : د یوې ډېرۍ د توکو د ځومره والي اوڅو موالي د څرګندولو لپاره دا شیان ګڼو. دا مو تل لرده.

ګڼنه: د ګڼلو نوم یا سبستانتیو ( دا مو هېر کړي یا نه لرودل)

ګڼ(ز. ګڼونه). هغه څه چې ګڼل برې کیږي ( دا نه لرو یا مو هېر کړی).

ګڼ( څه شیان یا کسان، چې یو ځای راټول او یو له بل سره تنګ ځای په ځای شوي یا ځای نیولی وي) لکه: نن په غونډه کې ګڼ کسان یا ډېر ګڼ کسان ( د ګڼشمیر څخه څه نه پوهېږو) راغلي وو. دا مو لرووده

ګڼون: تعداد یا انګرېزي او الماني Anzahl, Nummer ( دا ورځنی نه دی، دپام وړ دئ)

ګڼه: شماره . دا مو لرووده.

ګڼځښنه: ګومان مې دی، چې دې ته رقم او ارقام وایو(؟). زه نه پوهېږم، چې د ارقامو ترې پوهېدنه همدا ده، که څنګه؟

یادونه: زما لیکنې داسې راته برېښي، چې زه به سوچ بوچ ځانله وم او ځانله یم هم، له دې به دا لاس ته راوړنه ولرو، چې زما مغذ به څه سم کار نه ورکوي. که داسې وي، خو دا تېر کار شوی، تاسو مې ورسره ستړي کړي یاستئ نو له دې وروسته به نور- که تاسو دا زما د لیکنو لوستونکي غواړئ- که څه هم نور څه نه شم کولی خو نور به له لیکنولاس واخلم.

یواځنی هیله مې دا ده، چې څوک راسره ستړي شوي نه وی.

دا یو څو غونډالې دې هم په ورزیاتې وي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



Also, es gibt keine größte **Zahl**

So there is no largest **number**

نو، خورا ستر ګڼ نه شته.

Das ist der Abstand zwischen jeder **Zahl** und dem Mittelwert

This is the distance between each **number** and the mean

دا د هر ګڼ او منځ ارزښت منځ کې واټن دی

Lassen Sie mich die **Zahl** errechnen

So let me get the **number**

اجازه راکړئ چې ګڼ يې وشمېرم. او د انګرېزي ژباړه به يې داسې وي: اجازه راکړئ ګڼ راواخلم يا راوباسم نور ښه يې : لاس ته راوړم.

اروا ښاد پوهنوال ډاکتر ګل حسن وليزي ته

## Kasus کاسوس يا حالت:

يوه پيليادونه: زموږ ليکوالان او ژبپوهان په دې پسې هم ګرځي، چې دا ويې ښکلې برېښي او دا بل دومره نه. ګورئ ژبو کې نه ښکلې او نه ناښکلې شته، يا دواړه په کې شته.

د حالتونو په هکله مې د الماني په مټه څو ليکنې کړي، خو د نورو ليکنې مې په دې اړوند ونه ليدې او نه پوهېږم، چې دا حالتونه سم څېړل شوي وي، په خواشينئ وايم، چې دما لاس ته نه دي ( نږدې مې ليکلي وی،، تر لاسه شوي نه دي، چې د ،، تر،، سره ناسم دي) راغلي. له دې امله يې بيا ستاسو مخ ته ږدم، چې مرسته وکړئ او پوه شو، چې موږ په پښتو کې څو حالتونه لرو او کوم دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پېژند د الماني ژبې د حالت: حالت یوه ګرامري کاټېګوري( پېژند لاندې کتل کیدی شي) ده، دا په دې پرېپوهېدنه چې یوه کاټیګوري د نومیز وییدولونو اوړېدنه یا بڼه بدلېدنه کې. دا د یوې ِغونډالي بلواکوالی په ګوته کوي، یا د یوه ویي په واکمنۍ کې وي، یا بېلابېل ادوربونو دندې په ګوته کوي. دا ګراماتیکي کاټیګوري د یوې ژبې جوړښت تیرې، وییونه او غونډالبرخې، په بېلابېلو ټولګیو وېشي.

یادونه: دا ،، د نومیز وییدولونو اوړېدنه یا بڼه بدلېدنه،، په الماني کې په دې پرېپوهېدنه ده، چې په الماني ،، نومېز وییونه خپله بڼه بدلوي او له هغې بدلېدو یا اوړېدو سره سرې دا حالتونه پېژني یا دا حالتونه ترې روښانه کیږي.

د لیکني پای وګورئ..

کاټېګوري:

پېژند: یوه ګراماتیکي کټېګوري د یووالو( لکه نومونه او کړنه) یو ټولګی دئ یا نخښې( لکه د بېلګې په توګه ګڼون( تعداد) او حالت)، کومې چې د غونډالو یو ګډ خوي سره لري. دا د ژبې، چې موږ یو له بل سره پرې غږېږو، جوړښت تیرې دي.

حالتونه چې موږ ور سره همدا له پیله دپښتو په حالتونو هم په کې فکر کوو:

په الماني ژبه کې موږ څلور مورفولوجیکي ( د سوبستانتیو وییېنه او ارتیکل په نخښه کوي) حالتونه پېژنو. دغه څلور حالتونه به موږ د پښتو لپاره – په اندله توګه - هم وڅېړو او وبه ګورو، چې څنګه دا په پښتو کې راځي او یو له بل سره به په کې مرسته وکړو.

حالتونه په الماني له دې امله لاندې راوړم، چې په الماني پوه هم راسره مرسته کړی شي، که ما چېرته تېروتنې کړې وي او یا نور څه پرې ور کومو یا زاتوي.

---

- den Nominativ, 1. Fall, Wer/Was-Fall
- den Genitiv, 2. Fall, Wes(sen)-Fall
- den Dativ, 3. Fall, Wem-Fall
- den Akkusativ, 4. Fall, Wen/Was-Fall.

Beispielsweise ist in dem Satz

„*Die Frau gibt ihrem Bruder den Hut* ihres Mannes.“

(c) ketabton.com: The Digital Library



*Die Frau* das Subjekt (im Nominativ), *ihrem Bruder* das Dativ-Objekt (= Ergänzung im Dativ), *den Hut* das Akkusativ-Objekt (= Ergänzung im Akkusativ) und ihres Mannes das Genitiv-Attribut (= Ergänzung im Genitiv).

په الماني کې دا حالتونه د پوښتنو سره ښه روښانه کيږي او موږ به د پښتو لپاره هم ورڅخه ګټه واخلو. موږ به همدا د الماني په مرسته وڅېړو. چې دا دپښتو سره سر خوري او که څنګه.

د پښتو لپاره مې وړانديز دئ او روښانه يې ستاسو مخې ته ږدم، چې اندونه مو راسره ګډ کړی.

د الماني په مرسته، چې ټول سره په وغږېږو، چې څه ورزيات او يا کم کړو، نه، چې څه ترې کميږي او يا ورزياتيږي. دا په نورو ژبو پوه پښتانه هم هرومرو مرسته کولی شي په تېره هغه کسان، چې په روسي ژبه يې زدکړې کړي وي او ښه پرې پوهيږي.

۱ - نوميناتيو يا نوميز، لومړی حالت، څوک wer، چا wer، څه( شی) was – حالت

څوک راغی. چا وويل. څه (شی) مات شو.

په پورته پښتو کې ګورو، چې هغه کړنوييونه هم سره بېلېدی شي، د کوم لپاره، څوک راځي او يا چا.

۳ -جينيتيو يا خاوندوالی، دويم حالت، د چا wessen – حالت

د چا کور.

۳ -داتيو ، دريم حالت،له چا، چاته wem –حالت

ميز دې له چا څخه واخست؟ ميز دې چا ته ورکړ؟ ميز له چا سره دی؟

که دا داسې سم وي، نو دا به زموږ ډېرې ستونځې اوبی کړي.

۴ – اکوزاتيو، څلورم حالت،څوک (؟) wenڅه شی was–حالت

(c) ketabton.com: The Digital Library



تا ځوک وواهه؟ تا څه وویل؟

دا ځوک او څه (شی) د لومړي حالت سره ګډ دي او په دې حالت کې ،، چا،، نه شته.

له پورته جوړښتونو سره مورږ خپلې ستونځې پېژنو، چې کومې دي؟

د بېلګې په توګه په لاندې غونډاله کې:

ښځه د هغې د مېړه خولۍ د هِغې ورور ته ورکوي.

ښځه (ځوک) سبجکت ( په نومیز حالت کې) د هغې( د چا)، د مېړه ( دچا) جنیتیو – اتریبوت( په جینیتیو کې پوره کونه) خولۍ ( څه شی) اکوزاتیو- شی( په اکوزاتیو کې پوره کېدنه) د هِغې(دچا) ورور ته ( چا ته) داتیو- شی ( په داتیو کې پوره کېدنه)

دلته به د له... څخه او له... سره لږ وڅېړو.

زما پخوانیو لیکنو کې او همداسې زما په اند په اند وم، چې دا ،، له...څخه،، او همداسې ،، له ... سره،، اړیکویونه – یا څېرکومپوزیشنونه دي یعنې یو څه په غېږ کې نیسي، دا په دې پرېپوهېدنه چې مخ او پسې راځي، خو د دې لیکنې سره مې اند ـګومان کړم ، پوهنیز به وي – داسې شو، دا ،،له،، د،، له ما، -هغه،-تا،، سره د داتیو نومځای نیوي له امله دی، دا په دې ترې پوهېدنه، چې دا ،، له ما، له تا، له هغه او نور،، سره راځي .

زه د مخه په دې اند وم، چې ګوندې دا د الماني von, mit او انګرېزي from, withکره انډول به ،، له ... څخه، له ... سره،، وي، خو دا انډول یې ،، څخه او سره،، دي.

راسره، درسره، راڅخه، درڅخه، ورڅخه،

په پورته کې دا را، در، ور څخه داسې نومځاینیوي دي، چې د هغه داتیو لپاره راځي، دا په دې ترې پوهېدنه چې : را = له ما، در=له تا او ور= له هغه، له هغې ( څخه، سره) دي. په دې هم باید وغږېږو.

## هیله:

(c) ketabton.com: The Digital Library



له ګرانو لوستنوکو څخه هیله کوم، چې په دې هکله ورته لیکنې چېرته پیدا کیږي، له ما سره يې ګډې کړي.

پای یادونه: په نورو ژبو یا الماني کې دا نومیز نومځاینیوي بڼې بدلوي، خو په پښتو کې په دوي د حالت سره سم په نومیز نومځاینیوي څه ورزیاتیږي.

که تاسو نور وړاندیزونه لرئ او د سمون لپاره يې لاښه مرسته کوئ، نو ځانونه ترې مه ژغورئ، خو په هر حال باید زما په اند ځانونه یوې لاس ته راوړنې ته سره ورسوو.

هغه له نورو ژبو څخه راوړنې يې هم اړیینې دي، چې که ګران لوستونکي برخه په کې واخلي او دا موضوع یوه ښه پایله ولري.

نور ناسمونونه هم ورسره سمیږي: که سره هم اند شو، نو دلته به هغه زیاتې ستنوځې اوبې شوې وي، بیانو دا ،،تر،، هرو مرو له دې ځایونو څخه ځغلوو، چې دا اوس يې په دې ځایونو ناسم کارونه باندې پوهېږو، خو نه يې سموو.

## دربیو ؟

ما داڅو ورځې د مخه په ،، شمېرل او ګڼل،، یوه لیکنه کړې وه، خو د وخت سره تل نوي څه مخ ته راځي، چې هغه ناسم وي او باید و څېړل شي یا څېړل شوي وی.

لولو:

،، تر راتلونکو دربیو ورځو .... ،،

نو:

درې ورځو او که دربیو ورځو ...؟

زه له دې امله دې څېړنې ته اړ شوم.

دموږ ډېر ژبپوهان په دې اند دي، چې یو څه ښنګه وایو، همهغسې يې باید ولیکو. دا دوي په دې پرېپوهېدنه هم بولي، چې ښنګه يې دی لولي ، نو همهغسې باید ولیکل شي او که له بل سره توپیر ولري، نو دا به هم وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بېلګه به يې په ګڼونو کې راوړم: زيات ژبپوهان او هم نور ليکوالان دا دريم داسې ليکي: دريیم او کله کله ان دریيیم هم ليکي. دا يوه ته به يوه ،، ي ،، برېښی او دې بل ته دوه(دوې) او ان بل ته به يې درې، نو يوه انارشي منځ ته راغله.

زه چې ۳ ـم لولم، نو هېڅ وخت مې باور دا نه دی، چې له يوې ،، ی ،، څخه دې دا زيات وي، ځکه ۳ خو درې دي، چې بيا م ور سره تړل کيږي. څنګه چې وي هم په هر څه کې يوه لار شته، چې ليکونکی په همهغه لار بايد لاړ شي.

موږ دا په ګڼونو او تورو ليکو:

۱ ـم (يوم)، ۲ – م (دويم)، ۳ – م (دريم) ( ماته دلته بله،، ی،، اړيينه نه برېښي.).

۴ – م څلورم او نور. ګورو، چې د ځوموالي هر ګڼ پسې يو -م نښلي يا تړلکيږي. ،، - ،، تړننخښه ده او په پښتو کې داسې دود نه ده، خو بله لار موږ ته هم د دې سمون لپاره نه شته او همدا لار ده، چې موږ بايد پرې پوه وو.

ژبه هم له پيداښته لار لري او دا لار د چا په خوښه نه وي، چې د چا څه زړه غواړي، هغسې يې وليکي.

اوس راځو ،،درې او دريیو،، ته

ګڼونه له ۱ پورته په ۱ تل ورزياتيږي او له دې سره شيان ګڼو، دا په دې پرې پوهېدنه، چې څووالی او ځوموالی يې ځان ته روښانه کوو.

موږ لرو: د ورځې زيات ورځو دې دلته په ورځ نورې ورځې ورزياتيږي، نو که په ،،دريو،، يا نور هم ناسم ،،دريیو،، وليکو، په درې به څه ورزيات شي او څه به ورزيات شي، نو که هغه يو ګڼ وي څلور به شي او ورپسې او که ګڼونه نه وي، نو څه شی به وی؟.

دلته درې يواځې د ورځو ګڼون په ګوته کوي او نه د درې زياتون. که دا په فکر کې ونيسو، نو دا د دوه بېګانو ستونځې به هم ورسره اوبی شوې وي.

لومړی:دا درې پخپله د يوه زيات دي، نو نور سره زياتيږي نه. سم يې: . ..درې ورځو کې... ورځو د ورځې زيات دی او داچې زيات دی، زياتوال يې همدا درې دی او بس.

دويم: ګوری ګرانو ليکوالانو دا پورته دريیو ... نه، دريو ... سره ليکل کيږي. هرچېرته يو څه مه زياتوي. د يوه څه نوم له يوه څخه دزياتو څووالو لپاره د ژبلارې له لارې يو ،،و،، ورزياتيږي او نه نور څه پسې هم. تاسو به يې د دوه بېګانو سره لولی، خو زه په کې د دوه، درې يا ډېرو بېګانو نه دا چې اړتيانه ګورم، دا ناسم هم دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د شمېرپوهنې اړوند: موږ په غونډو کې وایو، چې لسګونو، سلګونو یا زرګونو کسانو برخه اخستې ده. دا په دې پرېپوهېدنه چې څو لسو، څو سلو او نور .....

موږ دا په لوټونو کې لرو، دوه ګون، پنځه ګون، لسګون او نور...

که څوک ووايي، چې درېګونو ورځو کې، نو له دې دا پوهېږو، چې درې، درې ورځو کې یا په هرو درې ورځو کې.

## ۱۵ بشپړاند ته

دابه هم په دوه برخو کې روښانه کړو:

لومړی: ۱۵ بشپړاند:

یوه بله لیکنه کې لولم: ... ۱۵بشپړاند.... دلته هم ګورو، چې ۱۵ یو ګڼ دی او دا د بشپړاند سره ۱۵ په دې پرېپوهېدنه دی، چې ګوندې دا بشپړاند – چې هر څه وي - ۱۵ دي، خو ګومان مې دی، چې دلته موخه ترې بله ده او هغه دا چې د ۱۵ سره تړلی یو بل څه شته، چې ځانله نه لیکل کیږي. دلته د لیکونکي موخه د کوم قانون یا بل څه پنځلسمه ماده ده او دا داسې لیکو: ۱۵ – م بشپړاند، چې دا یې موخور څوموالی دی.

دویم: بشپړاند:

په پورته کې ځما په اند دا لیکونکی د بشپړاند سره د یوې قانوني یا دبل څه کومې مادې بشپړوونکې او یا بشپړېدونکې ماده غواړي په ګوته کړي، چې ځما په اند به یې ښه داوی، چې لیکلي وی، د ۱۵-مې مادې بشپړونکې یا بشپړېدونکې او نه بشپړاند.

ولې؟

که دا –اند زموږ لیکوالانو کتلی وي او دا کار خو هرومرو شوی، نو ډېر زر به دا لیکاندان خپل ښار ته تلونکې ملګري تلاند او له هغې ځایه د میوو راوړاندان کړي، چې بیا یې بېرته سماندانو ( موخه ترې سم اند، چې ګوندې اند سم وي، نه ده) ته پوره هڅې هم ستونځمنې وي. د دې غونډالې به راته ډېره بخښنه کړی، ښه نه برېښي.

زه په خپلو لیکنو کې دا تل یادوم، چې ژبه دچا د خوښې سره باید بدله نه شي او ژبلارې تل باید په پام کې ونیول شي، نو که دابشپړاند بیاد هغه د موخې له مخې بشپړونکی یا بشپړېدونکی ولیکي، چې کوم یې موخه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګوري پښتو ته زموږ لیکوالانو د سلم په ځای سلن راننباسلی، چې ټول اوس په همدې ناسمون کې راګیردي او اند یې نه پرې رسیږي یا یې سر پرې نه خلاصیږي او دا د شمېرپوهنې له لارې سره هم پوره مخامخوالی دی.

د بشپړاند نورې ستونځې او لار ورېکېدل:

موږ بشپړونکي – که د کوم قانون ماده وي- او بشپړېدونکي لرو، چې یو له بل پوره توپیر لري.

له بشپړاند څخه نو موخه اوس کومه ده؟

ایا دا ۱۵ –مه ماده پخپله بشپړېږي، چې بیا د بشپړاند په ځای بشپړېدونکي راخي او که دا د کومې مادي ۱۵-م بشپړونکې ده. دې توپیر ته دې دلته پام وي. نو هیله مې ده چې د ژبلارې سره سم هغه خپله موخه ور څه ولیکو او د ژبې پیدابښتې لار ته بدلون ور نه کړو.

ګورو، چې دابشپړاند خپله موخه نه شي روښانولی او ناسم پوهاوی ورڅخه منخ ته راځي، نو داسې پرېکړه کېدی شي، چې دا په دوه پرېپوهېدنو دی او له دې امله ناسم یا غولونکی دی.

د کورني نومونو ایښولو لپاره دا -اند ډېر ښه غورځنګي برېښي لکه بهاند، هڅاند یا همدا بشپړاند او نور، خو دا نو بیا د دې کس خوښه ده، چې څه دی؟

دبېلګې په توتګه چې ایا د اوس بهاند دی، لکه اوبه شیدې او نور، دا په دې ترېپوهېدنه چې بهیږي او که دا دبېلګې په توګه بهونکی دی، چې اوښکې بهوي، لکه هغه غاز یاتښتېدونکی، چې اوشکې بهوي.

همداسې هڅاند، چې هڅېدونکی دی او که هڅونکی او یا بشپړاند یو څه بشپړوي او یا بشپړاند چې بشپړیږي.

داسې لیکنې یواځې زما دي، چې یا د تېرو د ویشتلو یم او یا غور پرې وکړی. لیکنې مې وګوری.

چې هرڅنګه وي، ستاسو پرېکړې ته به خوښ شم.

ډاکتر ماخان میږی شینواری

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پښتو غني کول

پښتو ِغني کول او پښتو اړتیاوړ کول.

پښتو غني کول او پښتو اړتیاوړ کرځول دا دوه یو د بل سره مخامخ او په ځت اړیکې لري، دا په دې پرېپوهېدنه، چې که پښتو غني شي، نو اړتیاوي پوره کوي او که پښتو اړتیاوې پوره کړي، نو پښتو به غني شوې وي.

لومړی: څه تر اوسه شوې یا نه دي شوي؟

دویم: نو څه باید وشي، چې د اړتیاو پوره کېدو ته ورسېږو؟

پیلیادونه: د پښتنو هغه زیاته برخه لا تراوسه خپلې زدکړې په پښتو نه کوي، نو دا پیداښتي ده، چې ښېرته یې په پښتو نه شي ورکولی، که استاد دی او که بل څه مامور. دوي له ښونځي څخه نیولې تر پوهنتونه هغه پوهنیز نومونه هم په پښتو نه زدکوي، نو هرومرو پرې پوهیږي هم نه. تر اوسه خو داسې ده، چې دیو څه په پښتو پوهېدلو ته ان پښتون هم نه دی اړ شوی او د خپلې ژبې سره هم داسې د اړتیا په بنسټ مینه نه شي پیداکولی یا نه پیداکوي یا نه شي لرلی او زیات یې په دې اند هم دي، چې څه پروا لري، ژبه د پوهېدلو او پوهولو اله ده او بس، چې دا پوره تېروتنه ده. خبرې راڅخه اوږدیږي. زه هڅېږم، چې هرڅه لنډ ولیکم، خو نه کیږي.

لومړي ته:

۱ . ۱- داسې به نه وایم، چې په ژبه کې هیڅ نه دي شوي، خو موږ تراوسه هغه بنسټیزې زدکړې، چې د ښونځې زده کړې دي، په پښتو نه دي کړي. دا به پښتنو ته لږ ستوغه وبرېښي، خو دا تاسو له ساده ژبې، چې د کلو پښتانه یې هم وایي، نور څه په پښتو ویلي او په څه یې پوهېږو؟

موږ په پښتنو ځایونو کې پوهېږو، چې دبېلګې په توګه غونډوسکه، پنډوسکه یا توپ څه شی دی، خو که څوک هم راته ووایي، چې عرب دې ته کورة وایي، ورته خاندو او داسې ویېنې راته لیونی برېښي، ځکه چې هغه څه چې په ښونځې کې موږ په ځمککچپوهنه کې وایو، هغه کرة ده او غونډوسکې سره سر اوکارنه لري. او یا که څوک ووایي چې کونج

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته عرب زاويه وايي، داخو هم درپوري خاندي او که پروت ولاړ ته افقی او عمودي وايي، دا خو نو لا نور هم پسې خرابېږي. په ښونځي کې مو نه دي زدکړي، چې د عربي مايع موږ بهېدونکي بولو، نو دا خو موږ لږ د مخه ناسم اوبلن کړی.

۱ . ۲ - د نوو ویونو جوړولو کې، چې تر اوسه یا تر هغې مو نه لروده، زموږ مشرانو پوهانو د ویاړ وړ کارونه کړي، چې دابه ورته د راتلونکي ځوانانو هېر نه شي او ویاړ به یې تل وي.

سره د دې ټولو کارونو منځ کې تېروتنې هم راځي، چې هغه هم د ویاړ کارونه دي، خو هغه تېروتنو ته یې، چې موږ ګوته ونیسو او داتېروتنې په اوسني پوهنتوان باندې روښانه کوو، نه دا چې دامو دې یوائې دنده وي، دایو اړین کار هم دی، څوک چې کار کوي، نو ناسمونونه به ورسره وي او د ناسمونونو سمول دانه په ګوته کوي، چې زموږ د مخکني پوهانو کارتوان او کار بې ارزښته یا کم ارزښته شي. د دوي کارونه به تل ستر او د ویاړوړ پاتې وي.

بېلګي: ګوري درملتون، ښونځی ښونکی، زده کونکی، پوهنتون، پوهنځي داڅومره ښکلي او په زړه پورې نوموني دي او هر پښتون ورته پوره خوښیږي، خو د دې ښه نومونو په ترڅ کې کله، کله داسې یو نیم نوم لکه روغتون هم راځي، چې که دا رغنتون، رغنځی یا ناروغتون بللشوی وی نو هغه خپله موخه به یې ښه او سمه روښانه کړې وی.

۲ - په دې لنډ تېر وخت کې ځنو ژبپوهانو هڅې کړي، چې د کوم وی په پرې پوهېدنه یې په پښتو نه پوهېږي، هغو ته یې په پښتو غوښتلي انډول پیدا کړي، چې لږ ترلږه یې په یوه کې زه هم وم.

-- موږ څه کوو او څه مو د دې ګام لپاره کړي؟

-- پښتو سوچه کول او د دباندنیو ویونو ، چې نه پرې پوهېږو، په پښتو نومول، داپه دې پرې پوهېدنه چې موږ یې انډول نه لټوو او یو نوم ورته د پوهنیز بنست او څېړنې څخه پرته ټاکو او له دې امله ځنې ژبپوهان وایي، چې ژبه قرارداد دی، نو په څه چې پرېکړه وشي، هغه باید ومنل شي. په دې هکله لږ تر لږه زه په دې اند نه یم او په پوهنیزه دلایلو. په دې هکله مې لیکنې شته.

ژبه پیدابښت دی او پیدابښت کې قرارداد نه شته، د هرې بلې ژبې د پیدابښتي وییونو انډول په پښتو کې شته او هغه باید ولټول – او ومیندل شي. ډېر کم داسې نومونه او ویونه به پیدا شي، چې په پښتو انډول ونه لري

(c) ketabton.com: The Digital Library



--- یوه بله ستونځه چې موږ لرو، هغه داده، چې پښتو سوچه کونه غواړو، خو که څوک هغه پوهنیز څه په پښتو انډول ولیکي بیا وایي، چې دا لیکنه ستونځمنه ده او څوک نه پرې پوهیږي. دا چې ټولیزه کیږي، وخت غواړي، دا په دې پرېپوهېدنه ، چې د خپلې ژبې د ویونو ټولیزوال وخت غواړي، خو زه په دې اند نه یم، پښتو ویونه، چې هرڅنګه هم وي، پښتون پرې پوهېدلی شي او پرې پوهیږي.

بېلګې یې:

دموږ پښتو پوهانو غوښتل د عربي مایع لپاره پښتو نوم پیدا کړي، نو په هغې یې پرېکړه وکړه، چې دادې اوبلن وي، چې ما یې په همغه وخت کې هم مخامخوالی وکړ، خو د پرېکړې خبره وه.

دې ته به ګوته ونیسم- لکه تل- چې د داسې لړ د شیانو یا تنونو د خوي له مخې د ما لپاره انډول په پښتو کې له پداېښته شته او دا بهېدونکی دی. دازه نور نه غزوم، په دې هکله مې لیکنې شته او په پوهنیزه لار دپیداېښت له لارې سره سم اباد دي.

کله کله داسې کیږي، چې یو کس – په خپله خوښه، بې له دې چې په پسې راتلنه او ناسمونونو یې پوه شي- د یوه شته وي لپاره یو بل وی د دې وي د تخریب په بنه یا د تخریب سره سم پیدا کړي او هغه بیا ډېر زر زموږ د لیکوالانو او پښتوپوهانو، بې له دې، چې فکر په کې وشي یا د ژبلار له لارې ورته پام وشي، ومنل شي لکه د سلم په ځای چې سلن وایي او دا له هره اړخه، که شمېرپوهنیز او ژبپوهنیز وي ناسم او پوره ناسم دی. ( په دې هکله مې لیکنه شته). دا باید ووایو، چې د موږ د لیکلوست خاوندان ناسم ویونه ډېر زر خپلوي او کاروي یې، لکه همدا د مخه سلنه او اوبلن.

دویم : نو څه باید وشي، چې د اړتیاو پوره کېدو ته ورسېږو؟

دویم ته: د هیواد او همداسې دژبې وده خو تل د حکومت دنده ده. دا چې دموږ ستونځې لا تراوسه ډېرې دي او حکومت مو د دې جوګه نه دی، چې داسې اړیین کارونه سرته ورسوي، نو باید دې ته یې اړ کړو او دا روا غوښتنې وغواړو.

نو څه باید وکړو:

۲ . ۱ – د ژبې وده د حکومت په څلوردیوالی کې.

د ژبې د ودې لپاره هڅې -لکه ګوته مو چې ورته ونیوله- هممهال باید له ښونځې پیل او پوهنتونونو ته ورسیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو څنګه:

پيل به د لومړي ټولګي څخه تر پوهنتون پورې غبرګې مخې ته بيايو. اوس موږ په هر مسلک کې په هرځای کې پوره توان لرو، چې هر څه مو په پښتو کولی شو او دا بايد په پښتو وي. دا چې بايد په پښتو وي، نو د دې پرېپوهېدن څه ده؟

موږ بايد د ښونځي او پوهنتون کتابونه په دا تراوسه ورسره بلده پښتو نه، چې مسلکی نومونه مو پښتو نه وي. دا مسلکي نومونه بايد پښتو شي، دا په همغه انډول پښتو، داپه دې پرېپوهېدنه چې د بېلګې په توګه په شمېرپوهنه کې دا ضرب زباني په پښتو واړول شي، نو څه به ورته ووايو؟

که دا له فارسي همداسې په پښتو انډول واړوو، نو د ،، ژب – يا ژبنی ضرب يا ځل به مناسب نه وي. موږ خو اوس په نورو ژبو هم پوهېږو، هغوي کې ګورو، چې هغوي څه ورته وايي؟

د الماني انډول پښتو کې ،،يوځل يو،، دئ او دا ډېر مناسب بلل دي، ځکه ضرب زباني ،، د ژبې ځل،، ښه نه راځي.

نن زموږ پوهان په داسې حالت کې دي، چې دښونځي هر عربي وی د نورو زده ژبو په مرسته ياخپله د عربي په مرسته، چې په عربي پوه وي يا په عربي پوه څخه وپوښتل شي، په پښتو کولی شو. له دې سره مو لوستنه ډېره ساده او زر پوهوړ کېدی شي.

ما په خپلو ليکنو کې ټوله ګټه له الماني څخه لاس ته راوړي ياخستې، چې - ګومان مې دئ - ښه انډول هم ترې لاس ته راځي.

دموږ لپاره ټولې شونتياوې اوس شته، موږ د مسلکي ادبياتو ميندلو لپاره اړيين نه يو له کوره ووځو- په ډېره بخښنه، چې دا ليکم، پوهېږم، چې شمېروني ته لاس رسی بايدولرو، خو دا کسان، چې داکار کوي يا يې کولی شي، هغوي ورته هرومرو لاس رسی لري- دا اوس کورته راته راغلي او دا هم شوني ده، چې د هرې ژبې ويونه په بله هره ژبه پيدا کولی هم شو.

زه له الماني ژبې څخه په دې وپوهېدم، چې کرة بايد غونډوسکه يا غونډاری وي، چې په وروسته کې مې بيا له الماني څخه دا هم وموندله، چې د فوټبال يا الماني فوسبال انډول په عربي کې ،، کرةالقدم،، دئ. دا هر څه اوس په نړيوال جال کې شته، په کور کې ورته لاسرسی لرو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له ټولو هغو کسانو، چې په وتلې بله ژبه پوهېږي، لږ تر لږه دا مرسته وکړي، چې د خپلې رېښې دا د لومړنيو ټولګيو مسلکي ويونه په پښتو کړي، چې يوه وړه ډکشنري ترې جوړه شي.

لنډ: دپښتو وده په دې پرېپوهېدنه چې مسلکي وييونه دې په پښتو شي، چې هرومرو اسان دي. له ښونځي تر پوهنتون او وراخوا.

يوه بېلګه به له کور راوړو: پوښتنه به دا وي، چې موږ به د انګرېزي په سويچ يا الماني شالتر ښه وپوهېږو، چې په دې ژبو نه پوهېږو او که په پښتو يې، چې له دې ژبو يې انډول پيدا کړي او دا يې هرومرو شته.

که دا له الماني او انګرېزي په پښتو وژباړو، نود دې انډول ترونی دی، که داڅوک غواړي او که نه. دا دوه برېښناوړوني سره ترړي او همداسې بېلوي، خو له ترنبېلوني څخه يې دا ترونی لنډ او ښه دی.

زه په دې اند يم، چې هر څه په پيداښتي توګه بله ژبه کې شته وي، په پښتو کې هم شته.

ما شمېرپوهنه په پښتو کړې او داسې څه فزيک او زموږ پښتانه وايي، چې پرې پوهېدل ستونځمن دي.

ډېر وبخښی، ما نه ده په پښتو کړې، ما يې د دباندنيو ژبو څخه انډول په پښتو پيدا کړی. زه په دې اند يم، چې پرې پوهېدل ستونځمن نه دي، خو نابلده او دا نابلدتيا پرېښول پخپله ستونځمن کار دی.

يوه هيله او ډېره اړيينه هيله به داوي، چې وييونه به توکلي نه جوړوو، چې ګوندې دا ښه دی يا دا. ويونه بايد په پوهنيز بنسټ ودان وي او د بلې ژبې سره هم انډول او خپله موخه ښه روښانه کړي، که نه راڅخه خروبيږي.

لنډ:

۱ . ۱ – پښتانه بايد خپلې زدکړې او ورزدکړې په پښتو وکړي او په هرځای کې ورته دا امکانات بايد برابر وي. دا د امکاناتو شتون قانوني امر دی.

۱ – موږ بايد خپلو د ښونځي او پوهنتون کتابونو کې هغه ويونه چې عربي او يا د بلې ژبې وي، په پښتو انډول وليکو او دا کار کېدونکې دی. دا داسې ويونه دي، چې په هغه پېژند يې پوهيږو، خو په پرېپوهېدنه يې – چې څه ده - بيا نه پوهيږو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱ - موږ باید خپل کتابونه همداسې مسلکي کتابونه – له ښونځي نیولې تر پوهنتون پورې - د مسلکي ویونو سره په پښتو کړو، دا په دې پرېپوهېدنه چې کتابونه په پښتو او هر مسلکي وی ته هم پښتو انډول ولټوو. داشته، پرته له ډېرو کمو.

۲ – هغه ویونه چې بلې ژبې ته هم نوي ننوتي وي، هغه یا همهغسې او یا د هغه څه د خوي سره سم ورته څه پیدا کړو او یا یې لږ ترلږه په لیکنه کې شننیز روښانه کړو.

۳ – ځنې وییونه او نومونه د تخنیکي نوښت او د ټولنې د ودې د اړتیاو په بنسټ منځ ته راغلي، هغه باید همهغسې وي، لکه ستاندارد. نه پوهېږم، چې عربي معیار هم همدا ستاندارد دی، که څنګه؟

زما تجربه: زه لوړه کوم، چې د ځان ښودل نه دي. موږ هر پوهنیز څه په پښتو او انډول پښتو لیکلی شو او په ژبه کې مو شته. ما دا کار شمېرپوهنه کې کړی او د شمېرپوهنې ځلوېښت کتابونه مې له ښونځي تر د پوهنتون زدکړو پورې موخه ور سرته رسولي او همداسې په فزیک کې داسې لږ څه هم د درې کتابونو د ژباړې سره.

همداسې که دما ادبي او دژبپوهنې په هکله او دپښتو ژبلار(ګرامر) وګورئ، نو وبه وینئ، چې په خپله ژبه کې هر پوهنیز څه پوره کیږي او وبه ګورئ، چې دما لخوا دباندني ویونه ډېرکم کارول شوي.

که تاسو له ما سره په دې کار مرسته وکړئ، ناسم څه په کې سم کړو او یا دا د ما ملاتړ وکړئ.

هیله ده، چې د یوه زاړه افغان مشوره مو زړه بدي نه کړي او هغه دا ده:

د ژبې وده مو بې له یوې دباندنۍ ژبې د ښې زده کړې پرته ناشونې ده، نو:

۱ – د خپلې ژبې په څنګ کې مو باید د باندنۍ بله ژبه لکه انګرېزي ښه زده وي.

۲ – په هر مسلک کې باید مسلکي کسان ښې ژباړې وکړا شي.

۳ – په نورو ژبو کې له پیداښته شته ویونه زموږ ژبه کې هم شته او هغه باید راپیدا شي.

۴ – که دباندنۍ وی هرومرو باید راشي، نو هغه باید په پښتو د ښې پوهېدنې لپاره روښانه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډاکتر ماخان میړی شینواری

# د افغانستان د علومو اکادمي او پوهنتونو پښتو څانګو ته په درنښت!

د افغانستان د علومو اکادمي پښتو څانګې او د افغانستان د پوهنتونونو پښتو پوهنځیو ته له دې پرانستې لیک سره په ډېر درنښت داهیله لرم او د یوه سپینګیري په توګه هیله او سوال ورته کوم، چې:

- که څه مو له لومړي پیل څخه په فکر ښه رانه غله، بیا هم دا یو ځل ولولې، تاسو خو به لږ ترلږ هد داسې فکر څخه ازاد شئ.

- دا یا په دې ډول لیکنه راته په پښتو کې نوې برېښي، نو له دې املله هم د پام وړ باید وي او

– داسې فکر ونه کړي، چې دامیړی یو سرزوزی، یا لیونی او یا سپیینګری سړی دئ چې د ژبې سره د مسلک له لورې سر او کار نه لري او بیا داسې لیکنې کوي او اوتې بوتې وایي نو دا د وخت تېرول دي او بس.

- ما لږ ترلږه په دې اخرو نږدې پنځلس کلونو شاوخوا په هر اړخیزه توګه د پښتو او په ځانګړې توګه د پښتو د ژبلار سره ځان ډېر بوخت ساتلی، نو بیا مې هم هیله د، چې

– دما دا لیکنه په ژوره توګه وګورئ، لکه د یوه شاګرد لیکنې مو او ناسمونونه یې راته په ګوته کړئ او که سمه مو ومیندله، نو هم دا نور بیا ستاسو د استادانو کار دې، چې سمون یې بیا څنګه ګورئ او څه وړاندیزونه کوئ.

لیکنه بیا ستاسو مخ ته ږدم:

# په پښتو ژبلار کې نوې میندنې او که....

پیل یادونه: ژبه پیداښنت دئ او څوک په پیداښنت کې ګوتې نه شي وهلی او که دا کار وشي، نو هرومرو به ناسم وي. داپه دې ترېپوهېدنه، چې ما هم دلته له ځان څخه څه نه دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیدا کړي یا جوړ کړي، هغه د پیدابښت څخه راپیدا څه مې سره شنلي یا روښانه کړي، هیله ده چې سم به مې میندلي وي..

- هیله ده، چې ویې لولی، مرسته وکړی، د پښتو ژبلارې د ودې لپاره.

- په پوهنیزه څېړنه کې باید مخامخوالی(تضاد) نه وي، دا په دې پرېپوهېدنه چې باید رد نه شي.

نن د ۲۰۲۱ ز کال د مارچ ۳۱ ـم په درې بجو مې خوب کډه وکړه، د همغه خپل چرت له امله ، خو دژبې په هکله مې میندنې ( دما پهاد) وکړې، چې له دې امله ورته خوښ یم.

دا لیکنه په څو برخو وېشم او په لاندې توګه یې له تاسو سره ګډوم:

لومړی: د ماپخوانی اند د ځنو اړیکووینو یا که غواړی، د ادپوزېشنونو په هکله

دویم: څنګه والي یا حالتونه

دریم: دا اوس مې ورته د دې لیکنې په هکله پام شوي نومځاینیوي، یا مرستندوي نومځاینیوي او یایې که هرڅه د بللو وړاندیز کوي. دا دوه برخې لري.

څلورم: پښتو- لږ تر لږه په داتیو حالت کې – یواځې پوستپوزېشنونه (پسې ځاینیوي) لري.

پنځم: له الماني، انګرېزي څخه مو د ادپوزېشنونو په پخوانی بنه ناسم پښتو ژباړلي دي

و لومړی ته: د ما پخوانی اند، چې دا ځنې ګډوله اړیکویونه به ګوندې سنترپوزېشنونه وي:

له....څخه ( سره، کره)، په .... کې، پر...باندې، تر .... پورې، و ... ته او نور. ګومان مې دا هم وو، چې ګوندې پښتو به مخ ـ پسې – سنتر ځای نیوي ولري. په دې هکله مې لیکنې شته.

دابه په لیکنه کې روښانه شي.

دویم ته: څنګه والي یا حالتونه، چې لنډ یې بیا له تاسو سره ګډوم.

د پښتو څنګه والي، پېر یا حالت ته د مشورې لپاره.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د الماني ژبلار په متړه یا مرسته دا څنګه والي (پېرونه،حالتونه) د پوښتنو په مرسته په لاندې توګه روښانوو: دلته یواځې د پوښتنو له لارې.

۱ – نومیز څنګه والی:(څوک؟، چا؟ )، (څه؟)

۲ – د خاوندوالي څنګه والی: ( د چا؟، د څه؟)

۳ - داتیو څنګه والی: ا - (له چا؟) ، ( له څه؟)،ب - (وچا؟)،(وڅه؟) پ – (په چا؟)، ( په څه؟)، ت - (پرچا؟)،( پرڅه؟)، ټ - (ترچا؟)، ترڅه؟) او نور.

دلته دې پام او خبرې پرې وشي، چې دا څنګه ونوموو، یا نومول شوي( که وي) . دې نور کې -ګومان مې دی- ستونځې نه شته.

۴ – اکوزاتیو څنګه والی: ( چا، څوک، څه)

ګورو، چې ۱ – او ۴ – یو ډول پوښتنویونه لري، څو ۱ – د کړوني په څنګه والي او ۴ – د پرېکړوني یا نه کړوني په څنګه والي کې دی.

پوښتنغونډاله جوړوو:

څوک له چا سره د چا له کور څخه د چا وکور ته لاړ او په څه کې پر څه باندې څه یې د څه پرسر کېښود؟

داسې یې ځوابوو یا روښانه کوو:

(سپین) «۱» (له تور)«۲» سره (د تور) «۳» (له کور)«۴» څخه (د ځلمي)«۵» (وکور) «۶»ته لاړ او (په کوټه)«۷» کې ( پرمېز ) «۸» باندې (کتاب)«۹» یې د چوکی ( پرسر)«۱۰» باندئ کېښود.

د الماني ژبلار له مخې به «۱» نومیز، «۲»، «۳»،«۴»،«۵»، «۷»،«۶»،«۸»او«۱۰» داتیو، «۳»،«۵» واکوالي او «۹» اکوزاتیو حالتویونه یا پېرونه او که غواړی څنګه والي دي.

که ټول سره مرسته وکړو او دا پورته سره همغږیز کړو، نو زما په اند به مو د پښتو ژبې یو څه ستونځې اوبی کړې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



يادونه: ما چې دا پورته د حالت لپاره ځنګه والی ليکلی، باور وکړی، چې دا حالت هم راته پېچلی برېښي، چې له عربي به سم وي او که نه؟

پرته له دې په دې پېر هم نه پوهېږم، چې دا به حالت ته وايي او که ځنګه؟ که دې کې هم هر ځنګه پرېکړه وي يا وه، نو يو کار به مو سرته رسولی وي. هيله ده چې اندونه سره ګډ کړو.

اوس راځو:

و دريم ته: دا اوس مې ورته پام راګرځېدلی نومځاينيوي.

دا کوم دي؟ دا ،، را، در، ور،، دي او ،،مې، دې، يې،، ، چې د کارونو يې بېلابېل ځايونه شته.

دا په دوه برخو وېشو

الف: الف ۱ ـ موږ په پښتو ژبه کې د خاوندوالي لپاره مرستندوي يا پوره او که هرځنګه يې بولې نومځای نيوي لرو:

،،مې، دې، يې،،. د دې ،،يې،، نارينه، ښځينه او ډېر هم همداسې دي او د ،،مې، دې ،، لپاره وايو چې ،، مو،، . پوښتنه دا ده چې به د دواړو لپاره وي او که د يوه لپاره.

دا هم په دوه ډوله کارول کيږي

الف ۱ ۱ – که ووايو: کور مې( دې، يې) سپين دی، نو پوهيږو، چې دا د خاوندوالي نومځای نيوي دي او

الف ۱ ۲ – که ووايو: کتاب مې (دې، يې ) واخست، نو دلته دا بيا نوميز حالت دی. دلته بيا د کړوني په ځېر رامنځ ته کيږي. هيله ده، چې په دې هکله به هم کران مينه وال مرسته وکړي، زموږ د خبرو لپاره ال۱ ۱ – غوره دی.

توپير يې: په الف ۱ ۱ – کې د مې، دې ، يې پسې خويوی راځي يا کړنوی پسې نه راځي او په الف ۱ ۲ – پسې بيا کړنوی راځي، چې له دې څخه يې توپير کېدی شي.

الف ۲ – همداسې د داتيو لپاره هم دا لاندې نومځاينيوي لرو:

(c) ketabton.com: The Digital Library



،،را، در، ور،،، چې ډېرګوني يې هم همداسې دي.

د دې لپاره به يې الماني او انګريزي انډول راوړو او وبه ګورو، چې دا هم همهغسې موخوردي.

ب – ځنګه والي يا حالتونه، که غواړئ پېر.

ب ۱ – د خاوندوالي ځنګه والی يا حالت

انګرېزي نومځاينيوي د خاوندوالي لباره

His yours my

الماني............................

Sein dein mein

انډول پښتو يې د ساده يا نيم – يا خاوندوالي نومځای نيوو سره. دا اوس اوبليکوس حالت بولو.

مې دې يې

پښتو پوره يا ورسره بلد نومځای نيوي يا ځانيز نومځاينيوي

دما دتا دهغه... او نور ( زه زما، ستا نه ليکم، که څه هم په کلي کې يې داسې بولو، ځکه چې ،،د،، د خاوندوالي مورفېم دئ او ټوليز دئ).

يادونه ښځينه او ډېر يې په پام کې نه دي نيول شوي.

My(mein) house( Haus)

کور مې

دما کور

ب ۲ – د داتيو ځنګه والی يا حالت

را - ، در- ، ور - (څخه، سره، کره، باندې، لاندې، کې، پورې، ته، ...)

(c) ketabton.com: The Digital Library



که الماني ته مو پام راوګرځوو، نو دا پورته اړیکویونه ټول د داتیو په څنګه والي کې دي، چې په پښتو کې هم سر ورسره خوري.

له ما ـ ، له تا – له هغه (هغې) –( څخه، سره، کره) او

پر ما ـ، ـتا ـ، ـ هغه( باندې او پورې)، په ما ـ، په تا ـ ، په هغه کې، تر ما ـ ،ترتا ـ ، تر هغه پورې، وتا ـ ، وما – ، و هغه ته

( و....) په کندهارۍ ګړدود کې په روښانه توګه شته

کور مې، ـ دې، ـ یې،

انګرېزي نومځري د داتیو لپاره

him you me

الماي نومځري د لپاره

Ihm dir mir

پښتو نومځري د داتیو لپاره

را در ور

دا پورته، مرستندوی(؟) نومځاینیوي د یو او ډېرو لپاره هم دي او ټیک همهغه د الماني او انګرېزي په څېر د داتیو حالت ښایي او دا لاندې یې بل ډول دي.

له ما له تا له هغه او نور

د حالتونو څېړني له مخې پای لاس ته راړنه او ګومان مې دی، چې داپرېکړه ـ که راسره ومنل شوه – نوې وي .

څلورم: پښتو ژبه لږ تر لږه د داتیو حالت کې یواځې پسې ځای نیوي، پسې ایکویونه یاپوستپوزېشنونه لري.

څه پوهېږو، چې دا پوستپوزېشنونه دي؟

لکه لږ تر لږه زه په ې اند وم، چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا له.... (څخه، سره ...) او همداسې دا په... کې او پر...باندې، تر ... پورې او نور سنترپوزېشنونه دي، خو داسې نه دي؟

هغه اړيکويونه چې د را، در، ور سره راځي، برېښي چې پوستپوزېشنونه دي.

نو دا له، په، تر او نور نو بيا کوم ژبني توکي يا ژبني څه دي او همداسې خپلواکه ترېيپوهېدنه هم نه لري. دابه روښانه کړو. دا يواځې د يوه نومځري سره پرېيوهېدنه لري يا يې په واک کې دي او بس.

که منلي مو وي، چې ،، د ،، د خاوندوالي مورفېم دی او له مې، دې، يې څخه همداسې برېښي، نو دلته هم دا ،، له، په، پر، تر... ، د داتيو حالت مورفېمونه دي او يا د ما، دتا، دهغه، ... سره يوځای داتيو حالت ورکوي.

بل لامل يې دا دی، چې دا له او نور په را، در، ور کې دننه يا خوندي دي.

يو څو بېلګې:

له ما( -تا،-هغه....) څخه ولاړ. را (در، ور) څخه ولاړ.

تر تا پورې درورسېد. درپورې در ورسېد.

يادونه: که دا سم وي، نو ګورو، چې تر موږ تل ناسم او زيات کاروو.

پنځم: له الماني، انګرېزي څخه مو د اديوزېشنونو په پخوانۍ بڼه ناسم پښتو ژباړلي دي يا لږ تر لږه ما، داچې دا له، په ، پر، و، تر نو په الماني او نګرېزي دا سې نه دي؟

ما تراوسه پورې داسې انګېرل:

١ – له... څخه، يا ځانله له vor; from

٢ – تر يا تر ...(پورې) bis; until

غونډالي د ،، را،در، ور،، نومځاينيوو سره او ور څخه نوې روښانه ونه.

سپين په ١٠ بجو درڅخه راړوان شو او په١٢ بجو را پورې راورسېد

سپين په لسو بجو له تا څخه راروان شو او په ١٢ بجو ترما پورې راورسېد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا پورته ،، له تا،، د ،، در،، په ځای او ،، ترما،، د ،، را،، په ځای دی، نو دا ،،له،، پرته له،،تا،، او ،، تر،، پرته له،،ما،، څخه کومه بله ترې پوهېدنه نه لری، دا په دې پرېپوهېدنه چې بلواک دي، څخه او پورې اړیکویونه دي. بیا دا ،، له،، او ،، تر،، اړیکویونه نه دي، لکه تراوسه پورې مې یا ښایي چې اندل.

٣ – په... کې im, in

۴ – پر.... باندې یا پر auf, of

۵ – و....ته zu, to

۶ – له .. سره mit, with

د Vor, bis, in, auf, zu لپاره د پښتو انډول دي:

څخه، پورې، کې، باندې، ته

یوه بېلګه: سپین راڅخه در روان شو او په لنډ وخت کې درپورې در رسیږي.

شپین له ما څخه و تا ته در روان شو او په لنډوخت کې به تر تاپورې ذرورسیږي.

دلته دې اړوند دې ته هم پام راواړول، درواړول، ورواړول شي، چې دلته لکه راغی، درغی، ور غي هم شته.

داد څېړلو خوندیونه راته پېچلې، خو له ردولو یا مخامخوالي راته ازاده یا خپلواکه برېښي.

بیا لنډ: که ،،له، تر، په، پر،، ، خپلواکه پرېپوهېدنې نه لري او د د نومیز نومځاینیوو سره د نومیز حالت بدلول خوندي لري، چې دلته یې لاس ته راوړنه، د خاوندوالي او داتیو حالتونو څرګندونه ده، دا په دې ترېپوهېدنه، چې بیا: له دوي سره دا حلاتونه بدلیږي.

هیله ده، چې پر دې باندې به یو له بل سره ګرمې خبرې ولرو.

یادونه: دا لږتر لږه رد نه شو، نو بیا به دا ورسره لیکم، چې له تاسو په کې د ردولو څه نه وو یا منل شوی.

ستونځې په کې شته، خو د ستونځوبیو لپاره هم په پیداښت کې پیداښت لارې ورکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د تاسو د سرېي سینې ښخه ډېره مننه.

یادونه: په یوه لیکنه کې به بیا په رکتیو، اوبلیک او نورو ځرنګوالو یا حالتونو هم سره وغږېږو.

په پښتو ژبې کې اینکلیتی نومځاینیوي هم شته، چې دا به هم د پورته نومځاینیو ، چې ما د ښځه والي نومځاینیوي بللي پوره خبرې وکړو.

بېلګې يې، ځم، ځو ... خورم او نور، چې يواځې د کړنوي پسې تړلي یاورسره وېلي شوي ډول راځي او پوره يوويېزه غونډاله راکوي. دا په فارسي، پروتګالي او نور ژبو کې هم شته، چې زه به يې دهغو سره سر او کار ونه لرم.

د ما برېښنا پته:

Smakhan1946@gmail.com

.

ډاکتر ماخان مېرې شينواری

# ګرانو ژبپوهانو! راځئ په ګډه يې وڅېړو.

دلته هغه بنسټيزې ليکنبرخې ډېر لنډ:

لومړی: را( در، ور) ښځه(-سره،-کره، - کې، - باندې، -پورې، - ته او... نور مې فکر ته نه راځي)

= دويم: له ما سره(-ښځه، - کره)، په ميز کې، پرميز باندې، ترتا پورې، وهغه ته. نورو ته يې فکر کولی شو.

د لومړي او دويم له پرتلې ښځه لرو: را( در، ور) = له ما (له تا، له هغه). په ميز = ور، پر تا = در، ترهغه=ور، وتا = ور.

له پورته ښځه لاس ته راځي: له، په، پر، و، تر، کومې خپلواکې پرېپوهېدنې نه لري او يواځې د نوميزو نومخاينيوو سره ګډ يا د هغو دمختړو په ښېر حالت ياحالتونه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوښتنه: دا د الماني سره په پرتله داتيو حالت دئ. ايا په پښتو کې هم داتيو حالت دئ او که دا هر يو يې ځانله ياځنګه؟؟

نو اوس داپه دې پرېپوهېدنه چې: دلته دا اړيکويونه دي: سره،څخه،کې،باندې، ته، پورې، نور مې فکر ته نه راځي.

دا اړيکويونه په دې برېپوهېدنه دي چې  پوستپوزېشنونه يا پسېځاينيوي دي.

او له انګريزي سره په برتله:

ناسم دي چې: له...څخه (سر،کره)، په... کې، و...ته، تر...پورې او نور سرکومپوزېشنونه دي او  هغه د انګرېزي  from, with, until = څخه، سره ، پورې او نه له...څخه، له... سره، تر... پورې. يا له، تر.  دا نور تاسو وليکئ، چې ناسم يې ونه ليکم.

دا د لومړي ځل لپاره داسې ليکنه مې لږ تېروخت غزېدلې څېړلې ده، دا چې سره باوري شو، نو ستاسو ليکنو ته سترګې په لار يم، فکر په کې وکړئ.

# کړنډولونه او بدلونونه يې او همداسې  ور سره د نومځاينيوو بدلونونه.

دا په دې پرېپوهېدنه، چې  کړنويونه ټولګيز دي او بايد ټولګيز شي.

دالاندې ټول هغه څه دي، چې که څېړلشوې وي، ځو ډېر ښه او که نه، نو دايې بنسټيزه ليکنه او پيل دی، چې نوره بايد روښانه شي او روښانونه يې يې په ګرانو مينه والو لوستونکو او د ريښې خاوندانو باندې وي.

د پښتو په کړنو کې نه دا چې د کړنويونو بڼه بدليږ، په پښتو کې د کړنويونو په بېلا بېلو وختونو کې نومځاى نيوي هم بدليږي او دا څنګه، په کوم ډول کړنويونو کې او څنګه؟

دا پوښتنې هم بايد وڅېړل شي. داسې پيل کوو:

و لاندې ته يادونه: له دې فکر سره مخ شوم او ومې غوښتل له لتاسو سره يې ګډ کړم، چې يو له بل سره مو مرسته کړې وي. کېدى شي دا کار تاسو لا د مخه کړی وي. که مهالونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



او نومونه يې را څخه سم ونه ليکل شو بخښنه دې وي او تاسو يې سم کړی، چې همدا له اوسه مو د مرستې مننه.

زه به دا ويونه داسې وبولم: دا هم د الماني په مرسته، خو د پښتو ژبلار لپاره.

۱ – ناځواکمن کړنوييونه: هغه ويونه، چې خپل بنسټ ساتي او د وختونو سره بڼه بدلوي، ناځواکمن کړنوييونه بلل کيږي.

۲ – ځواکمن کړنوييونه: هغه ويوونه چې پوره بڼه نه ساتي او په يوه لار بڼه بدلوي، خو ټوله بڼه د ناځواکمن وييونو په څېر نه ساتي، خواکمن کړنوييونه بلل کيږي.

۳ – بې لار کړنوييونه: هغه ويونه، چې سوچ بوچ لار نه لري، بېلارې کړنوييونه بلل کيږي.

دا ټول وييونه دې ګران لوستونکي په ټولګيو د وېشلو وروسته سره ټولګيز وليکي.

بېلګې:

بېلګه و ۱ – ته: درېدل:

اوسمهال: درېږم، درېږې، درېږي او نور

روان اوس مهال: درېدلی يم، درېدلی وې، درېدلی وو او نور

تېر مهال: درېدلی وم او نور

راتلونکی: وبه درېږم، وبه درېږې، وبه درېږي او نور

درېدم، درېدې، درېده او نور

بېلګه و ۲ ته: خوړل

اوسمهال: خورم، خورې، خوري.

روان مهال: خوړل مې. خوړل دې، خوړل يې، خوړل مو

اوس تېر مهال: ومې (ودې، ومو، ويې) خوړ، خواړه يا خوړل

(c) ketabton.com: The Digital Library



تېر مهال: خوړلي مې(دې، مو، يې) وو.

راتلونکې: وبه يې خورم(خورو، خورې، خورئ، خوري).

پوښتنې ته په ځواب کې ؟: خوړلې مې (مو، دې، يې) دي(وو).

بېلګه و ۳ ته: تلل:

اوس مهال:ځم، ځې، ځو، او نور

اوس مهال: لاړم، لاړو، لاړې، لاړئ، لاړه، لاړل، لاړه، لاړې(لاړلې)

روان مهال يا څنګه مهال؟؟؟: اوس تېر مهال:تللم، تللو او همداسې نور.

تېر مهال: تللى وم ( وو، وې ... او نور)

راتلونکى مهال: لاړ به شم. او نور

-؟ تللى به وى.

دا پورته ګوره درې ډوله کړنويونه راغلي. دابايد ښه روښانه شي، چې داويونه څه بلل کيږي او دا ژبلاريز بدلونونه يې هم بايد پوره وڅېړل شي. هغه بنسټ يې دا پورته دى.

په پورنه نومځاينيوو کې موږ ځانيز نومځاينيوي نه دي کارولي يا نه کاريږي او که څنګه؟. د دې ډول نومځاينييو لپاره دڅېړنې او بللو بل ځاى شته. هغه ورته وګورئ.

يادونه: دما د پښتو ژبلار د ښوونځي لپاره ليکنه کې کېدى شي دا نور ډولونه راغلي وي،او که نه، نو ورزيات به يې کړم او تاسو يې هم پوره کولى شئ.

## يوه بله ستونځه:

په پښتو ژبلار کې له يوې بلې ستونځې سره هم مخامخ شوم او هغه دا چې. ځنې خويويونه داسې انګېرل کيږي، چې ګوندې کړنوييونه دي، چې له تاسو سره يې ګډوم:

موږ خويويونه لرو او پوښتو، چې د دې خويويونو سره يو څه څنګه ابادوو:

(c) ketabton.com: The Digital Library



خویویونه: سپین، رنګه، ښکلی، جګ، خراب، جوړ، ټیټ.

یوه څه ته خوي ورکړه څنګه کیږي؟

که یو څه غواړې ښکلی کړې، نو دا ښکلي کول دي. خویوېی + کول

که یو څه غواړې خراب کړې، نو دا خرابول دي. خویوي + -ول

خراب، خرابول او که خراب کول؟ نابلد خو په ژبلار برابر.، سپین، سپینول، که سپینکول، رنګ کول او که رنګول. ښاېسته او ښاېستول او که ښاېسته کوم، خو ښکلي ښکلي کول، چې ښکلویل ورسرهسم نه راخي او کهښه نه برېښي؟ نور دې ګران مینوال سره جوړ کړي.

یو نوم او یا شي ته یو خوي ورکول:

په ځنو خویویونو پسې ول زیاتیږي. داپه دې پرېپوهېدنه چې خوي وی + ول

او په ځنو پسې بیا کول ورزیاتې، دا په دې پرېپوهېدنه چې: خوي وی + کول

دا ځانګړنې دي او که باید یوې لار ته سره راوړل شي او ایا دې کې هم یوه لار شته او که توکلي همداسې دي.

رنګ کول

رنګول او رنګ کول.

ښکته کول، پورته کول

ټیټول جګول

دا هم فکر ته راځي، چې ګوندې دا به همغه لار وي، چې په ځنو ځایونو کې دا د کول ،، ک ،، نه لیکل کیږي، خو زه پرېکړه پرې نه شم کولی او مشوره مو غواړم.

له بلې خوا په پورته کې یو توپیر په دې کې شته، چې دا لومړی خویوی په ،،ه،، پایکیږي او دا بل بیا په بېغږیزه توري پای مومي. دا دې نو ګران ژبمینه وال سره و څېړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډاکتر ماخان میږی شینواری

## دما په لیکنو توند تنقید

دماپه لیکنو د یوه – ګومان مې دی ـ ځوان هیوادوال شکایتي، تنقیدي، په ناسمو او په ستونځمن ډول پرېپوهېدنو غونډالو کې کړې وه، چې د منلي او درانه د دعوت د ملي پاڼې خپروونکي او خاوند بزګر صیب څخه مې دا لیکنه د لاسه کړ.

له تاسو سره یې اوس ګډوم:

،، سلامونه او نیکې هیلې شینواری صاحب

د روغتیا او سلامتیا په هیله

یو ورور ستاسو د لیکنو یا یوې لیکنې په اړه یو څه راته لیکلی چې تاسو ته یې درلیږم

درنښت

بزګر،،

،، ګران بزګر صاحب سلامونه او نیکې هیلې ، هیله ده څه تولې درنې کورنۍ سره دې راته جوړ اوسې .
قدرمنه زه په صفت د یو پښتون یو وړاندیز درته لرم هغه داسې ایا ستاسو تر اوسه د ښاغلی ډاکټر ماخان میږی شینواری لیکنې تر پایه مو لوستلې دئ ؟
دغه لاندې مطلب یو ځلې یې ولولې او په څنګ کې د دې املاء او انشاء هم وګوري .
یو څوک څه خپله پښتو په درست شکل لیکلی نه شئ نو هغی ته ښه نه بریښي څه انتقاد هم وکړئ .
تر اوسه د دې بیچاره د یاګانو لیکل نه ده زده او بې ځایه انتقادونه کوي .
دی تر اوسه د اوبلن او بهیدونکی توپیر نه شی کولئ . نو بهتر دا ده څه لمړی خپله املاء او انشاء درسته کړي او بیا دې انتقاد وکړي .
دغه لیکنه یو ځلې په غور سره ولولې او بیا تاسو په خپله قضاوت وکړي او نورې غلطی یې تاسو ونیسي .
ځکه زمونږه پښتانه ځوانان هم په غلطه لار ځي او بیا همداسې پښتو زده کوي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



هیله د ستا څخه دا ده کلڅه د یو چا لیکنه د ستاسو ویب سایټ لخوا خپر وي حداقل یو ځل خو د ستاسو مسول شخص هم ولولي څه سی یې لیکلی دئ .
نور گران وخت مو نه نیسم ، ښه روغتیا او خوښی درته غواړم .

پښتو ته ناسم راننباسل شوي ویونه

ډاکتر ماخان میړی شینواری

لنډ: پښتوته ناسم راننباسلشوي ویونه،، پای

له دې د مخه د یادونو په توګه:

## څنګه د یوه چا په پوهنیزه لیکنه کوتنیونیزه لیکنه ولیکو؟

پوهېږم، چې لیکنې مې ځانګړې دي او په مخامخ به یې هم اندونه شته وي، چې د هر کس دا حق دی، خو ځنې کسان بیا داسي ګوتنیونې لري، چې هغه باید نه وي، بې له کوم پوهنیز دلیل.

که څوک د چا په یوه پوهنیزه لیکنه د سمون لپاره تنقیدي څه لیکي، نو:

۱ – د منتقد تنقیدي لیکنې نیت باید د سمون او ښه کېدو لپاره او له امله وي او له کینې لرې.

۲ – منتقد د لیکونکي لیکنه کې د لوستلو له مخې باید هغه ناسم څه په ګوته کړي او بیاي ورته د سمون وړاندیز وکړي.

۳ – دا تنقید نه دی او ښه نیت هم نه دی، چې څوک ټوله لیکنه باندي- بې له دې چې ناسمونونه یې په ګوته کړي وي- لیکي یا پرېکړه کوي، چې دا لیکنه ګوندې د خورولو نه ده، ګوندې نه دې لیکل او خورېږي. دا حق دې څوک ځان ته نه ورکوي، چې د یو چا څخه هغه پیداښت ورکړي حق اخلي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴ – ځنې کسان ليکي، چې ګوندې نه پرېپوهيږي يا پرې ونه پوهېدم. د دې مسؤليت  هم د ليکونکي په غاړه نه دی او که يوه داسې غونډاله ياوی وي، چې څوک پرې پوه نه شي، نو د هغې په هکله يې پوښتنه مسلم حق دی.

دې پورته ته پای يادونه:

خوښيږم، چې څوک راسره دما په ليکنو کې د سمون او نورې ښې ليکنې لپاره تنقيدونه کوي.

داسې  چې، لومړی هغه ناسمونونه په ګوته کوي او بيا پرېکړه پرې کوي.

اوس راځم د ګران، ګومان مې دی ځوان منتقد توندې تنقيدي ليکنې ته.

دما د خوي له مخې، چې د ګوتنيوونو په ليکنو څه ليکم، نو ټوټه کوم يې، د ساتلې موخې سره، نو داسې پيلوم او د دې ګران ليکونکي د ليکنې سمون باندې پيل کوم:

دا چې دا منتقد ځوان راته برېښي او د ليکنو سره هم داسې لږ نابلده، نو هيله ده چې را څخه زړه بدی نه شي، دا د يوه زاړه سړي د پېرزوينې له امله ده او نه دزړه بدی له امله.

زه به په يو بل پسې د دې درانه ليکونکي ليکنې سمې کړم او په څنګ کې به يې بيا هغه ليکنه وشنم.

ګران ليکنوکی ليکي:

لومړی:  ،،ګران بزګر صاحب سلامونه او نيکې هيلې ، هيله ده څه ټولې درنې کورنۍ سره دې راته جوړ اوسې .،،

سمون: دا دوه پوره غونډالې بايد پوره ليکلې وي، چې د بېلېدنخښې(کوما) ،  له لارې بېل نه شي.

د دويمې برخې سمون: هيله ده، چې له ټولې درنې کورنۍ سره به راته جوړ اوسې. يا

له ټولې درنې کورنۍ سره دې راته جوړ اوسې.

ګران ليکونی ليکي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



دویم: ،،قدرمنه زه په صفت د یو پښتون یو وړاندیز درته لرم  هغه داسې ایا ستاسو تر اوسه د ښاغلی ډاکټر ماخان میږی شینواری لیکنې تر پایه مو لوستلې دئ ؟ ،،

سمون: دا چې لیکي، دا وړاندیز نه دی، دا یوه پوښتنه ده.

د غونډلي سمون: قدرمنه! زه درڅخه د یو پښتون په صفت یوه پوښته لرم او  هغه داده چې: ایا تاسو د ښاغلي.... لیکنې تر پایه پورې لوستلي دي؟ دا بېگانې یې پخپله هم ناسمې لیکلې دي.

گران لیکونکي ته یوه بله یادونه: د یوې لیکنې د سمون او ناسمون جوگه خپله لیکونکی دئ او نه خورونکی. دا دې د راتلونکې لپاره له یاد څخه نه باسي.

گران لیکونکی لیکي:
دریم: ،، دغه لاندې مطلب یو ځلې یې ولولي او په څنگ کې د دې املاء او انشاء هم وگوري .

سمون: دغه لاندې مطلب یوځل ولولی او په څنگ کې یې املا او انشا هم وگوری. دا گوډي الفونه هم یو زیاتی دی. په دې یوه لیکنه لرم، که بیایې ولولي، دا ستونځې به دې هم اوبی شي.
څلورم: ،، یو څوک څه خپله پښتو په درست شکل لیکلی نه شئ نو هغی ته ښه نه بریښي څه انتقاد هم وکړئ .
تر اوسه د دې بیچاره د یاگانو لیکل نه ده زده او بې ځایه انتقادونه کوي .
دی تر اوسه د اوبلن او بهیدونکی توپیر نه شی کولئ . نو بهتر دا ده څه لمړی خپله املاء او انشاء درسته کړي او بیا دې انتقاد وکړي.،،

څلورم ته پوښتنې: دلته به یې د غونډالو سمون څخه تېر شم، چې پورهناسمې دي او  هغه گوتنیونو ته به یې تم شم.

 د لیکنې کومځای ناسم دی او کوم تنقید مې ناسم دی؟ داسې پرېکړه د چا په لیکنه مه کوه چې سم او ناسم یې ورته نه شې په گوته کولی. یو بل ته د درنښت له امله هم. تاسو خو ټولو یېگانو باندې گوډی الف سور کړی. کومه غونډاله یا ،، ی ،، د ما په لیکنو کې ناسمه ده او ولې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



باور وکړه، چې داځلور بېګانې مې د څلورم ټولګي په شاو خوا کې زده وې او اوس هم، دا په دې پرېپوهېدنه چې له شپېته کاله د مخه. او دا د بهېدونکي او اوبلن نو څنګه توپیر نه شم کولی؟ دلیل خو یې راوړه. پرېکړه او تنقید باید په یو څه د پوهېدنې له امله وي، چې ماته یې سم راوښودلی شي. چې یوې لیکنې ته د سم او ناسم له مخې کوم دلیل نه‌شې وړاندې کولی، نو څه مه پرې لیکه، دا لیکنه بیا له فکر یامغذ څخه نه راوځي.

په اوبلن او بهېدونکي خو د مسلک له مخې هم پوهېږم او په ځای کې مې واورې هم وریږي. تهیې نو ناسمه کارونه ولې نه په ګوته کوي؟ ایا د فزیک له مخې د تودوخښ په بنسټ تنونه پېژني، چې په څو ډوله او کوم دي؟ ( بیا هم بخښنه، چې راڅخه زړه بدی نه شی)

مشوره به دې ومنم، خو د لیکنې کوم ځای ناسم دی، چې سم یې کړم او که موخه دې دا وي، چې ولې دا لیکنې کوم، نو دا لوي څښتن راکړی حق راڅخه مه اخله.

ګران منتقد لیکي:

۵ - ،، دغه لیکنه یو ځلې په غور سره ولولې او بیا تاسو په خپله قضاوت وکړي او نورې غلطی یې تاسو ونیسې .،،

کومه لیکنه؟ تا خو هېڅ ناسمون ته هم ګوته نه ده نیولی. ته چې د چا لیکنې باندې د ناسم تور لګوې او بیا ورته دا ناسم نه په ګوته کوې، دا خو نو اخلاقي هم سم کار نه دی. بل ته مشوره ورکوي، چې ناسمونونه یې ونیسې، داکار پخپله ولې نه کوې؟

ګران منتقد بیا لیکي:

۶ - ،،ځکه زمونږه پښتانه ځوانان هم په غلطه لار ځي او بیا همداسې پښتو زده کوي.،،
۶ — ته: د دې ناسمې لار مخه یې ته هم نیولی شې، چې بدې راووهې، څېړنې وکړې، دما لیکنې بیا، بیا وګورې، په سمون او ناسمون یې ځان ښه وپوهوې او بیا یې ماته دا ناسمونونه په ګوته کړې، زه خو بیا لیونی نه یم یا زوروړ، چې سمونونه دما د ناسمونونو په ځای نه شم زغملی او نه به یې سموم او که نه، نو بیا ته هم کولی شې، چې د سمون لپاره هم لیکنې پرې خورې کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



منتقد لیکي
۷ ـ ،، هیله د ستا څخه دا ده کلځه د یو چا لیکنه د ستاسو ویب سایټ لخوا خپر وي حداقل یو ځل خو د ستاسو مسول شخص هم ولولي څه سی یې لیکلی دئ.،،

۷ ــ ته: سمون: له تاسو څخه هیله ده، چې د یوه چا لیکنه دتاسو له خپروني(ویب سایټ) څخه خوروی، لږ تر لږه یې تاسو د یو مسؤل شحص په څېر ولولی، چې څه یې لیکلي دي؟

پورته مې لیکلي، چې د یوې لیکنې مسؤلیت د لیکونکي په غاړه دی او یوه بل مسلکي کس ته هم ، چې په سلهاوو یا زرهاوو لیکنې یې خورې کړي مشوره، چې لاس او پښې نه لري، مه ورکوه او خپله پسې پیڅې رابډ وهی. دا چې په لیکنه دې لږ تر لږه دوه کسان ستړي کوې، ښه به وي، چې ځان پرې ستړی کړې، چې دوه ګټې به وکړې: ځان پوهونه او ځان ډاډه کونه او نه د بل ستړیکونه.

په پای کې د منلي بزګر صیب څخه هیله لرم، چې له ما او دما له لیکنو څخه او له امله د نورو داسې کوتنیونو له خوا هم ستړی نه شي او له دې ځوان څخه هیله ده، چې راڅخه زړه بدی نه شي. دما هېڅ وخت دا نیت او غوښتنه نه ده، چې څوک دې راڅخه زړه بدی شي.

## د پښتو څنګه والي، پېر یا حالت ته د مشورې لپاره.

د الماني ژبلار په مته یا مرسته دا څنګه والي (پېرونه،حالتونه) د پوښتنو په مرسته په لاندې توګه روښانوو:

۱ ــ نومیز څنګه والی:(څوک، چا )، (څه)

۲ ــ د خاوندوالي څنګه والی: ( د چا، د څه)

۲ ـ داتیو څنګه والی: ۱ = (له چا) ، ( له څه)،۲ ـ (وچا)،(وڅه) ۳ ــ ( په څه)، ۴ ـ ( پرڅه).

دلته دې پام او خبرې پرې وشي، چې دا څنګه ونوو، یا نومول شوي( که وي) . دې نور کې ـګومان مې دی- ستونځې نه شته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴ – اکوزاتیو څنګه والی: ( چا، څوک، څه)

ګورو، چې ۱ – او ۴ – یو ډول د څو ۱ – د کړوني په څنګه والي او ۴ – د پرېکړوني یا نه کړوني په څن؛ه والي کې دی.

پوښتنغونډاله جوړوو:

څوک له چا سره د چا له کور څخه د چا وکور ته لاړ او په څه کې پر څه باندې څه یې د څه پرسر کېښود؟

(سپین) «۱» (له تور)«۲» سره (د تور) «۳» (له کور)«۴» څخه (د ځلمي)«۵» (وکور) «۶»ته لاړ او (په کوټه)«۷» کې ( پرمېز ) «۸» باندې (کتاب)«۹» یې د چوکۍ ( پرسر)«۱۰» باندئ کېښود.

د الماني ژبلار له مخې به «۱» نومیز، «۲»، «۳»،«۴»،«۵»، «۷»،«۶»،«۸»او«۱۰» داتیو، «۳»،«۵» واکوالي او «۹» اکوزاتیو حالتویونه یا پیرونه او که غواړۍ حالتنه دي.

که ټول سره مرسته وکړو او دا پورته سره همغږیز کړو، نو زما په اند به مو د پښتو ژبې یو څه ستونځې اوبې کړې وي.

یادونه: ما چې دا پورته د حالت لپاره څنګه والی لیکلی، باور وکړۍ، چې دا حالت هم راه پیچلی برېښي، چې لهعربي بهسم وي او که نه او پرته له دې په دې پېر هم نه پوهېږم، چې دا به حالت ته وایې او که څنګه. که دې کې هم هر څنګه پرېکړه وي یا وه، نو یو کار به مو سرته رسولی وي.

زما برېښنا پته:

Smakhan1946@gmail.com

پای یادونه: هره لیکنه د سمون، ورزیاتوني او ښه کوني اړتیا لري. ګران ژبمینه وال دې هم دې ته فکر وکړي. ولولی، ناسمونونه ترې راوکاږۍ، ویې غزوي. که تاسو هم لیکنې کړې وي او دا هم په هغې لور یوه لیکنه وي، نو دا هم هماسي وي. په یوه موضوع په لسګونه کسان لیکنې کوي، دا د ژبې پوره کېدنه ده او نه زیان.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ولس ژبه، که -په پوهنه کې ورځنۍ شوې- پردۍ ژبه؟

موږ په ولس کې- داسې به ووایو چې – له پیدابښته غونډاری او غونډوسکه لرو. داروښانه کوو، چې داځه شی دي، لکه د نړۍ د نورو ژبوپه لکسیکونو کې چې روښانه شوي دي.

غونډاری:

یادونه: شمېرپوهنیز فرمولونه نه راوړو.

په ځمککچپوهنه کې غونډاری د غونډارۍ هوارې او غونډارې تن یا بدن لپاره کارول شوی نوم دی.

---

-غونډاری یوه هواره لري. ګوډونه او کونجن نه لري او ناپای ډېر اړخونه اړخونه لري( د ګردیو کرښې).

- هغه خپل منځ ټکي ته سیومتریک ده همداسې محورسیومتریک، که محور له منځټکي تېر وي.

- د غونډاري لویه ګردۍ هغه هواره ده، چې د غونډاري له منځټکي تېریږي. د هغې ګردۍ نیمی د غونډاري نیمی ده او لویه ګردی غونډاری هم نیموي، نو غونډاري نیمی یې بولو.

- غونډاری د یوه تن په څېر سوچبوچ د غونډوسکې بڼه لري.

- کوچنۍ ګردۍ ټولې د غونډالې منځ کې هغه کردۍ دي، چې په غونډاري کې د لویې ګردۍ کوچنۍ دی.

- د غونډاري ټوټې یا غونډاري غوځې شوې ټوټې هغه تنونه دي، چې د وېشنې له لارې د لوي او کوچنۍ ګردي د ټوټونې منځ کې پرتې دي.

- که د غونډارې ټوټه نیمه غونډاری وي، نو سرۍ د نیمغونډاري غرېږي.

- د غونډاري ډکی د هغې د هوا یا فضا منځپانګه پېژندل شوې، هغه چې د غونډاري د پاسهوارې لخوا رابنده ده.

بل غونډارې ته ورته بدن یا تن

---

(c) ketabton.com: The Digital Library



غونډوسکه.

غونډوسکه له څرمني یا له مصنوعي (نه پیداېښتي) موادو څخه یو ګرد، په ورسره بلده ډول غونډارېډوله، ایلاستیکي لوب اله یا سپورت اله ده، چې موږ به له رینجاړو جوړوله. د غونډوسکو په څنګ کې د کلکو موادو جوړ لوبغونداري هم شته، لکه لرګی یاوسپنه او نور.

د پېژند له مخې غونډاری او غونډوسکه ورته ځمککچیز تنونه دي، چې د لوبو بېلا بېل الات هم لري.

**په ورسره بلده یا نورماله توګه غونډوسکې له هواډکو پوښونو ډکې وي، چې د پمپولو له لارې د یوه ټاکلي زور لاندې ډکیږي. ځانګړې یې د بېلګې په توګه د هاکي او د ګلف غونډوسکې دي.**

---

دموږ موخه:

دموږ د ټولو پوهنېزو څانګو ټول مسلکي یا ریښه اړوند ویونه زیات یې عربي او ځني یې فارسي دي. په دې خبرې نه کړو، چې ولې. د ټولو هغو وییونو، چې هغه په دغو پردیو ژبو کې پیداېښتي شتون ولري، هغه هرو مرو په پښتو کې هم شته دی.

که موږ – لکه په نورو ژبو کې چې شوی- خپل یو نوم یا یو څه څېړو، نو دا سې مخ ته ځو یا باید لاړ شو، لکه دا د نورو ژبو ویونکي.

موږ به یې دلته یواځې دوه بېلګې راوړو.

اوس مو موخه دا ده، چې دا نو ولې کرة وبولو او همداسې په ځمککچپوهنه کې دکرې لپاره، چې بېرته همدا غونډوسکه ده یا غونډاری، غِونډوسکه یا غونډاری ونه لیکو. نور پوهنیز ویونه هم همداسې. موږ او تاسوخو به هم یو خت کې په لکسېکونونو کې دا خپل وییونه او نومونه داسې په شننیزه توګه روښانه کوو، چې یو شی څه شی دی.

د غونډاري بېلګې: د نسوارو غونډارې، باغکې، دلوبو غونډاري هم شته، چې غورځولکیږي او یوې ټکلي موخې ته د نږدېکېدو سره یې کټونکی څرګندیږي یارروښانه کیو او که غواړئ معلومیږي. همداسې مردکی، چې موږ به غوزان په کټل او یا چورلټی چې له لرګي به جوړه وه.

د غونډوسکي بېلګې: د موږ د هیواد په پېلابېلو ځایونو کې د لویو لپاره کارولکیږي. په لرګي وهلکیږي، په دیوال یې ولي او نور. موږ به دا له رینجاړو جوړولې، یاښه یې په کور کې به راته میندو او نورو خپلوانو داسې ګردې ګنډلې. نورې بېلګې: د پښو غونډوسکه. د والیبال غونډوسکه او همداسې د هاکي او نورې د لوبو غونډوسکې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ایا موږ هم دا د هاکي او جلف کرې وبولو؟

داپورته تنونه مو چې یاد کړل، دا ټول باید بیاکرة وبلل شي، چې د ولس لپاره دپوهېدنې لپاره به پوره ستونځمن او دلیک کسانو لپاره به پوره نابلد یا ترې تېرېدونکي وي، چې ګوندې داد ژبې غنا ده، خو دا د ژبې په خپلو ویونو ناتوانول دي، چې په پای کې باید له منځه لاړ شي.

خبره په ښه او بد کې نه ده، خبره په اړیینوالي کې ده.

دا به ښه برېښي، که ووایو، چې د غوزانو ګټلو کرة؟

د پښو لوبو کرة، چې عربي یې کرةالقدم دی.

یوه غونډوسکه چې د ،، باسکټبال،، لوبه پرې کیږي، د باسکټبال کرة وبولو یا کرة؟

او همداسې د غوزانګټلو مردکي په ځای د غوزانګټلو کرة ووایو یا ولیکو او یا د نسوارو کرة یا دانورې د لوبو کرې او که څنګه؟

اخرئ پوښتنه: ولس دې له دې پیداښت ورکړشوو نومونو څخه تېر شي او که دا د لیکلوست خاوندان دې، چې تراوسه – په خواشینئ باید ووایم – لا دومره ډېر هم نه دي او دا کار هم ورته ساده دئ، تېر شي؟

زه په دې اند یم، چې دا راته هرڅه ساده کوي، خو پوهېږم، چې له زده کړو څه څخه تېرېدل هم پوره ستنونځمن دي.

که چېرې دا کار - چې باید له ښونځیو پیل شي- کېده نو هرو مرو به پنځه کاله وخت ونیسي، چې په هغو کې دواړه نومونه وکارول شي او بیا نو پښتو نومونه پاتې شي.

ستاسو د ستړیکېدو بخښنه به راته کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ژبه نه سوچه کیږي، د ښې پرېپوهېدنې له امله

څه په کې وایی؟

دا خو داسې چرتونه دي، چې را ولاړېږي.

ځوک چې په خپله ژبه کې د یوې بلې ژبې وي په انډول نه پوهیږي، پوښتي، چې د دې وي لاندې څه پوهېږئ؟ یا له دې وي څخه څه پوهیږو؟ او یا هم د دې وي ترېپوهېدنه به څه وي

او ځوا ب به یې وي، چې:

د دې وي پرېپوهېدنه ..... ده.

یا له دې وي ترېپوهېدنه .... ده.

یا د دې وي لاندې ... پوهېږو.

ګومان مې دی، نه! همداسې دی، چې له دې سره به مو د معنی یامانا ستونځې اوبی کړې وي، چې په څه رنګ لیکلو کې یې تل زموږ د لیکوالانو او هغه په عربي پوه کسانو منځ کې دا د څه رنګ لیکلو ستوځوبیو لار مېندلې وي.

دا هم ګوره له ما پیدا شوی وی نه دی، دا هرو مرو له پیداښنته راسره دی، خو موږ یې په ځای معنا یا معني کاروو.

که ځوک معنا کاروي هم خوښه یې، خو دا ترې – یا پرېپوهېدنه مو د معنی لپاره انډول دي او کومان مې دی، چې ښه او هغه خپله موخه هم روښانه کوي.

چې غوټې پسې وهې، نو دا هم میندلی شي.

.

.

.

.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ډاکتر ماخان میږي شینواري کتابونو ته کتنه

د ډاکتر ماخان شینواري پوهنیز کارونه، ځانګړي دي، دا په دې مانا چې د نورو پښتو لیکنو سره د پښتو ژبې له مخې پوره توپیر لري او سوچې بوچې نوې دي. په لاندې ډول:

۱ – ډاکتر شینواري نږدې څلوېښت کتابونه د شمېرپوهنې ریښه کې په پښتو کړې، دا په دې مانا، چې د عربي ویونو په ځای یا یې نوره هم ښه د مسلکي نومونو انډول پښتو ویونه لیکلي.( دا انډول نومونه په پښتو کې شته، جوړ شوي نه دي)

۲ – په دري کتابونو کې یې فزیک هم په پښتو لیکلی، دا په دې مانا، چې پوهنیز او مسلکي ویونه په پښتو دي، چې دا هم د پښتو ژبې له پاره لومړی ځل دی.

۳ – دوه کتابونه د ژبې په هکله، چې هلته هم د نورو لیکوالانو د لیکنو د سمون سره سر او کار لری ، چې نوموړی په کې تراوسه ځانله دی، لکه په دې نورو لیکنو کې هم. ملامتي به د نومړي وي، خو وایي، چې کړنې یې د ژبلار سره سمې او سم اندیزې دي.

که ژبسمون، چې بیا هم ډېر غزېدلی او چاپ ته چمتو دی، هغه ویونه د څېړنې لاندې نیولي، چې ناسم ژبې ته را ننباسل شوي.

۴-دوه کتابونه ۴ ۱ – پښتو ژبلار د ښوونځي لپاره به په لنډ وخت کې خوره او

۴ ۲ – د ژبې په چوپړ کې به هم لنډو ورځو کې ستاسو لوستلو ته وړاندې شي.

زما زیاتې لیکنې له پخوا په ټول افغان او اوس همداسې هغه زیات یې د تاند په خپرونه او د دعوت خپرونه کې خواره شوي او نور هم دا کار پسې روان دي.

او کتابونه په کتابتون.کوم کې خوریږي، چې هلته یې بیا د کتاب په بڼه لوستلی شی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ډاکتر ماخام ميږي شينواري ليکنې او ژباړې

د ډاکتر ماخان شينواري چاپ او ناچاپ ليکنې، چې هغه زياته برخه يې له ketabton.com څخه خواره شوې:

:(Vienna (Austria 1988

لومړی:

topological Kaiser , M. Shinwari : Aproximation compact .H.K
Page 117 – 122 ; general algebra 6 algebra : contributions to

:(Vienna (Austria 1987

دويم:

لومړی-und Aproximation durch Polynime in Universalen Interpolation
Diss . Uni. Wien . Algebren

دويم-*and Aproximation by Polynome in universal Interpolation*
*the University of Vienna/Austria Dissertation at ,Algebras*

لاندې د شميرپوهنې پښتوټول کتابونه په المان کې د ،، افغانستان کلتوري ودې ټولنه،،له خوا چاپ شوي دي
:(Bonn (Germany 2000

دريم: د شميرپوهنې ستر کتاب : د شميرپوهنې برسيره د انجنري، فزيک او اقتصاد لپاره ، همداسې د ښوونکو او زده کوونکو لپاره ( دا کتاب په ۹۰۰ مخونو کې چاپ او دا نوې ليکنه به يې څنو ځايونو غزېدلې او څنې ځايونه ترې لرې شوي دي)
:(Bonn (Germany 2003

څلورم: څمککچپوهنه( هندسه) ، په سلو، زرو کې شميرنه، د ګټې – او کټې د کټې شميرنه ، د اختمالوالي شمېرنه کتاب د ښوونځې ټولې اړتياوې پوره کوي
:(Bonn (Germany 2003

پنځم: الجبرونه ( د الجبر بنسټونه دي) ( ketabton:com ته پورته شوی)

(c) ketabton.com: The Digital Library



:(Bonn (Germany 2003

شپږم: د شمیرپوهنې انګرېزي – پښتو ډکشنري.( ketabton:com ته پورته شوی)
:(Bonn (Germany 2003

اووم: د شمیرپوهنې الماني - پښتو- او پښتو الماني ډکشنري ( ketabton:com ته پورته شوی)

*dictionary German/ Pashto and Pashto/German Mathematical*
:(Bonn (Germany 2003

اتم: دفرنځیال برابرون ( دا کتاب په دې ځانګه کې یو پیل دی، ساده لیکل شوی) ( ketabton:com ته پورته شوی)

*equation Translation; An Introduction Differential*
Germany): 2003) Bonn

نهم: د شمیر پوهنې فرمولونو ټولګه
*Formulas Mathematical*
:(Bonn (Germany 2003

لسم: شمیرپوهنه له عربي په پښتو

:(Bonn (Germany 1997

یوولسم: د افغانستان په هکله سپینې خبرې: په المان کې

،،د افغانستان روغې او بیا ابادولو ټولنه،، له خو

یادونه: له ۲۰۰۰ کال دمخه ډاکتر ماخان شینواري د ،،د افغانستان روغې او بیا ابادولو ټولنه،، له خوا درې سیاسي مجلې هم را وستلې.

ژباړې او نورې لیکنې:

*: (Brinkmann. (From Brinkmann.du.de .Prof*

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاندې د برينکمن ليکنې چې له پرينکمن ن ج څخه ژباړل شوي دي. دا کتابونه د ښوونځي له پاره او همداسې د کانکور ازموينې له پاره ګټور دي.

دولسم - شميرپوهنه د ښوونځي لپاره لومړی ټوک ( ketabton:com ته پورته شوی)

ديارلسم – شميرپوهنه د ښوونځي لپاره دويم ټوک( ketabton:com ته پورته شوی)

څوارلسم – شميرپوهنه د ښوونځي لپاره دريم ټوک( ketabton:com ته پورته شوی)

پنځلسم - د احتمالوالي شميرنه د ښوونځي لپاره( ketabton:com ته پورته شوی)

شپاړسم – احصايه يا ستاتيستيک دښوونځي لپاره( ketabton:com ته پورته شوی)

لاندې کتابونه د شتوتګارت د پوهنتون د استادانو د لکچرونو څخه چې د شتوتګارت پوهنتون ن ج څخه خپاره شوي را ژباړل شوي.

اولسم – اناليزی ۱ ( ketabton:com ته پورته شوی)

اتلسم – اناليزې ۲( ketabton:com ته پورته شوی)

نولسم – کرښيز الجبر ( ketabton:com ته پورته شوی)

شلم - د شميرپوهنې بنسټونه ( ketabton:com ته پورته شوی)

يوېشتم - د فرمولونو ټولګه( ketabton:com ته پورته شوی)

دوه ويشتم – فنکشنل اناليز( ketabton:com ته پورته شوی)

درويشتم – وکتور شميرنه ( ketabton:com ته پورته شوی)

نورې ژباړې

څلرويشتم – له www/grundstudium.info/linearealgebra. څخه:کرښيز الجبر ( ketabton:com ته پورته شوی)

پنځويشتم – Georg Gutenbrunner ګڼونپوهنه يا د اعدادو تيوري( ketabton:com ته پورته شوی)

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما ليکنې
:(Germany) Bonn

شپږويشتم - د شميرپوهنې ستر کتاب دويم چاپ لومړۍبرخه: د پوره تغيراتو سره : دا کتاب د شميرپوهنې برخې برسيره د انجنري، فزيک او اقتصاد لپاره ، همداسې د ښوونکو او زدهکوونکو لپاره پوره ګټور دی. په کتاب کې د اړتيا سره زياتونه او کونه راغلې ( ketabton:com ته پورته شوی)

اوه ويشتم- د شميرپوهنې ستر کتاب دويمه برخه ( ketabton:com ته پورته شوی)

اته ويشتم - څمککچپوهنه ( هندسه) دويم چاپ د پوره تغيراتو سره ( ketabton:com ته پورته شوی)

نه ويشتم – الجبر بنسټونه دويم چاپ له تغيراتو سره ( ketabton:com ته پورته شوی)

دېرشم - ډېرۍ پوهنه يا سټ تيوري ( ketabton:com ته پورته شوی)

يودېرشم – د شميرپوهنې سم اند ( منطق رياضي) ( ketabton:com ته پورته شوی)

دوه دېرشم - د يو څو شميرپوهانو ژوندليک( ketabton:com ته پورته شوی)

دريدېرشم – د شمير پوهنې ګډې وډې ليکنې

څلوردېرشم- داهم ژباړه ده، خو ليکونکی يې متآسفانه راڅخه نابلد شوی: د مشتق او انتيګرال شميرنو ته تمرينونه او اوبيونې يا حلونه يې( ketabton:com ته پورته شوی)

پنځه دېرشم – د شميرپوهنې انګريزې پښتو او عربي + درې ډکشنري

شپږدېرشم – د شميرپوهنې پښتو انګريزي ډکشنري( ketabton:com ته پورته شوی)

اوه دېرشم – د شميرپوهنې پښتو ډکشنري د شميرپوهنيزو ويپونو په پښتو روښانه ونه( ketabton:com ته پورته شوی)

اته دېرشم - د زړه له کومې( دا هغه ليکنې دي، چې څنې يې په نړيول جالونو کې خپرې شوي دي.)

نه دېرشم – د افغانستان په هکله سپينې خبرې، چې وبه غزيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځلوېښتم– د شتوتکارت پوهنتون لکچرنوټونو څخه ، چې د شتوتګارت پوهنتون ن ج څخه خپرېږي: د ګروپونو تیوري( ketabton:com ته پورته شوی)

- د ښوونځي لپاره فزیک د برینکمن لیکنه

له پنځم ټولګي څخه تر اووم ټولګي پورې ژباړل شوی ( دا چې زما دویم مسلک فزیک دی، دا لیکنې ژباړم. دا هم د دې لیکوال یوه ډېره ښه لیکنه ده، چې -د شمیرپوهنې په څیر- دلته هم زیات تمرینونه د حل یا اوبیونې سره په کې راغلي او ماته زیات ګټور برېښي) او دالاندې د برینکن څخه راژباړلي

یوځلوېشتم - فزیک لومړیبرخه ( ketabton:com ته پورته شوی)

دوه ځلوېښتم – فزیک دویمه برخه. برېښنا پوهنه. همدا کتاب. ( ketabton:com ته پورته شوی)

درېځلوېښتم – د پوهنې وزارت له خوا چاپ د ښوونځي شمیرپوهنې کتابونو ته کتنه. دې کتاب کې د دښوونځي کتابونو د هر کتاب یوې برخې ناسمونونو ته ګوته نیول شوې او ناسمونونه بیا سم شوي هم دي.( ketabton:com ته پورته شوی)

څلورځلوېښتم – د فزیک کوچنۍ ویونو دکشنري( ketabton:com ته پورته شوی)

پنځه ځلوېشتم – پرېپوزېشن یا اړیکویونه.( ketabton.com ته پورته شوی)

شپږځلوېشتم = ژبسمون( پښتو کې ناسم راننوتي ویونه، چې سم شوي دي) ( ketabton.com ته پورته شوی)

اوه ځلوېښتم – پښتو ژبلار یا ګرامر ۲۰۲۰ همدا کتاب ( ketabton.com ته پورته شوی)

اته ځلوېشتم – ژبسمون ( که غواړۍ دویم غزېدلي لیکنه) : له پخوانۍ لیکنې څخه نوی شوی او پوره غزېدلی ۲۰۲۰.( ketabton.com ته پورته شوی)

تازه لیکلي خو تراوسه کتابتون ته نه دې پورته شوي او دا د ځانله لیکنو په توګه له درې کاله را په دیخوا د تاند او په دا ورسته کې د دعوت او همداسې د نورو د ج څخه خورېږي او خواره شوي دي. په دې کتاب کې د پښتو ناسم ننوتي ویونه څېړل شوي ناسمونونو ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګوته نیول شوي او په دلایلو روښانه .شوي، چې ژبمینوالو لهپارهیي لوسته او ګوتنیونه اړیینه ده.

نهه څلوېښتم – داسې څه له فلسفې ۲۰۲۰( ketabton.com ته پورته شوی)

پنځوسم – ژبې مرې او نورې لیکنې ۲۰۲۰ ( ketabton.com ته پورته شوی)

دا اوس خورنې ته چمتو: هیله ده چې کتابتون.کوم ( ketabton.com ته پورته شوی) کې یې وکتلی شئ

یوپنځوسم- پښتو ژبلار د ښوونځي لپاره. همدا کتاب

دوه پنځوسم- هر څه د ژبې په چوپړ کې.

.

.

.

.

.

.

.

.

.

.

.

.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ډاکتر ماخان میرېي شینواري ژوند ته یوه لنډه کتنه

نوم: ماخان ( په لومړي ځل یې نوم ،،میرېی،، وو. د رحمابابا لیسه کې نوملیکلو وروسته په ماخان باندې بدل شو)

د کورنۍ نوم : شینواری

د پلار نوم: ارواښاد نورالرحمان

د مور نوم: ارواښاده پستو

د نیکه نوم: ارواښاد حسن خان

د نیا نوم: ارواښاده صبره بي بي

دزیږېدو کال: ډاکتر ماخان شینواری د ۱۹۴۶ ز ک د سپتمبر په ۱۵ نېټه زیږېدلی دئ ( دا خو هغه رسمي ز ک دئ. سمه نیټه یې ۱۳۲۲ او ۱۳۲۰ ش ه کلونو منځ کې باید وي، خو تره مې وایي ۱۳۲۰ ه ک دئ)

د زیږېدو ځای: ننګرهار د شینوارو د هسکې مېنې ولسولي په مورګې کلي کې زیږېدلی.

د مورګی غارخلي کلي کې د لمنځتون استادانو څخه له قرانکریم تر پنجکتاب، خلاصه، مونیه، ګلستان پورې، چې دا مو بیا په ښوونځي هم لوستل، لوستلي، خو بې له دې چې پوره پرې پوه شي.

کلیوالي ښونځي: له ۱۹۵۱ تر ۱۹۵۴ پورې د هسکې مېنې مورګۍ لومړني ښونځي، چې دی یې هم د لومړنیو زدکوونکو له ډلې څخه وو.

د رحمان بابا لېسه : له لومړي او بیا له دریم تر ۱۲ ټولګې پورې له ۱۹۵۴ تر۱۹۶۵ پورې.

دی د رحمان بابا لیسه کې له دریم تر ۱۲ ټولګي پورې د خپل ټولګې اولنمره پاتې شوی.

۱۹۶۶ ز ک د کابل پوهنتون دطب پوهنځي په همدې کال کې

۱۹۶۶ ز ک د سپتمبر میاشت د ښوونځي برس له لارې اتریش ویانا ته تګ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۹۶۶ تر ۱۹۶۷ کال پورې ويانا اړوند مودلينګ کې د الماني يا بنه يې اتريشي ژبې او د ديارلسم ټولګي لوست.

اکتوبر ۱۹۶۷ د وينا پوهنتون کې نوملیکنه، چې د پوره زياتو ستونځو سره په ۱۹۸۹ ز ک کال کې د ډاکترۍ په اخستلو بريالی شو( دا نو پوره ستونځې دي).

له۱۹۸۷ ز ک تر ۱۹۸۸ ز ک د فبروري تر پای د دباندنيو چارو وزارت کې مامور.

د ۱۹۸۸ دمارچ لومړۍ نېټې څخه تر ۱۹۹۲ جون پورې په بون جرمني کې د افغانستان جمهوريت سفارت کې د سفير دندې د شارژد افير( صفر نه وو) د نوم لاندې.

له هغې وروسته په جرمني کې سياسي پناه.

د ۲۰۰۴ ز ک جون څخه د ۲۰۰۵ ز ک جنوري پورې د کابل علومو اکادمي د پيداپښتي پوهنو ځانګه کې دنده.

له ۲۰۰۸ ز ک د مارچ څخه د ۲۰۰۹ زک دسمبر پورې د رياضي ځانګه کې د پوهنې وزارت درسي نصاب کې دنده.

ماخان شينواري بې کاره نه دی او لږ تر لږه له ۱۹ ۹۷ څخه همدا د کتابونو ليکلو او د ژباړې دنده په غاړه اخستې، چې خپل فکر تر شونې پولې پورې تازه وساتي.

ماخان ميړي په ۱۹۷۲ کې له لرې د ميرمن ښاپيرۍ سره واده شوی، چې د واده خبر ورته اتريش ويانا ته ورغلی.

ده د ميرمن ښاپيرۍ سره په ۱۹۶۳ ز ک کې کوزده کړې وه.

دوي ته لوي څښتن په اتريش ويانا کې د مای په شلم ۱۹۷۹ ز ک دوه بچيان وبخښل، چې ځانګه او اباسين نوميږي. ځانګه په المان کې د پوهنتون علمي همکاره وه او د حقوقو ډاکتره ده او اباسين ملي اقتصاد او ټولنيزه سايکولوژي لوستلې.

ډاکتر شينواري ته د پوهنيزو هلو ځلو له امله ستاينليکونه:

۱ ــ د افغانستان کلتوري ودې ټولنه. جرمني

۲ ــ د افغانستان کلتوري ټولنه کولن ميشنيش. جرمني

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library